# د تواريخ دويم کِتاب

## پيژندګلو

د تواريخ په دويم کِتاب کښې د خلقو خُدائ پاک ته واپس راتلل او بحال کېدل بيانيږى او په آخر کښې د ګناه موضوع شکست خورى. په دې کِتاب کښې مونږ په واضحه توګه ګورو چې خُدائ پاک مينه ناک او معاف کوونکے دے، او هميشه خپلو هغه بچو ته هرکلے وائى څوک چې توبه وباسى او هغهٔ ته واپس راځى. د تواريخ دويم کِتاب د يهوداه تاريخ نور هم تفصيل سره بيانوى. او دا د هغه وخت نه څۀ وخت پس ليکلے شوے دے د حضرت عيسىٰ مسيح نه پينځۀ سوه اتۀ ديرش کاله وړاندې کله چې اِسرائيليان د بابل د جلاوطنۍ نه را واپس کېدل. تاريخ ليکونکے د جلاوطنه خلقو د واپس راتلو ډاډګيرنه کوى او د حضرت سليمان عليه السلام د بادشاهۍ لوئى دوباره رايادوى. د کِتاب په زياته حِصه کښې د يهوداه په ګناه کښې د پرېوتلو او د هغې له وجې جلاوطن کېدلو ذکر دے. په يهوداه کښې ډېر خُدائ پرست بادشاهان وُو. خصوصاً د يهوداه بادشاه حزقياه او يوسياه، بيا هم د ګناه په دلدل کښې ډوب شو. خو خُدائ پاک بيا هم خپلو غوره کړے شوو خلقو سره وفادار پاتې شو، او څنګه چې دا کِتاب سر ته رسيږى نو په دې کښې د څو کلونو وقفه راځى او د خورس بادشاه د هغه سند په حقله خبرې کوى چې په کښې يهوديان د جلاوطنۍ نه لوظ کړے شوى وطن ته واپس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغلل. ستاسو د حفظ کولو دپاره ۱۴:۷ آيت ”نو کۀ زما خلق
څوک چې زما خپل خلق دی ما ته سوال وکړی او توبه
وباسی او چې هغوئ کوم بد عمل کوی د هغې نه راوګرځی،
نو بيا به زۀ په آسمان کښې د هغوئ سوال واورم، د هغوئ
ګناهونه به معاف کړم او د هغوئ زمکه به بيا آباده کړم.“

## د حضرت سليمان د حِکمت دپاره دُعا غوښتل

۱ ۱ د داؤد بادشاه زوئ سليمان خپله بادشاهی ښۀ
مضبوطه کړه او مالِک خُدائ د هغۀ خُدائ پاک د هغۀ مل
وو او هغه يې ډېر طاقتور کړو. ۲ سليمان بادشاه هغه ټولو
آفسرانو له چې د زرو سرو او سلو سرو د ډلو مشران وُو، د
حکومت ټولو آفسرانو او کورَنو ټولو مشرانو له حُکم ورکړو،
۳ هغوئ ته يې دا وفرمائيل چې د هغۀ سره په جبعون کښې
د عبادت ځائ ته لاړ شی. هغوئ هلته ځکه لاړل چې دا هغه
ځائ وو چرته چې د مالِک خُدائ د حضور خېمه لګېدلې
وه، کومه چې د مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ په بيابان
کښې جوړه کړې وه. ۴ داؤد د لوظ صندوق د مخکښې نه
د قِريَت‌يعريم نه هغه خېمې ته راوړے وو چې کومه يې د دې
دپاره په يروشلم کښې جوړه کړې وه. ۵ خو د زېړو کومه
قربان‌ګاه چې د حُور نمسی او د اوری زوئ بضلی‌ايل جوړه
کړې وه هغه هلته په جبعون کښې د مالِک خُدائ د مقدسې
خېمې په مخکښې پرته وه. سليمان بادشاه او ټولو خلقو هلته
مالِک خُدائ ته سوال وکړو. ۶ سليمان د مالِک خُدائ په
حضور کښې قربان‌ګاه ته وختلو، کومه چې د مالِک خُدائ د
مقدسې خېمې په مخکښې پرته وه او په هغې باندې يې يو زر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوزېدونکي نذرانې پېش کړې. ۷ په هغه شپه خُدائ پاک
سليمان ته ښکاره شو او ورته يې وفرمائيل، ”چې څۀ غواړې
نو وې غواړه چې زۀ يې درکړم.“ ۸ سليمان ورته
وفرمائيل، ”تا زما پلار داؤد ته همېشه لويه مينه ښودلې ده او
اوس دې زۀ د هغۀ نه پس بادشاه جوړ کړے يم. ۹ اے
مالِکه خُدايه پاکه، هغه وعده پوره کړه چې زما د پلار سره
دې کړې ده. تا زۀ په هغه خلقو بادشاه جوړ کړے يم چې
څوک د زمکې د شګو په شان بېر دى، ۱۰ نو ما له پوهه او
حِکمت راکړه چې هغوئ په سمه لار باندې بوځم. څوک
داسې شته چې ستا په دې لوئ قوم باندې حکومت وکړى؟“
۱۱ خُدائ پاک سليمان ته وفرمائيل، ”تا جائيداد، دولت،
عزت، يا د هغه خلقو مرګ نۀ دے غوښتلے چې ستا نه
نفرت کوى او د اوږد عُمر سوال دې هم نۀ دے کړے، خو تا
د حِکمت او پوهې سوال کړے دے چې زما په هغه خلقو
باندې حکومت وکړې چې په چا باندې ما بادشاه جوړ کړې
يې، ۱۲ نو ځکه زۀ به تا له حِکمت او پوهه درکړم. او د دې
نه علاوه، زۀ به تا له دومره دولت، خزانې او عزت درکړم
چې نۀ به د دې نه مخکښې يو بادشاه ته مِلاو شوى وى او نۀ
به وروستو چا ته کله هم مِلاو شى.“

## د حضرت سليمان بادشاه طاقت او دولت

۱۳ نو سليمان په جبعون کښې د عبادت د ځائ نه لاړو،
چرته چې د مالِک خُدائ د حضور خېمه وه او يروشلم ته
راواپس شو. هلته هغۀ په اِسرائيل حکومت کولو. ۱۴ هغۀ
هلته د څوارلسو سوو جنګى ګاډو او دولس زرو په آسونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوارو کسانو يو لښکر جوړ کړو، د هغوئ څۀ کسان يې په
يروشلم کښې وساتل او باقى نور يې په مختلفو ښارونو کښې
کښېنول. ١٥ د هغۀ د بادشاهئ په دوران کښې سپين زر او
سرۀ زر په يروشلم کښې د کاڼو په شان عام شول او دِيار
دومره زيات وُو لکه چې د غرونو په لمنو کښې بې‌شمېره
چنارونه وى. ١٦-١٧ د سليمان سوداګرو د هغۀ آسونه او
جنګى ګاډئ د مِصر او قوعى په علاقو کښې اخستلې، هغوئ
يوه جنګى ګاډئ په شپږ سوه د سپينو زرو سيکو باندې او يو
آس د سپينو زرو په يو نيم سل سيکو باندې اخستلو. هغوئ
په حِتى او شامى بادشاهانو باندې هم آسونه او جنګى ګاډئ
خرڅولې.

## د خُدائ پاک د کور د عمارت دپاره تيارے کول

٢ ١ سليمان فيصله وکړه چې يو کور جوړ کړى چرته به
چې د مالِک خُدائ د نوم عبادت کيږى او د خپل ځان دپاره
يو شاهى محل هم جوړ کړى. ٢ هغۀ اويا زره سړى د
سامان راوړلو او اتيا زره سړى يې د غرونو نه د کاڼو د
راويستلو دپاره مقرر کړل. درې زره او شپږ سوه داسې نور
سړى وُو چې د کار مشرى يې کوله. ٣ سليمان د صور
بادشاه حيرام له يو پيغام ولېږلو چې، ”ما له د دِيار لرګى
راولېږه لکه څنګه چې تا زما پلار داؤد له لېږلى وُو چې کله
هغۀ محل جوړولو. ٤ زۀ د مالِک خُدائ زما د خُدائ پاک
د نوم د درناوى دپاره يو کور جوړوم. دا به يو مخصوص
ځائ وى چرته به چې د هغۀ په مخکښې خوشبوئى سوزولے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی، د قربانئ خاص روټئ پېش کولے شی او چې په هر
سحر او ماښام، د سبت په ورځ، د نوې میاشتې په اخترونو
او د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک په نورو مقررو
اخترونو باندې سوزېدونکې نذرانې پېش کولے شی. هغهٔ
اِسرائیل له حُکم ورکړے دے چې دا کار به د همېشه دپاره
کوئ. ۵ زهٔ چې کوم کور جوړوم نو هغه به عظیم کور
وی، ځکه چې زمونږ خُدائ پاک د نورو ټولو معبودانو نه
لوئ دے. ۶ خو په حقیقت کښې بیا هم څوک د خُدائ
پاک دپاره کور نهٔ شی جوړولے، ځکه چې په لویو آسمانونو
کښې هغه نهٔ شی ځائېدلے. نو زهٔ څوک یم چې د هغهٔ دپاره
یو کور جوړ کړم، بغېر د دې نه چې یو ځائ جوړ کړم چې د
هغهٔ په وړاندې په کښې نذرانې پېش کېږی؟ ۷ نو ما له یو
سړے راولېږه چې په نقش نګارئ کښې، د سرو زرو، سپینو
زرو، زېړو او اوسپنې په کار کښې او د آسمانی رنګ، کاسنی
او د سور رنګ کپړه جوړولو کښې ماهِر وی. هغه به د یهوداه
او یروشلم کاریګرو سره کار کوی کوم چې زما پلار داؤد
خوښ کړی دی. ۸ ما ته پته ده چې ستاسو د لرګو
وهونکی سړی ډېر تکړه دی، نو ما له د لبنان نه د دِیار، سبر
ونې او صُندل لرګی راولېږه. زما سړی به ستاسو د سړو مدد
کوی، ۹ چې ډېر زیات لرګی تیار کړی، ځکه چې زما د
خُدائ پاک د کوم کور د جوړولو اراده ده هغه به لوئ او
بېمثاله وی. ۱۰ ګوره، ستا د کاریګرانو په مزدورئ کښې به
دوه زره ټنه غنم او دوه زره ټنه اوربشې، څلور لاکه لیټره
مے او څلور لاکه لیټره د زیتُونو تېل درولېږم.“ ۱۱ د صور
بادشاه حیرام سلیمان له په جواب کښې یو خط ولېږلو. هغهٔ
ورته لیکلی وُو، ”مالِک خُدائ د خپلو خلقو سره مینه کوی نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې وجه هغهٔ تهٔ د هغوئ بادشاه جوړ کړې. ١٢ د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک ثناء صِفت دې وی، چې
د آسمان او زمکې پيدا کوونکے دے. هغهٔ داؤد بادشاه له يو
هوښيار زوئ ورکړے دے، چې د پوهې او مهارت خاوند
دے، چې اوس د هغهٔ منصوبه دا ده چې د مالِک خُدائ
دپاره يو کور او د خپل ځان دپاره يو محل جوړ کړی. ١٣
زهٔ تا له يو قابل او تکړه اُستاذ درلېږم چې د هغهٔ نوم حيرام
دے. ١٤ د هغهٔ مور د دان د قبيلې وه او د هغهٔ پلار د صور
اصلی اوسېدونکے وو. هغه د سرو زرو، سپينو زرو، زېړو،
اوسپنې، کاڼو او د لرګو د څيزونو په جوړولو باندې پوهېږی.
هغه د آسمانی رنګ، کاسنی او سور رنګ او د لټې د کپړې په
کار پوهېږی. هغه هر قِسم پاخهٔ ليکل کولے شی او چې هغهٔ
له هر څنګه نقشه ورکړے شی نو په هغې عمل کولے شی.
هغه پرېږده چې ستا د تکړه کاريګرو سره او د هغوئ سره
کار وکړی چا چې ستا د پلار يعنې د داؤد بادشاه دپاره کار
کړے وو. ١٥ نو اوس موږ له هغه غنم، اوربشې، مے او د
زيتُونو تيل راولېږه چې تا يې وعده کړې ده. ١٦ د لبنان په
غرونو کښې به موږ هغه ټول د دِيار لرګی ووهو چې تا ته يې
ضرورت دے، هغه به د يو بل سره د کشتئ په شان وترُو او
په سمندر کښې به يې روان کړُو چې تر يافا پورې ورسېږی. د
هغه ځائ نه يې تهٔ يروشلم ته وړلے شې.“

## د خُدائ پاک د کور جوړېدل شروع کېدل

١٧ سليمان بادشاه د هغه ټولو مسافرو مردم‌شماری وکړه
چې هغوئ د بنی اِسرائيل په مُلک کښې اوسېدل، هم هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان مردمشماری څنګه چې د هغهٔ پلار داؤد اخستې وه. هلته
يو لاک درې پنځوس زره او شپږ سوه مسافر اوسېدونکی وُو.
۱۸ هغهٔ اويا زره کسان د سامان د وړلو راوړلو دپاره او اتيا
زره کسان يې په غرونو کښې د کاڼو پرې کولو دپاره مقرر
کړل او درې زره او شپږ سوه مشران يې د دې دپاره مقرر
کړل چې د خلقو نه کار اخلی.

# ۳

۱ نو سليمان په يروشلم کښې د موریاه په غر د مالِک
خُدائ د کور جوړول شروع کړل، چرته چې مالِک خُدائ د
هغهٔ پلار داؤد ته راڅرګند شوے وو. د مالِک خُدائ کور د
اُرنان يبوسی په درمند جوړ شو، کوم ځائ چې داؤد خوښ
کړے وو. ۲ او د هغې جوړېدل د هغهٔ د بادشاهۍ د څلورم
کال د دويمې مياشتې په دويمه ورځ شروع شُو. ۳ سليمان
چې د خُدائ پاک د کور کوم بنياد کېښودو هغه تقريباً دېرش
ګزه اوږد او تقريباً لس ګزه پلن وو. ۴ د ننوتلو کوټه د کور
د پوره پلنوالی هومره يعنې تقريباً لس ګزه وه او تقريباً شپېتهٔ
ګزه اوچته وه. د کوټې دننه دېوالونه او چت په سوچه سرو
زرو باندې پټ وو. ۵ په لويه کوټه باندې د دِيار د لرګی
تختې لګولے شوې وې چې په سوچه سرو زرو باندې پټې
وې، چې په دې باندې د کجورو د ونو ګُلکاری شوې وه او د
زنځيرونو نمونې ورباندې جوړې شوې وې. ۶ بادشاه د
خُدائ پاک کور د قيمتی کاڼو او د پروائم د مُلک د سرو زرو
سره ښائسته کړو. ۷ هغهٔ د کور د دېوالونو، د تختو او
دروازو پټولو دپاره سرهٔ زر استعمال کړل، کاريګرو په
دېوالونو باندې د وزرو والا مخلوق نقشې هم جوړې کړې،
۸ د دننني کوټې نوم زيات مقدس ځائ وو، چې تقريباً لس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګزه اوږده او لس ګزه پلنه وه، چې د کور د پوره پلنوالی
هومره وه. د زيات مقدس ځائ د دېوالونو پټولو دپاره د شلو
تړنو نه زيات سرۀ زر استعمال شوی ؤو، ۹ تقريباً نيم سېر
سرۀ زر د مېخونو د جوړولو دپاره استعمال شوی ؤو او د
برنو کوټو دېوالونه هم په سرو زرو باندې پټ ؤو. ۱۰ بادشاه
خپلو کاريګرو له دا حُکم هم ورکړو چې د وزرو والا مخلوق
د اوسپنې نه جوړ کړئ، په سرو زرو يې پټ کړئ او په زيات
مقدس ځائ کښې يې کېږدئ. ۱۱-۱۳ هلته دا څنګ په
څنګ دروازې ته مخامخ ودرولے شوی ؤو. د هر يو دوه وزر
ؤو، چې هر يو تقريباً دوه نيم ګزه پلن وو، وزر يې داسې
خوارۀ ؤو چې د کوټې په مينځ کښې د يو بل سره مِلاوېدل او
په بل طرف باندې د کوټې دېوال ته رسېدلی ؤو، چې پوره
پلنوالے يې تقريباً لس ګزه وو. ۱۴ د زيات مقدس ځائ يوه
پرده د مهينې لتې نه جوړه وه، چې د آسمانی، کاسنی او سور
رنګ د وزرو والا مخلوق د شکلونو کار وربانديې شوے وو.

## د زېړو دوه ستنې

۱۵ بادشاه دوه ستنې جوړې کړې چې هره يوه تقريباً
اوولس ګزه لوړه وه او د خُدائ پاک د کور په مخکښې يې
ولګولې. د هرې ستنې دپاسه تقريباً درې ګزه لوړ تاجونه ؤو.
۱۶ د ستنو سرونه د زنځيرونو د کَړو په شکلونو او په سلو
انارو باندې ښائسته کړے شوی ؤو. ۱۷ ستنې د خُدائ پاک
د کور د ننوتلو په طرفونو باندې لګولے شوې وې، د جنوب
په طرف باندې چې کومه ستنه لګولے شوې وه د هغې نوم
يکين وو او چې په شمالی طرف باندې وه د هغې نوم بوعز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو.

## د خُدائ پاک د کور سامان

۴ ۱ د سليمان بادشاه يوه د زېړو قربان‌ګاه وه، کومه
چې تقريباً لس ګزه اوږده، لس ګزه پلنه او پينځهٔ ګزه اوچته
وه. ۲ هغهٔ د زېړو يوه ګول ډېګۍ هم جوړه کړه چې تقريباً
درې ګزه ډُوبه وه، مينځ يې پينځهٔ ګزه وو او پينځلس ګزه غټه
وه. ۳ د ډېګۍ ګېرچاپېره په ټوله بهرنۍ څنډه باندې د يو بل
دپاسه د ښائسته ښکارېدو دوه قطارونه وُو. د ښائسته
ښکارېدو دا قطارونه د غوَيانو د بُتانو په شکل کښې وُو، چې
دا ټول د پوره ډېګۍ سره يوه ټُکړه شوی وُو. ۴ ډېګۍ د
زېړو د دولسو غوَيو په شا باندې پرته وه چې د غوَيو مخونه
بهر وُو، چې په څلورو واړو طرفونو باندې درې درې غوَيو
مخونه اړولی وُو. ۵ د ډېګۍ طرفونه درې اِنچې غټ وُو. د
دې څنډه د پيالۍ د څنډې په شان وه، چې د نيلوفر د ګل په
شان ښکارېده. په ډېګۍ کښې تقريباً شپېتهٔ زره ليټره اوبهٔ
راتلې. ۶ هغوئ لس ښانکونه هم جوړ کړل، چې پينځهٔ د
خُدائ پاک د کور په جنوبی طرف باندې او پينځهٔ په شمالی
طرف باندې کېښودلے شول. دا د ځناورو د برخو په
کنګالولو کښې استعماليدل کوم چې د نذرانې په توګه
سوزولے کېدل. په غټه ډېګۍ کښې اوبو د اِمامانو دپاره وې
چې د وينځلو دپاره يې استعمالولې. ۷-۸ د اصُولو په
مطابق هغوئ لس د سرو زرو ډيوټ او لس ميزونه جوړ کړل
او د خُدائ پاک د کور په لويه کوټه کښې يې کېښودل، چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هر طرف باندې پينځۀ ډيوټ او پينځۀ مېزونه وُو. هغوئ
سل د سرو زرو جامونه هم جوړ کړل. ۹ هغوئ د اِمامانو
دپاره يو دربار هم جوړ کړو او يو بهرنے لوئ دربار يې هم
جوړ کړو. هغوئ دربار ته د ننوتلو دپاره دروازې هم جوړې
کړې او دا دروازې يې په زېړو باندې پټې کړې. ۱۰ ډيگے د
خُدائ پاک د کور د نمرخاتۀ جنوبى طرف گوټ سره نزدې
اېښودے شوې وه. ۱۱-۱۶ حيرام لوښى، بېلچے او جامونه
هم جوړ کړل. هغۀ دا هر څۀ هغسې مکمل کړل چې څنگه يې
د سليمان بادشاه سره وعده کړې وه چې د خُدائ پاک د
کور دپاره به يې جوړوى: دوه ستنې، د ستنو دپاسه دوه د
جامونو په شان تاجونه، په هر تاج باندې د زنځير د کَړو
شکلونه، د زېړو څلور سوه انار چې د هر تاج نه گېرچاپېره په
دوو قطارونو کښې وُو، لس گاډے، لس ښانکونه، يوه ډيگے،
دولس غوَيى چې ډيگے ورباندې پرته وه، لوښى، بېلچې او
درې غاښى. د کاريگرو مشر حيرام دا هر څۀ د پړقېدونکو
زېړو نه جوړ کړل، لکه څنگه چې سليمان بادشاه حُکم کړے
وو، چې دا دې د مالِک خُدائ په کور کښې استعمال شى.
۱۷ بادشاه دا هر څۀ د اُردن په مېدان کښې د سُکات او
صريده په مينځ کښې په بټۍ کښې جوړ کړى وُو. ۱۸ دومره
زيات سامان په کښې جوړ شوے وو چې هيچا هم د هغه
زېړو تول وزن معلوم نۀ کړو چې په دې کښې استعمال شوى
وُو. ۱۹ سليمان بادشاه د خُدائ پاک د کور دپاره د سرو
زرو دا سامان هم جوړ کړے وو، قربانگاه او خُدائ پاک ته
د پېش کړے شوې روټۍ مېز، ۲۰ ډيوټ او د ښو سرو زرو
ډيوې چې د منصوبې په مطابق د زيات مقدس ځائ ته
مخامخ بلېدې، ۲۱ د گلونو ښائسته والے، ډيوې او چمټې،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ د ډيوو سرپوښونه، جامونه، د خوشبويۍ لوښى او د بلو
سکارو وړلو دپاره استعمالېدونکى لوښى. دا ټول خيزونه د
سوچه سرو زرو نه جوړ شوى وُو. د خُدائ پاک د کور
بهرنۍ دروازې او د زيات مقدس ځائ دروازې په سرو زرو
باندې پټې کړے شوې وې.

۵ ۱ کله چې سليمان بادشاه د مالِک خُدائ د کور ټول
کار ختم کړو، نو هغۀ د خُدائ پاک د کور په خزانو کښې
هغه ټول خيزونه کېښودل کوم چې د هغۀ پلار داؤد مالِک
خُدائ ته وقف کړى وُو يعنې سپين زر، سرۀ زر او نور
سامان.

## د لوظ صندوق د مالِک خُدائ کور ته راوړلے کېدل

۲ بيا سليمان بادشاه د قبيلو او د بنى اِسرائيلو د ډلو ټول
مشران راوغوښتل چې په يروشلم کښې راغونډ شى، او د
مالِک خُدائ د لوظ صندوق د داؤد د ښار صيون نه يوسى.
۳ نو هغوئ ټول د جونګړو د اختر په وخت کښې راغونډ
شول. ۴ کله چې ټول مشران راغونډ شول، نو بيا ليويانو د
لوظ صندوق اوچت کړو. ۵ هغوئ دا د خُدائ پاک کور ته
راوړو. اِمامانو او ليويانو هم د مالِک خُدائ د حضور خيمه
او د دې ټول سامان د خُدائ پاک کور ته يوړو. ۶ سليمان
بادشاه او ټول بنى اِسرائيليان د لوظ صندوق په مخکښې
راغونډ شول او دومره ډېر ګډان او غواوې يې حلال کړل
چې هغه د شمېر نه بهر وُو. ۷ بيا اِمامانو د مالِک خُدائ د
لوظ صندوق د خپل خاص ځائ يعنې د خُدائ پاک د کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دننني زيات مقدس ځائ ته راوړو او د وزرو والا مخلوق
لاندې يې کېښودو. ۸ د هغوئ خورو ورو وزرو د لوظ
صندوق او د وړولو بازوګان پټ کړل. ۹ کۀ څوک د
زيات مقدس ځائ په مخکښې ولاړ وو نو هغوئ دا بازوګان
ليدلے شول ځکه چې دا اوږدۀ وو، خو د بل يو ځائ نه هم نۀ
ښکارېدل. هغه بازوګان تر ننه پورې هلته دى. ۱۰ د لوظ
صندوق دننه د کاڼو د هغه دوو تختو نه بغېر هيڅ هم نۀ وُو
کومې چې موسىٰ د سينا د غرۀ سره په کښې ايښې وې، دا په
هغه وخت کښې شوى وُو چې کله بنى اِسرائيليان د مِصر نه
راروان وُو او مالِک خُدائ د هغوئ سره يو لوظ وکړو.

## د مالِک خُدائ جلال

۱۱-۱۳ کۀ د اِمامانو د خِدمت وار وو او کۀ نه، خو چې
کوم اِمامان هلته موجود وو هغوئ خپل ځانونه پاک کړل او
د مقدس ځائ نه لاړل. ټولو ليويانو موسيقارانو، آسف،
هيمان او يدوتون او د هغوئ ټولو خپلوانو د لټې جامې
اغوستې وې. ليويان د چمټو او بينجو سره د قربانګاه سره
نزدې نمرخاتۀ طرف ته ولاړ وُو او د هغوئ سره يو سل او
شل اِمامان وُو چې بيګلې يې غږولې. د سندرغاړو او بيګلو
غږوونکو آواز او ساز به په يو ځائ اوچتېدو چې د مالِک
خُدائ ثناء صِفت او شُکر ادا کړى. ورسره يې بيګل، چمټې
او نور څيزونه غږول، هغوئ به آواز اوچتولو او د مالِک
خُدائ يې داسې صِفت کولو، ”د مالِک خُدائ ثناء صِفت
بيان کړئ، ځکه چې هغه مهربان دے، او د هغۀ مينه ابدى
ده.“ بيا د مالِک خُدائ کور د وريځې نه ډک شو. ۱۴ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِمامانو د وريځې په وجه خِدمت نهٔ شو تر سره کولے، ځکه
چې د مالِک خُدائ جلال د خُدائ پاک کور ډک کړے وو.

## د حضرت سليمان خلقو ته تقرير کول

۶ ١ بيا سليمان دُعا وکړه، ”مالِکه خُدايه، تا په تکه توره
وريځ کښې اوسېدل خوښ کړی دی. ٢ اوس ما ستا دپاره
يو عظيم کور جوړ کړے دے، يو داسې ځائ چې د هميشه
دپاره به په کښې اوسېږې.“ ٣ ټول بنی اِسرائيليان هلته ولاړ
وُو. بادشاه هغوئ ته مخ ورواړولو او د هغوئ دپاره يې د
خُدائ پاک نه برکت وغوښتلو. ٤ هغهٔ وفرمائيل، ”د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک ثناء صِفت دې وی. هغهٔ
چې زما د پلار داؤد سره کومه وعده کړې وه نو هغه يې پوره
کړې ده کله چې هغهٔ وفرمائيل چې ٥ د هغه وخت نه چې
د کله نه مې خپل خلق د مِصر نه راويستی دی تر اوسه پورې
ما د بنی اِسرائيلو په مُلک کښې يو ښار هم نهٔ دے خوښ
کړے چې هلته زما د عبادت دپاره يو کور جوړ کړے شی او
ما هيڅ څوک هم نهٔ دے خوښ کړے چې زما د خلقو بنی
اِسرائيلو مشری وکړی. ٦ خو اوس ما يروشلم خوښ
کړے دے چې دا به هغه ځائ وی چرته چې به زما عبادت
کيږی او ما داؤد خوښ کړے دے چې زما په خلقو يعنې بنی
اِسرائيلو باندې حکومت کوی.“ ٧ او سليمان خپله خبره
جاری وساتله، ”زما د پلار داؤد منصوبه دا وه چې د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک د عبادت دپاره يو کور جوړ
کړی، ٨ خو مالِک خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل چې زما د نوم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درناوی دپاره د یو کور جوړولو په غوښتلو کښې تهٔ په حقه
يې، ۹ خو تهٔ به هغه هيڅکله جوړ نهٔ کړې بلکې هغه به ستا
خپل زوئ وی چې زما دپاره کور جوړ کړی. ۱۰ اوس
مالِک خُدائ خپله وعده پوره کړې ده، زهٔ د خپل پلار نه پس
د بنی اِسرائيلو بادشاه جوړ شوے يم او ما د مالِک خُدائ د
بنی اِسرائيلو خُدائ پاک د نوم درناوی دپاره يو کور جوړ
کړے دے. ۱۱ ما په هغه کور کښې د لوظ صندوق ايښے
دے چې په هغې کښې د هغه لوظ د کاڼو تختې دی کوم چې
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو سره کړے دے.“

## د حضرت سليمان دُعا

۱۲ بيا سليمان د خلقو په مخکښې لاړو او د قربان‌ګاه په
مخکښې وړاندې ودرېدو او د دُعا دپاره يې لاسونه اوچت
کړل. ۱۳ سليمان د زېړو يو ممبر هم جوړ کړے وو او دا
يې د دربار په مينځ کښې ايښے وو. دا اووهٔ نيم فټه اوږد اووهٔ
نيم فټه پلن او څلور نيم فټه اوچت وو. هغه په دې ممبر
ودرېدلو، او بيا ټيټ شو، د هلته نه هر چا هغه وليدو. بيا هلته
نه هغهٔ آسمان طرف ته خپل لاسونه اوچت کړل. ۱۴ هغهٔ
سوال وکړو، ”اے مالِکه خُدايه، د بنی اِسرائيلو خُدايه پاکه.
په ټول آسمان او زمکه کښې ستا په شان خُدائ نشته. کله
چې ستا خلق د زړهٔ د اخلاصه ستا فرمانبرداری کوی نو تهٔ
هغوئ سره خپل لوظ پوره کوې او هغوئ ته خپله مينه ښائې.
۱۵ تا چې د خپل خِدمت کوونکی زما د پلار داؤد سره
کومه وعده کړې ده نو هغه دې ټوله نن په خپله پوره کړې ده.
۱۶ نو اوس مالِکه خُدايه د بنی اِسرائيلو خُدايه پاکه، هم هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وعده هم پوره کړه چې کومه تا زما پلار سره کړې ده چې
هغهٔ ته دې فرمائیلی وُو چې د هغهٔ د اولاد نه به همېشه داسې
یو کس وی چې په بنی اِسرائیلو به بادشاهی کوی، کهٔ هغوئ
د هغهٔ په شان ستا په قانون باندې په توجو سره عمل کوی.
۱۷ نو اوس مالِکه خُدایه د بنی اِسرائیلو خُدایه پاکه، هغه هر
څهٔ پوره کړه چې تا د خپل خِدمت کوونکی داؤد سره وعده
کړې ده. ۱۸ خو اے خُدایه پاکه، ولې تهٔ به په رښتیا د
بنیادمو سره اوسېږې؟ ستا هستی خو دومره لویه ده چې
آسمانونه، لوئ آسمانونه هم ستا دپاره واړهٔ دی نو بیا دا کور
خو ډېر زیات وړوکے دے چې ما جوړ کړے دے. ۱۹
مالِکه خُدایه زما خُدایه پاکه، زهٔ ستا خِدمت کوونکے یم. زما
سوال واوره او چې ما کوم سوال درته کړے دے هغه پوره
کړه. ۲۰ تهٔ په دې کور او په دې ځائ باندې شپه او ورځ
نظر ساته چې تا فرمائیلی دی چې تهٔ به دلته خپل نوم ږدې.
زهٔ چې دې ځائ ته مخامخ کومه او دُعا کوم نو هغه همېشه
اوره. ۲۱ د خپل خِدمت کوونکی دُعاګانې او د خپلو خلقو
بنی اِسرائیلو دُعاګانې اوره چې کله هغوئ دې ځائ ته مخ
کوی او دُعا کوی. تهٔ په آسمان کښې اوره چرته چې تهٔ
اوسېږې او چې کله تهٔ اورې نو معافی کوه. ۲۲ کله چې په
یو کس اِلزام ولګوی چې بل چا ورسره بد کړی دی او په دې
کور کښې ستا قربان‌ګاه ته راوستلے شی چې هغه قسم
وکړی چې بې‌ګناه دے، ۲۳ نو اے مالِکه خُدایه، په آسمان
کښې اوره او د خپلو خِدمت کوونکو عدالت کوه. مجرم له
هغه شان سزا ورکوه چې څنګه یې حقدار وی او چې څوک
بې‌ګناه وی نو هغه پرېږده. ۲۴ کله چې ستا خلق بنی
اِسرائیلیان د خپلو دشمنانو نه شکست وخوری ځکه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ به ستا خِلاف ګناه کړې وى او چې بيا هغوئ تا ته
راوګرځى او دې کور ته راشى او تا ته په عاجزۍ سره د
معافۍ دپاره سوال وکړى، ﴿۲۵﴾ نو په آسمان کښې د هغوئ
سوال اوره. د خپلو خلقو سزا معاف کوه او واپس يې هغه
مُلک ته راوله چې کوم تا هغوئ او د هغوئ پلار نيکۀ له
ورکړے دے. ﴿۲۶﴾ کله چې په دې وجه د آسمان نه باران
ايسار شى چې ستا خلقو ګناه کړې وى او کله چې هغوئ په
عاجزۍ سره دې کور ته مخ کړى او توبه وباسى ﴿۲۷﴾ نو په
آسمان کښې د هغوئ سوال اوره او د خپلو خِدمت کوونکو د
بنى اِسرائيلو ګناهونه معاف کوه او هغه څۀ ورته ښايه چې
کوم صحيح وى. بيا اے مالِکه خُدايه، په دې خپل مُلک
باندې باران راولېږه، کوم چې تا خپلو خلقو له ورکړے دے
چې د هميشه دپاره د هغوئ ميراث وى. ﴿۲۸﴾ کله چې په هغه
مُلک کښې قحط، وبا وى يا د ګرمې هوا يا د قحطۍ د
مُولخانو په وجه فصلونه تباه کيږى، يا چې دشمنان ستا د
خلقو ښار محاصره کړى، يا چې کله د هغوئ په مينځ کښې
يو مرض يا بيمارى وى، ﴿۲۹﴾ نو د هغوئ دُعاګانې اوره. کۀ
ستا د خلقو بنى اِسرائيلو نه هر څوک هم، د مصيبت او
تکليف په وخت کښې خپل لاسونه د دُعا دپاره دې کور ته
اوچت کړى، ﴿۳۰﴾ نو د هغوئ سوال اوره. په آسمان کښې په
خپل کور کښې د هغوئ سوال اوره او هغوئ معاف کوه.
صِرف تۀ د بنى آدم د زړۀ په منصوبو پوهېږې. هر چا سره
هغه شان سلوک کوه چې څنګه يې حقدار وى، ﴿۳۱﴾ نو چې
داسې ستا خلق ستا نه يريږى او چې هغوئ هميشه ستا
تابعدارى کوى چې کله په هغه مُلک کښې اوسيږى چې تا
زمونږ پلار نيکۀ له ورکړے دے. ﴿۳۲﴾ د پردى مُلک هغه خلق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په لرې مُلک کښې اوسېږی چې هغوئ دا واوری چې تهٔ
ځومره لوئ او طاقتور يې او د کار کولو دپاره تهٔ همېشه
ځومره تيار يې او چې کله هغوئ د دُعا دپاره دې کور ته
راشی، ٣٣ نو تهٔ د هغوئ سوال اوره. چرته چې تهٔ اوسېږې،
د هغوئ سوال اوره او هغه څهٔ کوه چې دوئ يې غواړی، نو
چې داسې د ټولې دُنيا خلق دې وپېژنی او ستا د خلقو بنی
اِسرائيلو په شان ستا نه وېرېږی. بيا به هغوئ ته پته ولګی
چې ما دا کوم کور جوړ کړے دے په دې پورې ستا نوم
تړلے شوے دے. ٣٤ کله چې تهٔ خپلو خلقو له حُکم
ورکړې چې د خپلو دشمنانو خِلاف جنګ له لاړ شئ او
هغوئ تا ته سوال وکړی، چې هغوئ چرته هم وی او مخ يې
دې ښار ته وی کوم چې تا خوښ کړے دے او دې کور ته
يې مخ وی کوم چې ما ستا دپاره جوړ کړے دے، ٣٥ نو د
هغوئ سوال اوره. په آسمان کښې د هغوئ سوال اوره او
هغوئ له فتح ورکوه. ٣٦ کله چې ستا خلق ستا خِلاف ګناه
وکړی او داسې هيڅ څوک نشته چې ګناه نهٔ کوی او په غصه
کښې تهٔ د هغوئ دشمنان پرېږدې چې هغوئ له شکست
ورکړی او هغوئ يو بل مُلک ته قېديان بوځی، کهٔ هغه مُلک
لرې هم وی، ٣٧ نو د خپلو خلقو سوال اوره. کهٔ هلته په هغه
مُلک کښې هغوئ توبه وباسی او تا ته سوال وکړی او دا
اِقرار وکړی، چې مونږ ډېر ګناهګار او بدعمله يو، نو اے
مالِکه خُدايه، د هغوئ سوال اوره. ٣٨ کهٔ په هغه مُلک کښې
هغوئ په رښتيا او د زړهٔ د اخلاصه توبه وباسی او سوال
وکړی چې مخ يې دې مُلک ته وی کوم چې تا د هغوئ پلار
نيکهٔ له ورکړے دے، هغه ښار چې کوم تا خوښ کړے دے
او هغه کور چې ما ستا دپاره جوړ کړے دے، ٣٩ نو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ سوال اوره. په آسمان کښې، چرته چې اوسېږې په
هغوئ مهربان شه او د خپلو خلقو ټول ګناهونه معاف کوه.
۴۰ نو اے زما خُدایه پاکه، مونږ ته وګوره او هغه دُعاګانې
قبولې کړه چې په دې ځائ کښې شوې دی. ۴۱ مالِکه خُدایه
اے خُدایه پاکه، د خپل لوظ صندوق سره دې خاص ځائ ته
دننه لاړ شه چې دا صندوق ستا د طاقت نښه ده. اے مالِکه
خُدایه پاکه، ستا اِمامانو ته دې خلاصون مِلاو شی او ستا
ایماندار خِدمت کوونکی دې ستا د مهربانئ په وجه
خوشحاله وی. ۴۲ مالِکه خُدایه اے خُدایه پاکه، کوم بادشاه
چې تا خوښ کړے دے هغه مۀ رد کوه. هغه مینه یاده کړه
چې کومه تا د خپل خِدمت کوونکی داؤد سره کړې ده.“

## د خُدائ پاک د کور وقف کېدل

۷ ۱ کله چې سلیمان بادشاه خپله دُعا ختمه کړه نو د
آسمان نه اور راکوز شو او کومې نذرانې چې پېش کړے
شوې وې هغه يې وسوزولې او د خُدائ پاک کور د مالِک
خُدائ د حضور د جلال نه ډک شو. ۲ اِمامان د مالِک
خُدائ کور ته ځکه نۀ شول ننوتلے چې د مالِک خُدائ کور د
جلال نه ډک وو. ۳ کله چې ټولو بنی اِسرائیلو ولیدل چې
اور راکوزېدلو او د مالِک خُدائ د جلال نه ډک حضور هغه
کور ډک کړے وو، نو هغوئ پړمخې په زمکه وغورزېدل،
سجده يې وکړه او د مالِک خُدائ په ثناء صِفت کښې يې
وفرمائيل، ”هغه مهربان دے، د هغۀ د وفا نه ډکه مینه د
همېشه دپاره ده.“ ۴ بیا سلیمان او ټولو خلقو مالِک خُدائ
ته نذرانې پېش کړې. ۵ هغۀ دوویشت زره څاروی او یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سل او شل زره ګډان د سلامتۍ نذرانې په توګه حلال کړل. نو
داسې هغهٔ او ټولو خلقو د خُدائ پاک کور وقف کړو. ٦
اِمامان په هغه مقررو شوو ځايونو باندې ولاړ وُو او ليويان
ورسره وُو، هغوئ وفرمائيل، ”د هغهٔ نهٔ ختمېدونکې مينه د
همېشه دپاره ده.“ هغوئ د موسيقۍ د هغه سامان سره په يو
انداز سندرې وئيلې کوم چې داؤد بادشاه د مالِک خُدائ د
ثناء صِفت دپاره جوړ کړی وُو. ليويانو ته مخامخ اِمامانو
بيګلې غږولې او په دې دوران کښې ټول بنی اِسرائيليان ولاړ
وُو. ٧ سليمان د دربار مرکزی حِصه وقف کړه، کوم ځائ
چې د مالِک خُدائ د کور په مخکښې وو او بيا يې هلته پوره
سوزېدونکې نذرانې، د غلې نذرانې او د سلامتۍ د نذرانې
وازګه يې پېش کړه، هغهٔ داسې ځکه وکړل چې هغهٔ د زېړو
کومه قربان‌ګاه جوړه کړې وه نو هغه قربان‌ګاه د دې ټولو
نذرانو دپاره ډېره وړه وه. ٨ سليمان او ټولو بنی اِسرائيلو
اووهٔ ورځې د جونګړو اختر وکړو. هلته په شمال کښې د
حمات دَرې نه واخله په جنوب کښې د مِصر د سرحد پورې
يوه لويه ګڼه وه. ٩ هغوئ اووهٔ ورځې د قربان‌ګاه د وقف
کولو دپاره او اووهٔ نورې ورځې د اختر دپاره تېرې کړې. په
آخری ورځ هغوئ يو آخری تقريب وکړو، ١٠ په ورپسې
ورځ يعنې د اوومې مياشتې په درويشتمه ورځ، سليمان خلق
کورونو ته ولېږل. هغوئ په هغه ټولو برکتونو باندې خوشحاله
وُو کوم چې مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو له، داؤد او سليمان له
ورکړی وُو.

## د خُدائ پاک حضرت سليمان ته بيا څرګندېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ کله چې سليمان بادشاه د مالِک خُدائ کور او محل او
د دې دپاره ټولې منصوبې مکملې کړې، ١٢ نو مالِک خُدائ
هغهٔ ته د شپې راڅرګند شو او هغهٔ ته يې وفرمائيل، ”ما ستا
دُعا اورېدلې ده او دا ځائ د يو داسې ځائ په توګه قبلوم
چرته به چې ما ته نذرانې پېش کيږى. ١٣ کله هم چې زهٔ
باران نهٔ ورووم يا د قحطۍ مُلخان راولېږم چې فصلونه
وخورى او يا په خپلو خلقو باندې يوه وبا راولېږم، ١٤ نو
کهٔ زما خلق څوک چې زما خپل خلق دى ما ته سوال وکړى
او توبه وباسى او چې هغوئ کوم بد عمل کوى د هغې نه
راوګرځى، نو بيا به زهٔ په آسمان کښې د هغوئ سوال واورم،
د هغوئ ګناهونه به معاف کړم او د هغوئ زمکه به بيا آباده
کړم. ١٥ زهٔ به په دې کور باندې نظر وساتم او چې په دې
کور کښې کومې دُعاګانې وشى نو د هغې اورېدو دپاره به تيار
يم، ١٦ ځکه چې دا ما خوښ کړے دے او دا مې د دې
دپاره پاک ګرځولے دے چې دلته به د تل دپاره زما عبادت
کيږى. زهٔ به په دې باندې نظر ساتم او تل به يې حِفاظت
کوم. ١٧ کهٔ تهٔ د خپل پلار داؤد په شان په وفادارۍ سره
زما خِدمت کوې، زما قانون منې او هغه هر څهٔ کوې چې ما
يې حُکم کړے دے، ١٨ نو زهٔ به هغه وعده پوره کړم کومه
چې ما ستا پلار داؤد سره کړې وه کله چې ما هغهٔ ته
وفرمائيل چې په بنى اِسرائيلو کښې به ستا اولاد هميشه
حکومت کوى. ١٩ خو کهٔ تهٔ او ستا خلق کله هم هغه قانون
او حُکمونه نهٔ منئ چې ما تاسو له درکړى دى او د نورو
معبودانو عبادت وکړئ، ٢٠ نو بيا به زهٔ تاسو د هغه مُلک نه
لرې کړم چې ما درکړے دے او زهٔ به دا کور پرېږدم چې ما
دا ځائ د دې دپاره مخصوص کړے دے چرته به چې زما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت کېږی. نو ټول قومونه به په دې پورې خندا کوی او
سپکاوے به یې کوی. ۲۱ دا کور اوس د شان او شوکت
والا دے خو چې بیا کله هم څوک په دې تېرېږی نو حېران به
شی او تپوس به کوی چې، مالِک خُدائ د دې مُلک او د دې
کور سره داسې بد ولې کړی دی؟ ۲۲ نو خلق به په جواب
کښې وائی چې، دا ځکه وشول چې هغوئ مالِک خُدائ خپل
خُدائ پاک پرېښودو، چا چې د هغوئ پلار نیکهٔ د مِصر نه
راوویستل. هغوئ نورو معبودانو ته ورواوړېدل او د هغوئ
عبادت یې وکړو. نو ځکه مالِک خُدائ په هغوئ باندې دا
مصیبت راوستلو.“

## د حضرت سلیمان کارنامې

۸ ۱ سلیمان په خپل محل او د مالِک خُدائ په کور
جوړولو کښې شل کاله ولګول. ۲ هغهٔ هغه ښارونه هم بیا
جوړ کړل چې حیرام بادشاه ورکړی وُو او بنی اِسرائیلیان یې
ورولېږل چې په هغې کښې اوسېږی. ۳ سلیمان بیا حمات
ضوباه ته لاړو او دا علاقه یې قبضه کړه ۴ او په صحرا
کښې د پَخو دېوالونو ښار تدمور یې بیا جوړ کړو. هغهٔ په
حمات کښې هغه ټول ښارونه هم بیا جوړ کړل چې کوم
ښارونه د ګودامونو دپاره استعمالېدل. ۵ سلیمان دا
ښارونه هم بیا جوړ کړل، پاسنے بیت‌حورون او لاندینے
بیت‌حورون چې دا د پَخو دېوالونو ښارونه وُو چې مضبوطې
دروازې یې لرلې، ۶ د بعلات ښار، هغه ټول ښارونه چې د
سامان ګودامونه وُو او هغه ښارونه چرته چې د هغهٔ آسونه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګی ګاډۍ ودرېدلې. هغۀ د يروشلم، لبنان او د هغه ټولې
علاقې چې د هغۀ په بادشاهۍ کښې وې، نو چې کوم آبادول
غوښتل هغه يې سر ته ورسول او بادشاهی يې کوله. ۷-۸
سليمان د کنعان د خلقو ټول اولاد داسې نوکران کړل چې په
زور ترې نه کار اخستلے شو. دا هغه کسان وُو کوم چې بنی
اِسرائيلو نه ژوندی پاتې شوی وُو کله چې بنی اِسرائيلو هغه
مُلک ونيولو. په دې کښې حِتيان، اموريان، فرزيان، حِويان
او يبوسيان وُو، چې د هغوئ اولاد تر نن وخته پورې غلامان
دی. ۹ د بنی اِسرائيلو نه په زور کار نۀ شو اخستلے، خو
د فوجيانو، آفسرانو، د جنګی ګاډو مشرانو او په آسونو
سوارو کسانو په توګه يې خِدمت کولو. ۱۰ سليمان د بنی
اِسرائيلو نه دوه نيم سوه آفسران مقرر کړل چې په دغه خلقو
مشری وکړی. ۱۱ سليمان خپله ښځه يعنې د مِصر د
فِرعون لور د داؤد د ښار نه هغه کور ته بوتله چې کوم يې د
هغې دپاره جوړ کړے وو. هغۀ وفرمائيل، ”هغه دې د بنی
اِسرائيلو بادشاه داؤد په محل کښې نۀ اوسيږی، ځکه چې
چرته د لوظ صندوق پاتې شوے وو نو هغه ځائ مقدس
دے.“ ۱۲ سليمان په هغه قربانګاه باندې مالِک خُدائ ته
سوزېدونکې نذرانې پېش کړې کومه چې هغۀ د خُدائ پاک د
کور په مخکښې جوړه کړې وه. ۱۳ هغۀ د هرې مقدسې
ورځې دپاره د موسیٰ د شريعت د حُکم په مطابق
سوزېدونکې نذرانې پېش کړې، د سبت د ورځو، د نوې
مياشتې اخترونو او د کال درې کلنی اخترونو: د پتيرې روټۍ
اختر، د رېبلو اختر او د جونګړو اختر. ۱۴ اِمامانو ته د ذمه
وارو حواله کولو دپاره سليمان د خپل پلار داؤد په اصُولو
باندې عمل وکړو. هغۀ ليويان هم مقرر کړل چې په ثناء
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صِفت کولو کښې او د اِمامانو سره د هغوئ په کارونو کښې
مدد کوی. او هغهٔ د ډلو په مطابق په دروازو باندې
څوکیداران هم ودرول، ځکه چې د خُدائ پاک خِدمت
کوونکی داؤد هم دغه شان حُکم کړے وو. ۱۵ داؤد چې د
خزانو او نورو معامِلو دپاره اِمامانو او لیویانو ته کوم اصُول
ښودلی وُو هغه پوره پوره سر ته رسېدلی وُو. ۱۶ په هغه
وخت کښې د سلیمان ټول کارونه پوره شول. د مالِک خُدائ
د کور د بنیاد نه واخله تر سر ته رسولو پورې د هغهٔ ټول
کارونه په صحیح طریقې سره سر ته ورسېدل. ۱۷ سلیمان
عصیون‌جابر او ایلات ته لاړو، دا د ادوم په علاقه کښې د
بحرِقُلزم په غاړه د سمندری جهازونو ځایونه دی. ۱۸ حیرام
بادشاه د خپلو آفسرانو او د تجربه‌کاره کشتو چلوونکو د
مشرۍ لاندې هغهٔ له سمندری جهازُونه ولېږل. هغوئ د
سلیمان د آفسرانو سره د اوفیر مُلک ته جهازُونه بوتلل او
سلیمان له یې د پینځلسو زرو کلو نه زیات سرهٔ زر راوړل.

## د مَلِکه شیبا ملاقات

۹ ۱ د شیبا مُلک مَلِکه د سلیمان شُهرت نه خبر شوه او
هغه یروشلم ته راغله چې په مشکلو سوالونو د هغهٔ امتحان
واخلی. هغې ځان سره یوه لویه ډله راوسته او داسې اوښان
یې هم راوستل چې په مصالحو، قیمتی کاڼو او په لوئ مِقدار
کښې په سرو زرو باندې بار وُو. هغه سلیمان له راغله او چې
د هغې په ذهن کښې څهٔ هم وُو نو د سلیمان سره یې د هغې په
حقله خبرې وکړې. ۲ سلیمان هغې له د ټولو سوالونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوابونه ورکړل. د هغهٔ دپاره داسې يو سوال هم مشکل نهٔ وو
چې د هغې وضاحت يې ورته نهٔ شو کولے. ۳ د شيبا مَلِکه
د سليمان په حِکمت باندې پوهه شوه او چې هغهٔ کوم محل
جوړ کړے وو هغه يې وليدو. ۴ د هغهٔ په دسترخوان چې
کوم خوراک پروت وو، د هغهٔ د آفسرانو د اوسېدو کوټې، د
هغهٔ د محل د نوکرانو اِنتظام او د هغوئ لِباس، د هغهٔ ساقيان
د هغوئ لِباس او هغه سوزېدونکې نذرانې يې وليدې چې هغهٔ
د مالِک خُدائ په کور کښې پېش کولې. نو په دې هر څهٔ حقه
حيرانه شوه. ۵ نو هغې بادشاه ته ووئيل، ”ما چې په خپل
مُلک کښې ستا او ستا د حِکمت په حقله څهٔ اورېدلى دى
هغه رښتيا دى. ۶ هغوئ چې ما ته څهٔ وئيل نو ما په هغې
باندې تر هغې پورې يقين نهٔ کولو چې راغلم او په خپله مې
وليدل. زهٔ ستا د نيم حِکمت نه هم خبر نهٔ وم. چې خلق څهٔ
وائى تهٔ د هغې نه هم ډېر زيات هوښيار يې. ۷ هغوئ
څومره بختور دى چې څوک ستا خِدمت کوى، هغوئ هر
وخت ستا په حضور کښې وى او د دې حقدار دى چې ستا
د حِکمت خبرې واورى. ۸ د مالِک خُدائ ستا د خُدائ
پاک ثناء صِفت دې وى. هغهٔ دا ښکاره کړې ده چې هغه ستا
نه څومره خوشحاله دے چې تهٔ يې بادشاه جوړ کړے يې
چې د هغهٔ په نوم باندې حکومت وکړې. ځکه چې هغه د
خپلو خلقو يعنې بنى اِسرائيلو سره مينه کوى او د هميشه
دپاره د هغوئ حِفاظت کول غواړى، هغهٔ تهٔ د هغوئ بادشاه
جوړ کړے يې چې د اِنصاف او صداقت نه کار اخلې.“ ۹
هغې چې کومې تُحفې راوړې وې نو هغه يې سليمان بادشاه ته
پېش کړې، د څلورو زرو کلو نه زيات سرهٔ زر او په يو لوئ
مِقدار کښې مصالحې او قيمتى کانړى. د هغې نه نورې ښې
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مصالحې نهٔ وې کومې چې د شيبا مَلِکې سليمان بادشاه له
ورکړې. ۱۰ د حيرام بادشاه او د سليمان بادشاه سړو چې
د اوفير نه سرهٔ زر راوړل نو هغوئ د صُندل لرګى او کالى هم
راوړل. ۱۱ سليمان دا لرګے د مالِک خُدائ د کور او د
خپل محل د پوړو جوړولو دپاره استعمال کړو او موسيقارانو
له يې ترې نه بينجو او ربابُونه جوړ کړل. د يهوداه په مُلک
کښې د دې نه مخکښې د دې په شان هيڅ هم نهٔ وُو ليدلے
شوى. ۱۲ مَلِکه شيبا چې څهٔ هم غوښتل نو سليمان بادشاه
هغه ورکړل. دا د هغې نه علاوه وُو چې د هغه تُحفو په بدل
کښې يې ورکړل کومې چې هغې راوړې وې. بيا هغه او د هغې
ډله واپس خپل مُلک ته لاړل.

## د حضرت سليمان بادشاه دولت

۱۳ سليمان ته هر کال تقريباً درويشت زره کلو سرهٔ زر
مِلاويدل، ۱۴ د دې نه علاوه تاجرانو او سوداګرو به هغهٔ له
محصُول هم ورکولو. د عربو بادشاهانو او د بنى اِسرائيلو د
ضِلعو حکمرانانو به هم هغهٔ له سرهٔ زر او سپين زر راوړل.
۱۵ سليمان دوه سوه لوئ ډالونه جوړ کړل، چې هر يو
تقريباً په اوو کلو ټکيدلے شوو سرو زرو باندې پټ وو، ۱۶
درې سوه يې واړهٔ ډالونه جوړ کړل، چې هر يو تقريباً په درېو
کلو ټکيدلے شوو سرو زرو باندې پټ وو. هغهٔ دا ټول د لبنان
د ځنګل په محل کښې کېښودلى وُو. ۱۷ بادشاه يو لوئ
تخت هم جوړ کړے وو چې يوه حِصه يې د هاتى په غاښونو
باندې پټه وه او باقى په سوچه سرو زرو باندې پټ وو. ۱۸ د
دې تخت شپږ پوړۍ وې چې بره ورختلې وې او يو د پښو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښودلو چوکۍ ورسره تړلے شوې وه چې په سرو زرو
باندې پټ وو. د تخت په هر طرف باندې بازوګان ؤو او په
هر طرف باندې د ولاړو زمرو بُتان ؤو. ۱۹ په پوړو باندې د
دولسو زمرو مجسمې وې، چې شپږ يو طرف ته ؤو او شپږ
بل طرف ته ؤو. په بله يوه بادشاهۍ کښې هيڅکله هم داسې
تخت موجود نۀ وو. ۲۰ د سليمان ټولې پيالۍ د سرو زرو نه
جوړې وې او د لبنان د ځنګل د دربار ټول لوښی د سوچه
سرو زرو ؤو. د سليمان په وخت کښې سپين زر اهم نۀ شول
ګڼلے. ۲۱ بادشاه سره د تجارت دپاره سمندری جهازُونه
ؤو، دا جهازُونه د حيرام بادشاه سړو چلول. هر درې کاله
پس به د هغۀ جهازُونه راواپس کېدل چې سرۀ زر، سپين زر،
د هاتی غاښونه، شادوګان او طاؤسان يې راوړل. ۲۲
سليمان بادشاه په دُنيا کښې د نورو ټولو بادشاهانو نه زيات
هوښيار او مالدار وو. ۲۳ خُدائ پاک چې هغۀ له کوم
حِکمت ورکړے وو د هغې د اورېدو دپاره به ټولو بادشاهانو
د هغۀ سره مشوره کوله. ۲۴ سليمان له به هر يو مېلمه دا
تُحفې راوړلې: د سرو زرو او سپينو زرو څيزونه، چُوغې،
وسلې، مصالحې، آسونه او قچر. هغوئ تر کالونو پورې
داسې کول. ۲۵ د سليمان بادشاه د خپلو جنګی ګاډو او
آسونو دپاره څلور زره د ودرېدو ځايونه هم ؤو او دولس زره
يې آسونه ؤو. څۀ يې په يروشلم کښې ساتلی ؤو او باقی نور
يې په مختلفو ښارونو کښې مقرر کړی ؤو. ۲۶ هغه د فرات
سيند د علاقې نه واخله د فلستيانو مُلک او د مِصری سرحد
پورې د ټولو بادشاهانو نه عظيم بادشاه وو. ۲۷ د هغۀ د
بادشاهۍ په دوران کښې سپين زر په يروشلم کښې د کاڼو په
شان عام ؤو او دِيار د يهوداه د غرونو په لمن کښې د عام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چِنار په شان ډېر تېر وُو. ۲۸ سليمان د مِصر او د نورو
ډېرو مُلکونو نه آسونه راوستل.

## د حضرت سليمان د بادشاهۍ خلاصه

۲۹ د سليمان د اول نه واخله تر آخره پورې باقی پاتې تاريخ
د ناتن پېغمبر په تاريخ کښې، د سيلا د اخياه په پېشګويۍ
کښې او د عدو پېغمبر په پېشګويۍ کښې ليکلے شوی دی،
چې هغه د يربعام زوئ د نباط په حقله هم خبرې کوی. ۳۰
سليمان په ټولو بنی اِسرائيلو باندې په يروشلم کښې څلوېښت
کاله بادشاهی وکړه. ۳۱ هغه مړ شو او د داؤد په ښار کښې
ښخ شو او د هغهٔ زوئ رحُبعام د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ
شو.

## د شمالی قبيلو بغاوت کول

۱۰ ۱ رحُبعام شِکم ته لاړو، چرته چې د شمالی بنی
اِسرائيل ټول خلق د دې دپاره راغونډ وُو چې هغه بادشاه
جوړ کړی. ۲ کله چې د نباط زوئ يربعام څوک چې د
سليمان بادشاه نه مِصر ته تښتېدلے وو، دا خبر واورېدو نو
هغه کور ته واپس راغلو. ۳ د شمالی قبيلو خلقو هغه
راوغوښتلو او هغوئ ټول په يو ځائ رحُبعام له لاړل او هغهٔ
ته يې ووئيل، ۴ ”ستا پلار په مونږ باندې درانهٔ بوجونه اېښی
دی. کهٔ تهٔ دا بوجونه سپک کړې او زمونږ دپاره ژوند آسان
کړې، نو مونږ به ستا وفادار خلق شُو.“ ۵ رحُبعام ورته
ووئيل، ”ما له په دې مسئله باندې د سوچ کولو دپاره درې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځې راکړئ. او بيا راشئ.“ نو خلق لاړل. ۶ رحُبعام
بادشاه د هغه بوډاګانو سره مشوره وکړه کومو چې د
هغهٔ د پلار سليمان د مشيرانو په توګه خِدمت کړے وو. هغهٔ
ترې نه تپوس وکړو، ”تاسو ما له څهٔ مشوره راکوئ چې دې
خلقو له څهٔ جواب ورکړم؟“ ۷ هغوئ ورته ووئيل، ”کهٔ ته
په دې خلقو باندې مِهربانه يې او د عقلمندئ جواب ورکولو
په ذريعه د هغوئ خوشحالولو کوشش وکړې، نو هغوئ به په
وفادارئ سره هميشه ستا خِدمت کوی.“ ۸ خو هغهٔ د
بوډاګانو سره مشورې ته غوږ ونهٔ نيولو او د هغې په ځائ
دے زلمو له لاړو کوم چې ورسره لوئ شوی وُو او اوس هم
ورسره وُو. ۹ هغهٔ ترې نه تپوس وکړو، ”تاسو ما له د څهٔ
کولو مشوره راکوئ؟ زهٔ هغه خلقو ته څهٔ ووايم چې هغوئ ما
ته وائی چې د هغوئ بوجونه سپک کړم؟“ ۱۰ هغوئ جواب
ورکړو، ”تا له په کار دی چې هغوئ ته داسې ووائې چې زما
کچه ګوته زما د پلار د ملا نه مضبوطه ده. ۱۱ هغوئ ته
ووايه چې زما پلار په تاسو باندې درانهٔ بوجونه اېښی دی، زهٔ
به دا نور هم درانهٔ کړم. هغهٔ تاسو په کوړو وهلئ، خو زهٔ به
تاسو په داسې کوړو ووهم چې لکه د لړم ټک به ورکوی.“
۱۲ درېم ورځې وروستو يربعام او نور ټول خلق رحُبعام
بادشاه له راواپس شول، لکه څنګه چې هغهٔ هغوئ له حُکم
ورکړے وو. ۱۳ بادشاه د بوډاګانو سره نصيحت ته غوږ
ونهٔ نيولو او خلقو ته يې سختې خبرې وکړې، ۱۴ هم هغه
شان چې څنګه هغه زلمو مشوره ورکړې وه. هغهٔ ووئيل،
”زما پلار په تاسو باندې درانهٔ بوجونه کېښودل او زهٔ به دا
نور هم درانهٔ کړم. هغهٔ تاسو په کوړو وهلئ خو زهٔ به تاسو په
داسې کوړو ووهم چې لکه د لړم ټک به ورکوی.“ ۱۵ دا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ، خُدائ پاک مرضی وه چې هغه څۀ وکړی چې
څۀ يې د نباط زوئ يربعام ته د سيلا د اخياه پيغمبر په ذريعه
فرمائيلی وُو. نو دا ځکه بادشاه خلقو ته هيڅ غوږ ونۀ نيولو.
١٦ کله چې خلقو ته پته ولګېده چې بادشاه هغوئ ته غوږ نۀ
نيولو، نو هغوئ چغه ووهله، ”داؤد او د هغۀ خاندان مرده باد.
هغوئ زمونږ دپاره څۀ کړی دی؟ اے بنی اِسرائيلو، راځئ
چې کورونو ته لاړ شُو. رحُبعام پرېږدئ چې د خپل ځان
خيال وساتی.“ نو داسې بنی اِسرائيلو بغاوت وکړو، ١٧ او
رحُبعام يې صرِف د هغه خلقو بادشاه پرېښودو کوم چې د
يهوداه په علاقه کښې اوسېدل. ١٨ رحُبعام بادشاه ادونرام
راوغوښتو، کوم چې د هغه مزدورانو مشر وو چې په زور
ترې نه کار اخستے شو، چې هغه بنی اِسرائيلو له لاړ شی،
خو هغوئ دے په سنګسارولو مړ کړو. نو په دې باندې
رحُبعام سمدستی په خپله جنګی ګاډۍ کښې سور شو او
يروشلم ته وتښتېدو. ١٩ نو هم د هغه وخت نه واخله د بنی
اِسرائيل مُلک د شمالی بادشاهۍ خلق د داؤد د شاهی خاندان
خِلاف بغاوت کوی.

## د سمعياه پيشګوئي

١١ ١ کله چې رحُبعام بادشاه يروشلم ته ورسېدو، نو
هغۀ د يهوداه او بنيامين د قبيلو نه يو سل او اتيا زره تکړه
فوجيان راغونډ کړل. د هغۀ اراده دا وه چې جنګ له لاړ شی
او د بنی اِسرائيلو په شمالی قبيلو باندې خپل اختيار بيا بحال
کړی. ٢ خو د مالِک خُدائ کلام په سمعياه پيغمبر نازل
شو چې، ٣ رحُبعام بادشاه او د يهوداه او بنيامين قبيلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو خلقو له دا پيغام ورکړی، ۴ ”په خپلو بنی اِسرائيلو
باندې حمله مۀ کوئ. ټول کورونو ته لاړ شئ. چې څۀ شوی
دی هغه زما مرضی وه.“ نو هغوئ د مالِک خُدائ حُکم ومنلو
او د يربعام خِلاف جنګ له لا نۀ ړل.

## د رحُبعام د ښارونو نه دېوالونه تاوول

۵ رحُبعام په يروشلم کښې پاتې شو او د يهوداه او بنيامين
دې ښارونو نه يې پاخۀ دېوالونه تاو کړل: ۶ بيت‌لحم، ايتام،
تقوع، ۷ بيت‌صور، شوکو، عدولام، ۸ جات، مريسه،
زيف، ۹ ادورائيم، لکيس، عزيقه، ۱۰ صُرعا، ايالون او
حبرون. ۱۱ هغۀ د دې ښارونو نه ښۀ پاخۀ دېوالونه تاو کړل
او په هر يو باندې يې يو فوجی مشر مقرر کړو او د هر يو
دپاره يې د خوراک، زيتُونو تېلو او ميو بندوبست وکړو، ۱۲
او ډالونه او نېزې يې پرې کېښودې. نو داسې هغۀ يهوداه او
بنيامين د خپل قابو لاندې وساتل.

## د اِمامانو او ليويانو يهوداه له راتلل

۱۳ د بنی اِسرائيلو د ټولو علاقو اِمامان او ليويان د يهوداه
جنوبی طرف ته راتلل. ۱۴ ليويانو د څرن زمکې او خپل
جائيدادونه پرېښودل او يهوداه او يروشلم ته لاړل، ځکه چې د
اِسرائيل بادشاه يربعام او د هغۀ زامنو هغوئ دې ته نۀ
پرېښودل چې د مالِک خُدائ د اِمامانو په توګه خِدمت
وکړی. ۱۵ يربعام خپل اِمامان مقرر کړل چې هغوئ په
علاقائی عبادتخانو کښې خِدمت کوی چې هلته د هغه چيلو او
سخو په شکل د بُتانو عبادت کوی چې کوم هغۀ جوړ کړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤُو. ١٦ د بنی اِسرائيلو د ټولو قبيلو نه کومو خلقو چې د زړهٔ
د اخلاصه د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک
عبادت کول غوښتل نو هغوئ ليويانو پسې يروشلم ته لاړل، د
دې دپاره چې هغوئ د مالِک خُدائ د هغوئ د پلار نيکهٔ
خُدائ پاک ته نذرانې پېش کړی. ١٧ نو په دې باندې د
يهوداه بادشاهی مضبوطه شوه او درې کاله يې د سليمان د
زوئ رحُبعام ملګرتيا کوله او هغوئ هم هغه شان ژوند تېرولو
لکه څنګه چې د داؤد بادشاه او سليمان بادشاه د حکومت
لاندې ؤُو.

## د رحُبعام خاندان

١٨ رحُبعام محلت وادهٔ کړه، چې د هغې پلار د داؤد زوئ
يريموت وو او د هغهٔ مور ابی‌خېل وه، چې د اِلياب لور او د
يَسی نمسئ وه. ١٩ د هغوئ درې زامن ؤُو، يعوس، سمرياه
او زهم. ٢٠ وروستو هغهٔ معکه وادهٔ کړه چې د ابی‌سلوم لور
وه او د هغوئ څلور زامن ؤُو، ابياه، عتی، زيزا او سلوميت.
٢١ د رحُبعام ټولې اتلس ښځې او شپېتهٔ وينځې وې او هغه
د اتهٔويشتو زامنو او شپېتو لوڼو پلار وو. هغهٔ د خپلو ټولو
ښځو او د وينځو نه د معکه سره زياته مينه کوله، ٢٢ او په
هغهٔ باندې د هغې زوئ ابياه د نورو ټولو بچو نه زيات ګران
وو، نو په دې وجه هغه يې د دې دپاره خوښ کړو چې د هغهٔ
نه پس بادشاه جوړ شی. ٢٣ رحُبعام د هوښيارتيا نه دومره
کار واخستو چې خپل زامن يې د يهوداه او بنيامين د پَخو
دېوالونو په ټولو ښارونو کښې مقرر کړل. هغوئ له يې ښهٔ ډېر
خوراک ورکړو او هغوئ هر يو ته يې ښی ډېرې ښځې وادهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي.

## په یهوداه باندې د مِصریانو حمله کول

۱۲ ۱ خنګه چې رحُبعام ته د بادشاهۍ اختیار مِلاو شو،
او هغه ډېر قوی شو او قوی لوئ شو، نو هغهٔ او د هغهٔ ټولو
خلقو د مالِک خُدائ قانون پرېښودو. ۲ د رحُبعام د
بادشاهۍ په پینځم کال د مالِک خُدائ سره د بې‌وفایۍ په وجه
هغوئ ته سزا مِلاو شوه. د مِصر بادشاه سیساق په یروشلم
باندې حمله وکړه ۳ چې د هغهٔ سره د دولسو سوو جنګی
ګاډو لښکر، شپېته زره په آسونو سوارهٔ کسان او ډېر فوجیان
وُو چې بې‌شمېره وُو، چې په دې کښې د لیبیا، سکی او د
ایتهوپیا فوجیان شامل وُو. ۴ هغهٔ د یهوداه د پَخو دېوالونو
والا ښارونه قبضه کړل او د یروشلم پورې وړاندې لاړو. ۵
سمعیاه پیغمبر رحُبعام بادشاه او د یهوداه هغه مشرانو له
لاړو کوم چې په یروشلم کښې سیساق نه د تښتېدو دپاره
راغونډ شوی وُو. هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل، ”ستاسو دپاره د
مالِک خُدائ پیغام دا دے چې تاسو زهٔ مالِک خُدائ
پرېښودم نو دا ځکه ما تاسو سیساق ته پرېښودئ.“ ۶ نو
بادشاه او مشرانو په عاجزۍ سره دا ومنله چې هغوئ ګناه
کړې ده او هغوئ ووئیل، ”مالِک خُدائ چې څهٔ کوی نو هغه
صحیح دی.“ ۷ کله چې مالِک خُدائ دا ولیدل نو هغهٔ
سمعیاه ته بیا کلام وکړو او ورته یې وفرمائیل، ”هغوئ خپله
ګناه ومنله نو زهٔ به هغوئ نهٔ تباه کوم. خو چې کله سیساق
حمله وکړی، نو د هغوئ لږ کسان به ژوندی پاتې شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یروشلم ته به زما د غصې پوره پته ونهٔ لګی، ۸ خو سیساق
به هغوئ فتح کړی، نو هغوئ ته به زما د خِدمت او د دُنیاوی
بادشاهانو د خِدمت کولو فرق معلوم شی.“ ۹ سیساق
بادشاه یروشلم ته راغلو او د مالِک خُدائ د کور او د محل نه
یې خزانې یوړې. هغهٔ هر څهٔ یوړل سره د هغه ډالونو چې
سلیمان بادشاه د سرو زرو نه جوړ کړی وُو. ۱۰ د هغې په
ځائ رحُبعام د زیړو ډالونه جوړ کړل او د هغه آفسرانو په
حواله یې کړل چې هغوئ د محل د دروازو د څوکیدارۍ ذمه
وار وُو. ۱۱ هر ځل به چې بادشاه د مالِک خُدائ کور ته
تلو، نو څوکیدارانو به ډالونه د ځان سره وړل او بیا به یې
واپس جمع کول. ۱۲ هغهٔ خپل ځان مالِک خُدائ ته حواله
کړو نو په دې وجه د مالِک خُدائ غصې هغه پوره تباه نهٔ
کړو او د یهوداه کارونه سم وُو.

## د رحُبعام د بادشاهۍ خلاصه

۱۳ رحُبعام په یروشلم کښې بادشاهی کوله او د خپلې
بادشاهۍ طاقت یې زیات کړو. هغه د یو څلوېښتو کالو وو
چې هغه بادشاه شو او هغهٔ اوولس کاله په یروشلم بادشاهی
وکړه، دا هغه ښار وو چې مالِک خُدائ دا د بنی اِسرائیلو د
ټولې علاقې نه د داسې ځائ په توګه خوښ کړے وو چرته به
چې د هغهٔ عبادت کیږی. د رحُبعام مور نعمه وه چې هغه د
عمون د مُلک وه. ۱۴ نو هغهٔ بدکاری کوله، ځکه چې هغهٔ د
مالِک خُدائ د مرضۍ د معلومولو کوشش نهٔ کولو. ۱۵ د
رحُبعام د اول نه واخله تر آخره پورې کارنامې او د هغهٔ د
خاندان حِساب کِتاب د سمعیاه پیغمبر په تاریخ کښې او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عدو پېغمبر په تاريخ کښې ملاويږی. رحُبعام او يربعام
مسلسل د يو بل خِلاف د جنګ په حالت کښې وُو. ۱۶
رحُبعام مړ شو او د داؤد ښار په شاهی اديره کښې ښخ شو
او د هغهٔ زوئ ابياه د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د ابياه د يربعام سره جنګ

۱۳ ۱ د اِسرائيل د بادشاه يربعام د بادشاهۍ په اتلسم
کال، ابياه د يهوداه بادشاه شو، ۲ هغهٔ په يروشلم باندې
درې کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور ميکاياه وه چې هغه د
جبعه د اوری‌ايل لور وه. د ابياه او يربعام په مينځ کښې
جنګ ونښتو. ۳ ابياه د څلورو لاکو فوجيانو يو لښکر جوړ
کړو او يربعام د اتو لاکو فوجيانو سره د هغهٔ مقابله وکړه.
۴ لښکرې د اِفرائيم د غرونو په وطن کښې مِلاو شوې.
ابياه بادشاه د صمريم غرهٔ ته وختلو او يربعام او اِسرائيل ته
يې آواز وکړو او ورته يې ووئيل، ”ما ته غوږ ونيسئ. ۵
تاسو ته پته نشته چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک
د داؤد سره يو نهٔ ختمېدونکے لوظ وکړو، چې هغهٔ او د هغهٔ
اولاد له يې په اِسرائيل باندې د همېشه دپاره بادشاهی ورکړه؟
۶ د نباط زوئ يربعام د خپل بادشاه سليمان خِلاف بغاوت
وکړو. ۷ بيا د بې‌کاره بدمعاشانو يوه ډله د يربعام سره
ملګرې شوه او هغوئ د سليمان زوئ رحُبعام خِلاف په هغه
وخت کښې بغاوت وکړو کله چې هغه ډېر وړوکے او
ناتجربه‌کاره وو او د هغوئ مقابله يې نهٔ شوه کولے. ۸
اوس ستاسو اراده دا ده چې د شاهی طاقت خِلاف دې جنګ
وشی کوم چې مالِک خُدائ د داؤد اولاد له ورکړے دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو سره يو لوئ لښکر دے او تاسو سره د سرو زرو هغه
سخی دی چې يربعام د دې دپاره جوړ کړی دی چې ستاسو
معبودان شی. ٩ تاسو د هارون اولاد يعنې د مالِک خُدائ
اِمامان او ليويان هم وشړل. او هم هغه شان اِمامان مو مقرر
کړل لکه څنګه چې د غېرو قومونو خلق مقررروی. هر څوک
چې خپل ځان وقف کولو دپاره د يو غوَيی سره يا د اووهٔ
ګډانو سره راشی نو هغه د دې معبودانو اِمام جوړيدے شی.
١٠ خو مونږ تر اوسه پورې د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ
پاک خِدمت کوُو او مونږ هغه نهٔ دے پرېښودلے. د هارون د
اولاد اِمامان خپلې ذمه وارئ تر سره کوی او ليويان د هغوئ
مدد کوی. ١١ هر سحر او هر ماښام هغوئ هغهٔ ته
خوشبوئی او پوره سوزېدونکې نذرانې پېش کوی. هغوئ په
هغه مېز باندې د روټئ نذرانې پېش کوی کوم چې پاک دے
او هره شپه هغوئ د سرو زرو په ډيوټ باندې ډيوې بلوی.
مونږ د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک په اصُولو باندې عمل
کوُو، خو تاسو هغه پرېښے دے. ١٢ خُدائ پاک په خپله
زمونږ مشر دے او اِمامان د بيګلو سره ولاړ دی، چې د دې د
غږولو دپاره تيار دی چې مونږ ستاسو خِلاف د جنګ دپاره
راوغواړی. اے اِسرائيليانو، د مالِک خُدائ خِلاف جنګ مهٔ
کوئ، کوم چې ستاسو د پلار نيکهٔ خُدائ پاک دے. تاسو دا
جنګ نهٔ شئ ګټلے.“ ١٣ په دې دوران کښې يربعام خپل
څهٔ فوجيان پټ ځائ ته د دې دپاره لېږلی وُو چې د يهوداه
لښکر د شا د طرف نه ګېر کړی، چې هغه نور ورباندې د
مخې نه راغلل. ١٤ د يهوداه خلقو ګېرچاپېره وکتل او پته
ورته ولګېده چې هغوئ ګېر شوی دی. نو هغوئ مالِک خُدائ
ته د مدد دپاره چغه کړه او اِمامانو بيګلې وغږولې. ١٥ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه خلقو یوه درنه چغه ووهله او ابیاه هغوئ روان کړل او
هغوئ حمله وکړه، خُدائ پاک یربعام او د اِسرائیلو لښکر له
شکست ورکړو. ۱۶ اِسرائیلیان د یهوداه د خلقو نه وتښتېدل
او خُدائ پاک د یهوداه خلق په هغوئ باندې زورَور کړل. ۱۷
ابیاه او د هغۀ لښکر اِسرائیلیانو له یو خراب شکست ورکړو
او د اِسرائیلیانو پینځۀ لاکه تکړه فوجیان ووژلے شول. ۱۸
نو د یهوداه خلقو په اِسرائیلو باندې ځکه فتح ومونده، چې
هغوئ په مالِک خُدائ د هغوئ د پلار نیکۀ په خُدائ پاک
باندې ایمان لرلو. ۱۹ ابیاه د یربعام په لښکر پسې وو او د
هغۀ څۀ ښارونه یې قبضه کړل، بیت‌ایل، یسانه او عِفرون او د
دې ټولو ښارونو سره نزدې کلی یې قبضه کړل. ۲۰ یربعام
ته د ابیاه د بادشاهۍ په دوران کښې هیڅکله دوباره طاقت
مِلاو نۀ شو. او په آخر کښې مالِک خُدائ هغه ووهلو او هغه
مړ شو. ۲۱ خو ابیاه نور هم تکړه شو. د هغۀ څوارلس ښځې
وې او د دوویشتو زامنو او د شپاړسو لوڼو پلار وو. ۲۲ د
ابیاه باقی نور تاریخ یعنې چې هغۀ څۀ کړی او وئیلی وُو، هغه
د عدو پیغمبر په تاریخ کښې لیکلے شوی دی.

## د آسا بادشاه حبشیانو له شکست ورکول

۱۴ ۱ ابیاه بادشاه مړ شو او د داؤد د ښار په شاهی
اديره کښې ښخ شو. د هغۀ زوئ آسا د هغۀ نه پس بادشاه
جوړ شو، هغه وطن لس کاله د آسا د بادشاهۍ لاندې په امن
کښې وو. ۲ د آسا نه مالِک خُدائ د هغۀ خُدائ پاک
خوشحاله وو، ځکه چې هغه کار یې کولو چې کوم ښۀ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صحيح وو. ۳ هغهٔ د پردو خلقو قربانګاه او علاقائی
عبادتخانې لرې کړې، د کاڼو پاکې ستنې يې ماتې کړې او د
اشيرې د بُت نښې يې راوغورزولې. ۴ هغهٔ د يهوداه خلقو
له حُکم ورکړو چې د مالِک خُدائ پاک په مرضۍ کار کوی، کوم
چې د هغوئ د پلار نيکهٔ خُدائ پاک دے او د هغهٔ حُکمونه او
تعليمات منی. ۵ هغهٔ د يهوداه د هر يو ښار نه علاقائی
عبادتخانې د خوشبويۍ سوزولو ټولې قربانګاه ختمې کړې،
نو په دې وجه د هغهٔ د بادشاهۍ لاندې حکومت په امن کښې
وو. ۶ هغهٔ په خپل وخت کښې د يهوداه د ښارونو نه پاخهٔ
دېوالونه تاو کړل او تر ډېرې مودې پورې هلته جنګ نهٔ وو،
ځکه چې مالِک خُدائ هغهٔ له امن ورکړے وو. ۷ هغهٔ د
يهوداه خلقو ته وفرمائيل، ”راځئ چې ښارونه د دېوالونو،
برجونو، دروازو او سيخونو لګولو په ذريعه مضبوط کړُو. دا
مُلک ځکه زمونږ په قابو کښې دے چې مونږ د مالِک خُدائ
زمونږ د خُدائ پاک مرضی پوره کړې ده. هغهٔ مونږ محفوظ
کړی يُو او په هر لحاظ يې زمونږ حِفاظت کړے دے.“ نو
هغوئ دا جوړ کړل او کامياب شول. ۸ د آسا بادشاه سره
د يهوداه قبيلې د درې لاکو سړو يو لښکر وو، چې د هغوئ
سره ډالونه او نيزې وې، د بنيامين قبيلې نه ورسره د دوو
لاکو او اتيا زره سړو، چې ډالونه او نيزې ورسره وې. دا ټول
تکړه جنګيالی وُو. ۹ د ايتهوپيا بادشاه زارح د لسو لاکو
سړو د لښکر او د درېو سوو جنګی ګاډو سره په يهوداه حمله
وکړه او د مريسه پورې وړاندې لاړو. ۱۰ آسا د هغهٔ سره د
جنګ دپاره لاړو او د مريسه سره نزدې د صفاته په مېدان
کښې يې دواړو طرفونو ته د جنګ دپاره صفونه جوړ کړل.
۱۱ آسا مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته سوال وکړو، ”اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِکه خُدايه، تهٔ د تکړه لښکر په شان د يو کمزورى لښکر هم
په آسانئ سره مدد کولے شې. اے مالِکه خُدايه زمونږ خُدايه
پاکه، اوس زمونږ مدد وکړه، ځکه چې مونږ په تا اعتماد کوُو
او ستا په نوم د دې لوئ لښکر سره د جنګ دپاره راغلى يُو.
مالِکه خُدايه، تهٔ زمونږ خُدائ پاک يې، هيڅ څوک دا اُميد نهٔ
شى لرلے چې تا له شکست درکړى.“ ۱۲ کله چې د يهوداه
لښکر او د آسا لښکر حمله وکړه نو مالِک خُدائ د ايتهوپيا
لښکر له شکست ورکړو. نو د ايتهوپيا خلق وتښتېدل، ۱۳ او
آسا او د هغهٔ فوجيان تر جرار پورې په هغوئ پسې وُو. او
دومره ډېر د ايتهوپيا خلق وژلے شوى وُو چې هغوئ د جنګ
دپاره بيا نهٔ شول راغونډېدلے. هغوئ د مالِک خُدائ او د هغهٔ
د لښکر نه شکست خوړلے وو او د يهوداه لښکر ډېر زيات
مالِ غنيمت يوړو. ۱۴ بيا هغوئ د جرار نه ګېرچاپېره علاقه
کښې ښارونه تباه کړل، ځکه چې د هغه ځائ خلق د مالِک
خُدائ نه سخت يرېدلى وُو. نو لښکر هغه ټول ښارونه لوټ
کړل او ډېر زيات مالِ غنيمت يې يوړو. ۱۵ هغوئ د شپانو
په کېمپونو هم حمله وکړه او ډيرې زياتې ګډې او اوښان يې
بوتلل. بيا هغوئ يروشلم ته راواپس شول.

## د آسا بُتان ماتول

۱۵ ۱ د خُدائ پاک روح د عوبيد په زوئ عزرياه نازل
شو، ۲ او هغه د آسا سره مِلاويدو له لاړو. هغهٔ ورته
اوچت آواز وکړو، ”آسا بادشاه او د يهوداه او بنيامين ټولو
خلقو، ما ته غوږ ونيسئ. مالِک خُدائ تاسو سره دے چې تر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څو پورې تاسو د مالِک خُدائ سره يئ. کۀ تاسو د هغۀ طلب
وکړئ نو هغه به پېدا کړئ، خو کۀ تاسو ترې نه واوړئ، نو
هغه به تاسو پرېږدى. ۳ تر ډېره وخته پورې اِسرائيل د
حقيقى خُدائ پاک نه بغېر، د اِمامانو د ښودنې نه بغېر او بغېر
د يو قانون نه ژوند تېرولو. ۴ خو چې کله به مصيبت
راغلو، نو هغوئ به مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک ته
راوګرځېدل. هغوئ به د خُدائ پاک لټون وکړو او پېدا به يې
کړو. ۵ په هغه ورځو کښې به هيڅ څوک په حِفاظت سره
تلے راتلے نۀ شول، ځکه چې په هر مُلک کښې لويه ګډوډى
وه. ۶ يو قوم بل قوم خراب‌تُراب کړو او يو ښار بل ښار
درې ورې کړو، ځکه چې خُدائ پاک به په هغوئ باندې هر
قسم مصيبت راوستلو. ۷ خو تاسو تکړه شئ او
بې‌حوصلې کېږئ مه، او بيا چې تاسو کوم کار کوئ نو د
هغې به تاسو ته اِنعام ملاويږى.“ ۸ کله چې آسا د هغه
پېشګويۍ نه خبر شو چې د عوبيد زوئ عزرياه کړې وه، نو د
هغۀ حوصله مضبوطه شوه. نو هغۀ د يهوداه او بنيامين په
مُلک کښې او په هغه ښارونو کښې ټول پليت بُتان لرې کړل
چې کوم ښارونه يې د اِفرائيم د غرونو په مُلک کښې قبضه
کړى وُو. هغۀ د مالِک خُدائ هغه قربان‌ګاه هم بيا جوړه کړه
کومه چې د مالِک خُدائ د کور په دربار کښې ولاړه وه. ۹
د اِفرائيم، منسى او د شمعون قبيلو ډېر خلق د آسا په طرف
شوى وُو او د هغۀ په بادشاهۍ کښې اوسېدل، ځکه چې
هغوئ ته پته لګېدلې وه چې مالِک خُدائ د هغۀ مل دے. آسا
هغوئ ټول او د يهوداه او بنيامين خلق راوغوښتل. ۱۰ نو
هغوئ د آسا د بادشاهۍ په پينځلسم کال په دريمه مياشت په
يروشلم کښې راغونډ شول. ۱۱ په هغه ورځ هغوئ د هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِ غنیمت نه مالِک خُدائ ته نذرانې پېش کړې چې کوم
هغوئ قبضه کړے وو، اووهٔ سوه ښاروی او اووهٔ زره ګډان.
۱۲ هغوئ یو لوظ وکړو چې هغوئ به د زړهٔ د اخلاصه د
مالِک خُدائ د خپل پلار نیکهٔ د خُدائ پاک عبادت کوی. ۱۳
چې هر یو نر یا ښځې، ځوان یا بوډا به د هغهٔ عبادت نهٔ کولو
نو هغه به وژلے شول. ۱۴ نو هغوئ د مالِک خُدائ په نوم
په اوچت آواز سره قسم وکړو چې هغوئ به دا لوظ پوره
کوی او بیا هغوئ چغه ووهله او بیګلې یې وغږولې. ۱۵ د
یهوداه ټول خلق خوشحاله وُو ځکه چې هغوئ د زړهٔ د
اخلاصه لوظ کړے وو. هغوئ د مالِک خُدائ په عبادت
کښې خوشحاله وُو، مالِک خُدائ هغوئ قبول کړل او د ټولو
دشمنانو نه یې په امن کښې کړل. ۱۶ آسا بادشاه خپله نیا
معکه د مور مَلِکې د عُهدې نه لرې کړه، ځکه چې هغې د
اشیرې د بې‌شرمۍ بُت جوړ کړے وو. آسا دا بُت مات کړو،
ټوټې ټوټې یې کړو او د دې ټوټې یې د قِدرون په وادۍ کښې
وسوزولې. ۱۷ اګر چې آسا بیا هم په هغه مُلک کښې
علاقائی عبادتخانې تباه نهٔ کړې، خو هغه ټول عُمر د مالِک
خُدائ وفادار پاتې شو. ۱۸ هغهٔ د مالِک خُدائ په کور کښې
هغه ټول خیزونه کېښودل کوم چې د هغهٔ پلار ابیاه خُدائ
پاک ته وقف کړی وُو او داسې د سرو زرو او سپینو زرو هغه
څیزونه یې هم کېښودل چې کوم هغهٔ په خپله وقف کړی وُو.
۱۹ د هغهٔ د بادشاهۍ تر پینځهٔ دیرشم کال پورې نور جنګونه
نهٔ وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اِسرائيل مشکلات

۱۶ ۱ د آسا د بادشاهۍ په شپږ دېرشم کال، د اِسرائيل
بادشاه بعشا په يهوداه حمله وکړه او د راما نه يې د پَخو
دېوالونو تاوول شروع کړل دا دې دپاره چې د يهوداه بادشاه
آسا د علاقې نه د ټولو خلقو تګ راتګ بند کړی. ۲ نو آسا
د محل او د مالِک خُدائ د کور د خزانې نه سرۀ زر او سپين
زر واخستل او د دې پېغام سره يې د شام بادشاه بِن‌حدد له
دمشق ته ولېږل، ۳ "راځئ چې زمونږ د پلار نيکۀ په شان
په خپلو کښې ملګرې شُو. ګوره، زۀ تا له سرۀ زر او سپين
زر درلېږم. اوس د اِسرائيل بادشاه بعشا سره خپل اِتحاد
مات کړه نو داسې به هغه زما د علاقې نه خپل فوجيان
وياسی." ۴ بِن‌حدد د آسا دا مشوره ومنله او خپل فوجی
آفسران او خپل فوجيان يې ولېږل چې د اِسرائيل په ښارونو
حمله وکړی. هغوئ عيون، دان، ابيل‌بيت‌معکه او د نفتالی
هغه ټول ښارونه قبضه کړل چرته چې سامانونه جمع کولے
شول. ۵ کله چې بعشا بادشاه خبر شو چې څۀ شوی وُو،
نو هغۀ د راما نه پاخۀ دېوالونه جوړول بند کړل او کار يې
پرېښودو. ۶ بيا آسا بادشاه د ټول يهوداه نه سړی راغونډ
کړل او هغوئ له يې حُکم ورکړو چې هغه کاڼی او لرګی
راوړئ چې کوم بعشا په راما کښې استعمالول او هغوئ دا د
جبعه او د مصفاه ښارونو نه د پَخو دېوالونو تاوولو دپاره
استعمال کړل.

# حنانی پيغمبر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ په هغه وخت کښې حنانی پېغمبر آسا بادشاه له لاړو او
ورته يې وفرمائيل، "د مالِک خُدائ ستا د خُدائ پاک په ځائ
تا د شام په بادشاه بهروسه وکړه، نو په دې وجه د شام د
بادشاه لښکر ستا نه خلاص شوے دے. ۸ د ایتهوپیا او د
لیبیا د خلقو سره ډېر فوجیان او ډېرې جنګی ګاډی او په
آسونو سوارۀ کسان نۀ وُو څۀ؟ خو تا په مالِک خُدائ
بهروسه وکړه نو ځکه هغۀ تا له په هغوئ باندې فتح درکړه.
۹ مالِک خُدائ په ټوله دُنیا د دې دپاره نظر اچوی چې هغه
کسانو له طاقت ورکړی چې د چا زړۀ د اخلاصه د هغۀ
وفادار وی. تۀ څومره کم عقل يې. د اوس نه به تۀ په جنګ
کښې راګېر يې." ۱۰ په دې باندې آسا هغه پېغمبر ته دومره
غصه شو چې هغه يې په زنځيرونو وتړلو او قيد يې کړو. هم د
هغه وخت نه آسا د خلقو سره ظلم زياتے شروع کړو.

## د آسا د بادشاهۍ ختمېدل

۱۱ د اول نه واخله تر آخره پورې د آسا د بادشاهۍ ټولې
واقعې د اِسرائيل او یهوداه بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے
شوی دی. ۱۲ د خپلې بادشاهۍ په یو کم څلوېښتم کال آسا
د پښو د یو سخت مرض په وجه شل شو، خو بیا هم هغه
مالِک خُدائ ته د مدد دپاره ور ونۀ ګرځېدو او صرف
طبیبانو له لاړو. ۱۳ دوه کاله وروستو هغه مړ شو ۱۴ او
هغه په هغه قبر کښې ښخ شو کوم چې هغۀ د داؤد په ښار
کښې په یو غټ ګټ کښې خپل ځان دپاره جوړ کړے وو.
هغوئ د هغۀ ښخولو دپاره مصالحې او خوشبویۍ والا تېل
استعمال کړل او هغوئ د هغۀ په مرګ باندې د غم دپاره یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوئ اور بل کړو.

## د يهوسفط بادشاه جوړيدل

۱۷ ۞۱ يهوسفط د خپل پلار آسا نه پس بادشاه جوړ شو
او د اِسرائيل خِلاف يې خپل ځان مضبوط کړُو. ۞۲ هغهٔ د
يهوداه د پَخو دېوالونو په ښارونو کښې، د يهوداه په مُلک
کښې او د اِفرائيم د علاقې په هغه ښارونو کښې کوم چې آسا
قبضه کړې وُو، فوجيان مقرر کړل. ۞۳ مالِک خُدائ د
يهوسفط مل وو ځکه چې هغه د خپل پلار په هغه نقش قدم
باندې روان وو لکه څنګه چې داؤد د بادشاهۍ په شروع کښې
ښهٔ وو او يهوسفط د بعل عبادت ونهٔ کړو. ۞۴ هغهٔ د خپل
پلار د خُدائ پاک خِدمت کولو او د خُدائ پاک حُکمونه يې
منل او هغه شان عمل يې نهٔ کولو څنګه چې د اِسرائيل
بادشاهانو کول. ۞۵ مالِک خُدائ د يهوداه په بادشاهۍ باندې
د يهوسفط قابو مضبوطه کړه او ټولو خلقو به هغهٔ له تُحفې
راوړلې، نو داسې هغه مالداره او ډېر عزتمند شو. ۞۶ هغهٔ
خپل ځان د مالِک خُدائ کار ته وقف کړے وو او علاقائی
عبادتخانې او د اشيرې بُت نښې يې په يهوداه کښې تباه کړې.
۞۷ هغهٔ د خپلې بادشاهۍ په دريم کال دا آفسران وليږل چې
د يهوداه په ښارونو کښې تعليم ورکړی، بِن‌خېل، عبدياه،
زکرياه، نتنی‌ايل او ميکاياه. ۞۸ د هغوئ سره نهٔ ليويان او
دوه اِمامان ملګری وُو. ليويان دا وُو، سمعياه، نتنياه، زبدياه،
عساهيل، سميراموت، يونتن، ادونياه، طوبياه او طوب
ادونياه، او اليسمع او يهورام اِمامان وُو. ۞۹ هغوئ د مالِک
خُدائ د تورات کِتاب واخستلو او د يهوداه ټولو ښارونو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړل او خلقو له يې تعليم ورکولو.

## د يهوسفط عظمت

١٠ په ګېرچاپېره حکومتونو باندې د مالِک خُدائ يره راغله
نو هغوئ د يهوسفط خِلاف جنګ نۀ شو کولے. ١١ څۀ
فلستيانو يهوسفط له په يو لوئ مِقدار کښې سپين زر او نورې
تُحفې راوړې او څۀ عربو ورله اووۀ زره او اووۀ سوه ګډان
او اووۀ زره او اووۀ سوه چېلۍ راوستلې. ١٢ نو يهوسفط
نوره هم ترقي کوله او تکړه کېدو. هغۀ په يهوداه کښې ځائ په
ځائ قلعې او د ښارونو ګودامونه جوړ کړل، ١٣ چرته چې
په لوئ مِقدار کښې د هغوئ سامانونه جمع شوی وُو. هغۀ په
يروشلم کښې تکړه آفسران مقرر کړل، ١٤ د هغۀ لښکر د
قبيلو په مطابق جوړ شوے وو. عدنه د يهوداه د ډلو د
فوجيانو مشر وو او درې لاکه فوجيان د هغۀ د واک اختيار
لاندې وُو. ١٥ يهوحنان په هغۀ پسې دويم کس وو، چې د
هغۀ سره دوه لاکه او اتيا زره فوجيان وُو، ١٦ دريم د زِکرى
زوئ عمسياه وو، چې د هغۀ سره دوه لاکه فوجيان وُو. او
عمسياه به په رضاکارانه توګه د مالِک خُدائ خِدمت کولو.
١٧ د بنيامين د ډلو د فوجيانو مشر اليدع وو، چې هغه يو
ډېر تکړه فوجی وو، هغه د دوو لاکو فوجيانو مشر وو چې
ډالونه او ليندې ورسره وې. ١٨ په هغۀ پسې دويم مشر
يهوزبد وو چې د هغۀ سره يو سل او اتيا زره سړی وُو، چې
ښۀ جنګی سامان ورسره وو. ١٩ دې سړو په يروشلم کښې
د بادشاه خِدمت کولو او د دې نه علاوه هغۀ د يهوداه د پَخو
ديوالونو په ښارونو کښې نور فوجيان هم مقرر کړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د میکایاه پیغمبر اخی‌اب له خبردارے ورکول

۱۸ ١ نو یهوسفط ډېر دولتمند او عزتمند شو او
یهوسفط خپل زوئ ته د اخی‌اب لور وادۀ کړه نو داسې هغه د
اخی‌اب ملګرے شو. ٢ یو څو کاله وروستو یهوسفط د
اخی‌اب سره مِلاوېدو دپاره د سامریه ښار ته لاړو. د یهوسفط
او د هغۀ د کسانو په درناوی کښې اخی‌اب د یوې مېلمستیا
په توګه ډېر ګډان او څاروی حلال کړل. هغۀ یهوسفط دې ته
جوړولو چې په رامات‌جِلعاد ښار باندې دواړه په یو ځائ
باندې حمله وکړی. ٣ هغۀ ورنه تپوس وکړو، "تۀ به
رامات‌جِلعاد باندې د حملې کولو دپاره ما سره لاړ شې؟"
یهوسفط جواب ورکړو، "کله چې تۀ تیار شې نو زۀ او زما
فوج تیار یُو. مونږ به تا سره ملګری شُو." ٤ بیا هغۀ بادشاه
ته دا هم ووئیل، "خو اول لږه د مالِک خُدائ سره مشوره
وکړه." ٥ نو اخی‌اب پیغمبران راوغوښتل چې تقریباً څلور
سوه وُو او د هغوئ نه یې تپوس وکړو، "ما له رامات‌جِلعاد ته
تلل په کار دی او کۀ نه؟" هغوئ ورته وفرمائیل، "حمله پرې
وکړه، خُدائ پاک به تا له فتح درکړی." ٦ خو یهوسفط
ترې نه تپوس وکړو، "داسې یو بل پیغمبر نشته څۀ چې د هغۀ
په ذریعه مونږ د مالِک خُدائ سره مشوره وکړُو؟" ٧
اخی‌اب ورته ووئیل، "یو بل پیغمبر هم شته دے چې د اِمله
زوئ میکایاه دے. خو زۀ د هغۀ نه نفرت کوم ځکه چې هغۀ
هیڅکله زما دپاره ښۀ پېشګوئې نۀ ده کړې، هغه همېشه بده
پېشګوئې کوی." یهوسفط ورته ووئیل، "تا له داسې وئیل نۀ
دی په کار." ٨ نو اخی‌اب بادشاه د دربار یو آفسر
راوغوښتو او ورته یې ووئیل چې لاړ شه او سمدستی میکایاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوله. ۹ هغه دوه بادشاهان د سامريه د دروازې نه لږ بهر
په درمند کښې په خپلو تختُونو باندې ناست وُو چې خپلې
شاهی چُوغې يې اغوستې وې او ټولو پيغمبرانو د هغوئ په
مخکښې پيشګوياني ورکولې. ۱۰ د هغوئ نه يو پيغمبر د
کنعانه زوئ صدقياه د اوسپنې ښکر جوړ کړی وُو او اخی‌اب
ته يې وفرمائيل، "مالِک خُدائ داسې فرمائی چې په دې
ښکرونو به د شام خلق وهی چې برباد شی." ۱۱ نورو ټولو
پيغمبرانو هم دغه شان وفرمائيل. هغوئ وفرمائيل، "د
رامات‌جِلعاد خِلاف روان شه او تهٔ به فتح ومومې، مالِک
خُدائ به تا له فتح درکړی." ۱۲ په دې دوران کښې کوم
آفسر چې د ميکاياه د راوستو دپاره تلے وو نو هغهٔ ورته
ووئيل، "ټولو پيغمبرانو د بادشاه د کاميابۍ پيشګوئې ورکړې
ده، نو ستا دپاره به ښهٔ وی چې تهٔ هم داسې وکړې." ۱۳ خو
ميکاياه ورته وفرمائيل، "زهٔ د ژوندی مالِک خُدائ په نوم قسم
کوم چې زهٔ به هم هغه څهٔ وايم چې څهٔ ما ته خُدائ پاک
فرمائی." ۱۴ کله چې هغه د اخی‌اب په مخکښې حاضر شو
نو بادشاه ترې نه تپوس وکړو، "ميکاياه، يهوسفط بادشاه او
زهٔ په رامات‌جِلعاد باندې د حملې کولو دپاره لاړ شُو او کهٔ
نه؟" نو هغهٔ جواب ورکړو، "آو، حمله پرې وکړه، تهٔ به
کامياب شې، هغوئ به ستا د واک اختيار لاندې راشی." ۱۵
خو اخی‌اب ورته ووئيل، "کله چې تهٔ ما سره د مالِک خُدائ
په نوم خبرې کوې نو رښتيا رښتيا وايه. دا به زهٔ تا ته څو
ځلې وايم؟" ۱۶ ميکاياه ورته وفرمائيل، "زهٔ د اِسرائيل لښکر
ګورم چې په غرونو باندې داسې خور دے لکه چې د شپون
نه بغير ګډې خورې ورې وی. او مالِک خُدائ وفرمائيل چې
د دې سړو مشر نشته، نو هغوئ پرېږده چې په خير سره
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کورونو ته لاړ شی.“ ۱۷ اخی‌اب یهوسفط ته ووئیل، ”ما تا ته
وئیلی دی چې هغهٔ زما دپاره هیڅکله هم ښهٔ پېشګوئي نهٔ ده
کړې، هغه همېشه بده پېشګوئي کوی.“ ۱۸ میکایاه دا هم
وفرمائیل چې، ”اوس چې څهٔ مالِک خُدائ فرمائی نو هغې ته
غوږ ونیسئ. ما ولیدل چې مالِک خُدائ په آسمان کښې په
خپل تخت باندې ناست دے او د هغهٔ ټولې فرښتې د هغهٔ یو
طرف او بل طرف ته ولاړې دی. ۱۹ مالِک خُدائ تپوس
وکړو چې اخی‌اب به څوک دوکه کړی چې هغه لاړ شی او په
رامات‌جِلعاد کښې ووژلے شی؟ نو څهٔ فرښتو یو څهٔ
وفرمائیل او هغه نورو بل څهٔ وفرمائیل، ۲۰ نو په دې کښې
یو روح وروړاندې شو او مالِک خُدائ ته ورنزدې شو او وې
وئیل چې زهٔ به هغه دوکه کړم. او مالِک خُدائ ترې نه تپوس
وکړو چې څنګه؟ ۲۱ هغه روح ورته ووئیل چې زهٔ به لاړ شم
او د اخی‌اب په ټولو پېغمبرانو به دروغ ووایم. مالِک خُدائ
وفرمائیل چې لاړ شه او هغه دوکه کړه. تهٔ به کامیاب شې.“
۲۲ او میکایاه په آخر کښې دا وفرمائیل چې، ”مالِک خُدائ
ستا پېغمبران مجبور کړی دی چې دروغ ووائی. خو هغهٔ په
خپله دا اِعلان کړے دے چې په تا باندې به یو افت راشی.“
۲۳ بیا صدقیاه پېغمبر میکایاه له ورَغلو، هغهٔ له یې په مخ
څپېړه ورکړه او تپوس یې ترې نه وکړو، ”د کوم وخت نه د
مالِک خُدائ روح زما نه تلے دے او تا سره خبرې کوی؟“
۲۴ میکایاه ورته وفرمائیل، ”تا ته به هغه وخت پته ولګی چې
کله تهٔ شا ته په یوه کوټه کښې پټ شې.“ ۲۵ بیا اخی‌اب
بادشاه خپل یو آفسر له حُکم ورکړو، ”میکایاه ونیسه او د
ښار حاکِم امون او یوآس شهزاده له یې بوځه. ۲۶ او هغوئ
ته ووایه چې هغه په قېدخانه کښې واچوی او چې ترڅو پورې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زهٔ په خېر سره راغلے نهٔ يم نو چې هغهٔ له د اوبو او روټۍ نه
بغېر هيڅ ورنهٔ کړى.“ ٢٧ ميکاياه په اوچت آواز سره
وفرمائيل، ”کهٔ تهٔ په خېر سره واپس راغلې، نو بيا به مالِک
خُدائ زما په ذريعه کلام نهٔ وى کړے.“ او هغهٔ دا هم
وفرمائيل، ”ما چې څهٔ وئيلى دى ټول هغه واورئ.“

## د اخيأب مرګ

٢٨ بيا د اِسرائيل بادشاه اخيأب او د يهوداه بادشاه
يهوسفط په رامات‌جِلعاد ښار باندې د حملې دپاره لاړل. ٢٩
اخيأب يهوسفط ته ووئيل، ”کله چې مونږ جنګ له لاړ شُو،
نو زهٔ به خپل شکل بدل کړم، خو تهٔ خپل شاهى لِباس
واغونده.“ نو د اِسرائيل بادشاه جنګ له لاړو او خپل شکل
يې بدل کړے وو. ٣٠ د شام بادشاه د خپلو جنګى ګاډو
مشرانو له حُکم ورکړے وو چې د اِسرائيل د بادشاه نه بغېر
په هيچا باندې حمله ونهٔ کړئ. ٣١ نو کله چې هغوئ
يهوسفط بادشاه وليدو، نو د هغوئ ټولو خيال دا وو چې ګنې
هغه د اِسرائيل بادشاه وو او هغوئ په هغهٔ باندې د حملې
کولو دپاره ورغلل. خو يهوسفط يوه چغه ووهله او مالِک
خُدائ، خُدائ پاک هغه بچ کړو او د هغهٔ نه يې حمله بل خوا
کړه. ٣٢ د جنګى ګاډو مشرانو ته پته ولګېده چې هغه د
اِسرائيل بادشاه نهٔ وو، نو هغوئ په هغهٔ پسې نور لا نهٔ ړل.
٣٣ خو يو شامى فوجى يو غشے د اِسرائيل په لښکر
ورګزار کړو او اتفاقاً اخيأب بادشاه د هغهٔ د زغرې د جوړ
په مينځ باندې ولګېدو. نو هغهٔ د خپلې جنګى ګاډۍ چلوونکى
ته آواز وکړو، ”زهٔ زخمى شوم، واپس شه او د جنګ نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووځه.“ ۳۴ کله چې جنګ سخت وو، نو اخیٔاب بادشاه په
خپله جنګى ګاډۍ کښې ايسار وو او تکيه يې وهلې وه او
شاميانو ته يې مخ وو. نو په ماښام کښې هغه مړ شو.

## د يو پېغمبر يهوسفط رټل

۱۹ ۱ د يهوداه، يهوسفط بادشاه په يروشلم کښې په خير
سره خپل محل ته واپس راغلو. ۲ د حنانى زوئ ياهُو
پېغمبر د بادشاه سره مِلاوېدو له ورَغلو او ورته يې وفرمائيل،
”ستا په خيال کښې دا صحيح خبره ده چې د هغه خلقو مدد
وکړے شى چې کوم بدعمله دى او د هغه خلقو طرفدارى
وکړے شى چې څوک د مالِک خُدائ نه نفرت کوى؟ تا چې
څهٔ کړى دى د هغې په وجه تا په خپل ځان باندې د مالِک
خُدائ غصه راپارولې ده. ۳ خو بيا هم، په تا کښې څهٔ
خوبۍ هم شته دے. تا د اشيرې بُت تولې نښې ورانې کړې
چې خلقو د هغې عبادت کولو او تا د خُدائ پاک د طلب
کلکه اراده کړې وه.“

## د يهوسفط د لانجو هوارولو دپاره قاضيان مقررول

۴ اګر چې يهوسفط په يروشلم کښې اوسېدو، هغهٔ به هر
وخت په جنوب کښې د بيرسبع نه واخله په شمال کښې د
غرونو مُلک اِفرائيم تر غاړې پورې سفر کولو، دا د دې دپاره
چې خلق مالِک خُدائ د هغوئ پلار نيکهٔ خُدائ پاک ته واپس
راوغواړى. ۵ هغهٔ د يهوداه د پَخو دېوالونو په هر يو ښار
کښې قاضيان مقرر کړل ۶ او هغوئ ته يې دا اصُول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وښودل، ”په فېصلو کولو کښې د احتياط نه کار اخلئ، تاسو
به د خلقو د خوښې په مطابق فېصلې نۀ کوئ، بلکې د مالِک
خُدائ په مرضۍ به کار کوئ او چې کله تاسو يوه فېصله
کوئ نو مالِک خُدائ به ستاسو مل وی. ۷ د مالِک خُدائ
نه په يره کښې اوسئ او په فېصلو کولو کښې د احتياط نه
کار اخلئ، ځکه چې د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک سره
نۀ بې‌اِنصافی شته، نۀ طرفدارے او نۀ رشوت.“ ۸ يهوسفط
په يروشلم کښې ليويان، اِمامان او د ښار څۀ مشران
اوسېدونکی قاضيان مقرر کړل، چې د مالِک خُدائ دپاره
فېصلې کوی، او د يروشلم د اوسېدونکو لانجې هواروی. ۹
هغۀ هغوئ ته دا اصُول وښودل، ”تاسو به خپلې ذمه وارۍ
خامخا د مالِک خُدائ په يره کښې او په وفادارۍ او د زړۀ د
اخلاصه ادا کوئ. ۱۰ کله هم چې ستاسو د ښارونو نه د يو
ښار اوسېدونکی ستاسو په وړاندې د قتل، يا د بل څۀ قانون
يا حُکم ماتولو لانجه راوړی، نو تاسو خامخا په احتياط سره
دا اصُول ورته ښايئ چې هغه به په عدالت کښې څنګه سلوک
کوی، نو چې داسې هغوئ د مالِک خُدائ ګناهګار نۀ شی. کۀ
تاسو داسې ونۀ کړئ، نو تاسو او ستاسو د ښارونو
اوسېدونکو ته به د مالِک خُدائ د غصې پته ولګی. خو کۀ
تاسو خپله ذمه واری پوره کوئ نو تاسو به ګناهګار نۀ شئ.
۱۱ د ټولو مذهبی لانجو آخری اختيار به د مشر اِمام امرياه
سره وی او د خلقو په مينځ کښې د ټولو لانجو آخری اختيار
به د يهوداه د حکمران د اِسمٰعيل زوئ زبدياه سره وی. د
ليويانو ذمه واری د هغه فېصلو کتل دی کومې چې په
عدالتونو کښې کيږی. تکړه شئ او په دې اصُولو عمل کوئ.
او مالِک خُدائ دې د اِنصاف کوونکو سره وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ادومیانو خِلاف جنګ

۲۰ ۱ څۀ موده وروستو د موآب او عمون فوجيان او
معونيان راغلل چې د يهوسفط سره جنګ وکړی. ۲ څۀ
سړی راغلل او يهوسفط بادشاه ته يې ووئيل، ”د مړ درياب په
بل طرف باندې د ادوم نه يو لوئ لښکر د دې دپاره راغلے
دے چې په تا باندې حمله وکړی. وګورئ چې هغوئ
حصيصون تامار ته رارسېدلی دی.“ (دا د عين‌جدی يو بل
نوم دے). ۳ يهوسفط ويرېدو او د مالِک خُدائ د مرضۍ
معلومولو دپاره يې دُعا وغوښته او په يهوداه کښې يې ټولو
خلقو ته د روژې د نيولو اعلان وکړو. ۴ د يهوداه خلق په
يروشلم کښې د مالِک خُدائ نه د مدد غوښتلو دپاره راغونډ
شول، هغوئ د مالِک خُدائ مرضی معلومولو دپاره د يهوداه
د هر ښار نه راغلل. ۵ بيا يهوسفط د مالِک خُدائ د کور د
نوی دربار په مخکښې د يهوداه او يروشلم خلقو په مينځ
کښې ودرېدو. ۶ او هغۀ په اوچت آواز دُعا وکړه، ”اے
مالِکه خُدايه، زمونږ د پلار نيکۀ خُدائ پاکه، تۀ په آسمان
کښې د دُنيا په ټولو قومونو باندې بادشاهی کوې. ستا په لاس
کښې طاقت او قوت شته او هيڅ څوک ستا مخالفت نۀ شی
کولے. ۷ تۀ زمونږ خُدائ پاک يې. کله چې ستا خلق بنی
اِسرائيليان دې مُلک ته راننوتل، چې کوم خلق دلته اوسېدل
نو هغه دې وشړل او د خپل خليل اِبراهيم اولاد له دې هغه
مُلک ورکړو چې د همېشه دپاره د هغوئ شی. ۸ هغوئ
دلته اوسېدلی دی او ستا د نوم دپاره يې يو مقدس ځائ جوړ
کړے دے او وئيل يې، ۹ کۀ په مونږ باندې د سزا دپاره
څۀ افت، جنګ، وبا، يا قحط راشی، نو مونږ به راشو او ستا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په حضور کښې به د دې کور په وړاندې ودرېږو، ځکه چې په
دې کور کښې ستا نوم دے او چې په خپل مصیبت کښې
مونږ تا ته سوال وکړُو نو ته به زمونږ سوال قبول کړې او
مونږ به بچ کړې. ١٠ اوس د عمون، موآب او ادوم خلقو په
مونږ باندې حمله کړې ده. کله چې زمونږ پلار نیکهٔ د مِصر
نه راووتل، نو تا هغوئ له اجازت ورنهٔ کړو چې دې مُلکونو
ته ورننه وځی، نو زمونږ پلار نیکهٔ د دې نه په بله لار لاړل او
دا یې تباه نهٔ کړل. ١١ نو اوس هغوئ مونږ له د دې داسې
بدله راکوی، چې راشی او مونږ د هغه مُلک نه وشړی چې تا
مونږ له راکړے دے. ١٢ ته زمونږ خُدائ پاک یې. ته هغوئ
له سزا ورکړه، ځکه چې کوم لوئ لښکر په مونږ حمله کوی
نو د هغوئ په وړاندې مونږ بےمددګاره یُو. مونږ ته پته نشته
چې څهٔ وکړُو، خو مونږ ستا د مدد په طمع یُو.“ ١٣ د
یهوداه ټول سړی، سره د خپلو ښځو او بچو، د مالِک خُدائ
په حضور کښې ولاړ وُو. ١٤ بیا د مالِک خُدائ روح په یو
لیوی نازل شو کوم چې په ګڼه کښې موجود وو. د هغهٔ نوم
یحزی‌ایل وو چې د زکریاه زوئ وو، هغه د آسف د قبیلې یو
کس وو او د متنیاه، یعی‌ایل او بنایاه په ذریعه د آسف د اولاد
نه وو. ١٥ یحزی‌ایل ووئیل، ”د یهوداه او یروشلم ټولو خلقو
او یهوسفط بادشاه ما ته غوږ ونیسئ، مالِک خُدائ تاسو ته
فرمائی چې تاسو بېخی د دې لوئ لښکر سره په مخامخ کېدو
کښې مهٔ یرېږئ او مهٔ بےحوصلې کېږئ. ځکه چې دا جنګ
ستاسو نهٔ بلکې د خُدائ پاک دے. ١٦ سبا چې کله هغوئ د
صیص درې ته راشی نو په هغوئ حمله وکړه. ته به د هغوئ
سره د هغه وادۍ په سر کښې مِلاو شې کوم چې د یروئیل
سره نزدې د ځنګل مُلک ته ځی. ١٧ تاسو به دا جنګ نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوئ. صِرف د جنګ دپاره صفونه جوړ کړئ او کلک
ودرېږئ، تاسو به هغه فتح ووينئ کومه چې مالِک خُدائ
درکوی. مۀ يرېږئ او مۀ بې‌حوصلې کېږئ. سبا د هغوئ
خِلاف راوځئ او مالِک خُدائ به ستاسو مل وی.“ ۱۸ بيا
يهوسفط بادشاه ټيټ شو او په زمکه يې سجده ولګوله او ټول
خلق هم د هغۀ سره ټيټ شول او د مالِک خُدائ عبادت يې
وکړو. ۱۹ د ليويانو د قُهات او قورح د ډلو کسان پاڅېدل او
په اوچت آواز يې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک
ثناء صِفت وکړو. ۲۰ په ورپسې سحر وختی خلق د تقوع
سره نزدې د ځنګل مُلک ته لاړل. چې کله هغوئ سفر شروع
کړو، نو يهوسفط هغوئ ته په تقرير کښې دا خبرې وکړې، ”د
يهوداه او يروشلم خلقو. په مالِک خُدائ ستاسو په خُدائ
پاک باندې يقين کوئ، نو تاسو به کلک ولاړ يئ. په هغه څۀ
باندې ايمان لرئ چې څۀ درته پيغمبران فرمائی، نو تاسو به
کامياب شئ.“ ۲۱ د خلقو سره د مشورې کولو نه پس،
بادشاه يو څو موسيقارانو له حُکم ورکړو چې هغه چُوغې
واغوندی کومې چې هغوئ په خاصو وختونو کښې اغوستې
او ورته يې ووئيل چې د لښکر نه مخکښې روان شئ او داسې
وايئ، ”د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی. د هغۀ مينه ابدی
ده.“ ۲۲ کله چې هغوئ ثناء صِفت کول شروع کړل نو
مالِک خُدائ هغه حمله کوونکی فوجيان په خپلو کښې په
جګړه کړل. ۲۳ د عمونيانو او موآبيانو لښکرې د ادوم غر د
اوسېدونکو خِلاف راوګرځېدې او د هغوئ هر يو کس يې
ووژلو. کله چې هغوئ د ادوم لښکر تباه کړو نو هغوئ په يو
بل باندې حملې شروع کړې. ۲۴ کله چې د يهوداه لښکر
هغه برج ته ورسېدو کوم چې په صحرا کښې وو، نو هغوئ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دشمن طرف ته وکتل او وې ليدل چې هغوئ ټول په زمکه
باندې مړهٔ پراتهٔ وُو. يو کس هم په تښتېدو کښې کامياب نهٔ
شو. ۲۵ نو يهوسفط او د هغهٔ فوجيان ورغلل چې مالِ
غنيمت راواخلی او هغوئ ډېر سامانونه، جامې او نور قيمتی
څيزونه وموندل. هغوئ په مالِ غنيمت راغونډولو باندې درې
ورځې تېرې کړې، خو مالِ غنيمت دومره ډېر وو چې هغوئ
ټول نهٔ شو راټولولے. ۲۶ په څلورمه ورځ هغوئ د براکه په
وادۍ کښې راغونډ شول او د هغه هر څهٔ دپاره يې د مالِک
خُدائ ثناء صِفت وکړو چې څهٔ هغهٔ کړی وُو. نو په دې وجه
د هغه وادۍ نوم "براکه" دے. ۲۷ يهوسفط په خوشحالۍ
سره فوجيان واپس يروشلم ته روان کړل، ځکه چې مالِک
خُدائ د هغوئ دشمنانو له شکست ورکړے وو. ۲۸ کله
چې هغوئ ښار ته ورسېدل، نو هغوئ د ربابونو او بيګلو د
غږېدو سره د مالِک خُدائ کور ته روان شول. ۲۹ هر يو
قوم به چې دا واورېدل چې مالِک خُدائ څنګه د اِسرائيلو
دشمنانو له شکست ورکړے دے نو هغوئ به وېرېدل، ۳۰
نو يهوسفط په امن سره حکومت کولو او خُدائ پاک د هغهٔ
په هر رنګ باندې حِفاظت کولو.

## د يهوسفط د بادشاهۍ ختمېدل

۳۱ يهوسفط د پينځو ديرشو کالو په عُمر کښې بادشاه جوړ
شوے وو او په يروشلم باندې يې پينځويشت کاله بادشاهي
کړې وه. د هغهٔ مور عزوبه وه چې د سِلحی لور وه. ۳۲ د
هغهٔ نه مخکښې د هغهٔ پلار آسا په شان هغهٔ هم هغه کار کولو
چې کوم د مالِک خُدائ په نظر کښې ښهٔ وو، ۳۳ خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

علاقائی عبادتخانې نۀ وې تباه شوې، او خلق په پوره توګه د
خپل پلار نیکۀ خُدائ پاک ته نۀ وُو راګرځېدلی. ۳۴ نور هر
څۀ چې یهوسفط کړی دی، د هغۀ د بادشاهۍ د شروع نه
واخله تر آخره پورې، هر څۀ د حنانی زوئ یاهُو په تاریخ
کښې لیکلے شوی دی، کوم چې د اِسرائیل د بادشاهانو د
تاریخ یوه حِصه ده. ۳۵ یو ځل د یهوداه بادشاه یهوسفط د
اِسرائیل بادشاه اخزیاه سره اِتحاد وکړو، چا چې ډېر بد
عملونه وکړل. ۳۶ د عصیون‌جابر د بندرګاه سره په شریکه
هغوئ سمندری جهازُونه جوړ کړل. ۳۷ خو د مریسه د ښار
د دوداواهو زوئ اِلیعزر یهوسفط له خبردارے ورکړو، "تا د
اخزیاه سره اِتحاد کړے دے، په دې وجه چې تا څۀ جوړ
کړی دی نو مالِک خُدائ به هغه تباه کړی." نو سمندری
جهازُونه تباه شول او هیڅکله په سمندر کښې ونۀ چلېدل.

# ۲۱

۱ یهوسفط مړ شو او د داؤد ښار په شاهی ادیره
کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ یهورام د هغۀ نه پس بادشاه
جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه یهورام

۲ د یهوسفط بادشاه د زوئ یهورام شپږ ورونه وُو،
عزریاه، یحی‌ایل زکریاه، عزریاه، میکائیل او سفطیاه. ۳
خپل پلار هغوئ له ډېر سرۀ زر، سپین زر او قیمتی څیزونه
ورکړل او هر یو یې د یهوداه د پَخو دیوالونو ښارونو مشر
مقرر کړو. یهورام د ټولو مشر وو نو په دې وجه یې هغه د
دې دپاره مقرر کړو چې د هغۀ نه پس بادشاه شی. ۴ کله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې بادشاهي په پوره توګه د يهورام په لاس کښې وه، نو هغۀ
خپل ټول ورونړه او د اِسرائيل څۀ مشران هم ووژل. ۵
يهورام د دوو دېرشو کالو په عُمر کښې بادشاه شو او اتۀ کاله
يې په يروشلم حکومت وکړو. ۶ هغۀ د اخىاب بادشاه او د
اِسرائيل نورو بادشاهانو په بدو مِثالونو باندې عمل وکړو،
ځکه چې هغۀ د اخىاب يوه لور وادۀ کړې وه. هغۀ د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه وکړه، ۷ خو د مالِک خُدائ دا مرضى
نۀ وه چې د داؤد شاهي خاندان تباه کړی، ځکه چې هغۀ د
داؤد سره لوظ کړے وو او دا وعده يې ورسره کړې وه چې د
هغۀ اولاد به د همېشه دپاره بادشاهي کوی. ۸ د يهورام د
بادشاهۍ په وخت کښې ادوم د يهوداه خِلاف بغاوت وکړو او
يو خپل بادشاه يې مقرر کړو. ۹ نو يهورام او د هغۀ
آفسرانو خپلې ټولې جنګى ګاډۍ او لښکرې روانې کړې او د
ادوميانو نه شپه په شپه راتاو شو او په هغوئ يې سخته حمله
وکړه. ۱۰ نو ادوم تر نن پورې د يهوداه نه آزاد دے. هم په
هغه وخت کښې د لِبناه ښار هم بغاوت وکړو، دا هر څۀ ځکه
وشول چې يهورام مالِک خُدائ د خپل پلار نيکۀ خُدائ پاک
پرېښے وو. ۱۱ هغۀ د يهوداه په غرېزه علاقه کښې علاقائى
عبادتخانه جوړه کړې وه او د يهوداه او د يروشلم خلق يې
بې لارې کړى وُو. ۱۲ الياس پېغمبر يهورام له يو خط ولېږلو،
چې په هغې کښې ليکلى شوى وُو، "مالِک خُدائ، ستا د پلار
نيکۀ داؤد خُدائ پاک تا رد کوی، ځکه چې تا د خپل پلار
يهوسفط بادشاه او د خپل نيکۀ آسا په نقش قدم مزل نۀ دے
کړے. ۱۳ تا د اِسرائيل د بادشاهانو په نقش قدم باندې مزل
کړے دے او د يهوداه او يروشلم په خلقو دې د بُتانو عبادت
کړے دے، لکه څنګه چې اخىاب او د اِسرائيل نورو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهانو کړی وُو. تا خو خپل ورونه هم ووژل، چې هغوئ
ستا نه ښهٔ سړی وُو. ۱۴ نو اوس به مالِک خُدائ ستا خلقو
له، ستا بچو او ستا ښځو له سخته سزا ورکړی او ستا هر
څهٔ به تباه کړی. ۱۵ تهٔ به د کولمو په سخت مرض باندې
آخته شې چې هغه به ورځ په ورځ زياتيږی تر دې پورې چې
کولمې به درنه بهر راوځی.“ ۱۶ څهٔ فلستيان او عرب د هغه
ځائ سره نزدې اوسېدل چرته چې څهٔ د ايتهوپيا خلق د
سيند په غاړه ديره وُو. مالِک خُدائ هغوئ ولمسول چې د
يهورام خِلاف جنګ له لاړ شی. ۱۷ هغوئ په يهوداه حمله
وکړه، شاهی محل يې لوټ کړو او د بادشاه د کشری زوئ،
اخزياه نه بغير يې د بادشاه ټولې ښځې او زامن قيديان بوتلل.
۱۸ بيا د دې هر څهٔ نه پس، مالِک خُدائ په بادشاه باندې د
کولمو سخت مرض راوستلو. ۱۹ تقريباً دوه کاله دا مرض
په مزه مزه زياتيدو تر دې پورې چې د هغهٔ کولمې بهر راووتې
او هغه په يو سخت تکليف کښې مړ شو. د هغهٔ خلقو د هغهٔ د
عزت دپاره اور بل نهٔ کړو لکه چې د هغهٔ د پلار نيکهٔ دپاره بل
شوے وو. ۲۰ يهورام د دوو ديرشو کالو په عُمر کښې
بادشاه جوړ شوے وو او اتهٔ کاله يې په يروشلم بادشاهی
کړې وه. کله چې هغه مړ شو نو هيڅ څوک هم خفه نهٔ وُو.
هغوئ هغه د داؤد په ښار کښې ښخ کړو، خو په شاهی اديره
کښې يې ښخ نهٔ کړو.

## د يهوداه بادشاه اخزياه

۲۲ ۱ څهٔ عربو حمله وکړه او د يهورام بادشاه د
کشری زوئ اخزياه نه بغير يې د يهورام ټول زامن ووژل. نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا د یروشلم خلقو اخزیاه د خپل پلار نه پس بادشاه جوړ
کړو. ٢ اخزیاه د دوویشتو کالو په عُمر کښې بادشاه جوړ
شو او یو کال یې په یروشلم باندې بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور
عتلیاه وه چې د عُمری بادشاه نمسیٔ وه. ٣ اخزیاه د
اخی‌اب د خاندان په نقش قدم باندې روان وو، ځکه چې د
هغهٔ مور عتلیاه هغهٔ ته بدې لارې ښودلې. ٤ هغهٔ د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه وکړه، ځکه چې د هغهٔ د پلار د مرګ نه
پس د اخی‌اب د خاندان نور کسان د هغهٔ مشیران شول او
هغه یې د تباهیٔ طرف ته بوتلو. ٥ د هغوئ په مشورو یې
عمل کولو کله چې د شام بادشاه حِزائیل خِلاف یې په یو
جنګ کښې د اِسرائیل د بادشاه یورام ملګرتیا وکړه. لښکرې
په رامات‌جِلعاد کښې په جنګ شوې او یورام په جنګ کښې
زخمی شو. ٦ هغه د یزرعیل ښار ته ځکه راواپس شو چې
د هغهٔ زخمونه روغ شی او اخزیاه هلته د مِلاوېدو دپاره
ورَغلو. ٧ خُدائ پاک د یورام دا ملاقات د اخزیاه د تباهیٔ
سبب وګرځولو. هغه او یورام، یاهُو زوئ د نِمسی سره
مِلاوېدو دپاره راوتل، کوم چې مالِک خُدائ د اخی‌اب شاهی
خاندان د تباه کولو دپاره خوښ کړے وو. ٨ کله چې یاهُو
د اخی‌اب په شاهی خاندان باندې د خُدائ پاک سزا راوستله،
نو هغه د یهوداه د قبیلې یو څو مشرانو او د اخزیاه خپلوانو
سره مِلاو شو چې هغوئ د اخزیاه سره روان وُو نو یاهُو
هغوئ ټول ووژل. ٩ اخزیاه ولټولے شو او هغه په سامریه
کښې پټ وو او هلته پیدا شو. هغوئ هغه یاهُو ته بوتلو او وې
وژلو. خو هغوئ د هغهٔ لاش د هغهٔ نیکهٔ یهوسفط بادشاه د
عزت په وجه ښخ کړو، ځکه یهوسفط د مالِک خُدائ د
خِدمت دپاره هر څهٔ کړی وُو. نو د اخزیاه د خاندان داسې یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کس هم پاتې نۀ شو چې هغۀ بادشاهی کړے وے.

## د یهوداه مَلِکه عتلیاه

١٠ خنګه چې د اخزیاه بادشاه مور عتلیاه د خپل زوئ د
قتل نه خبر شوه، نو هغې دا حُکم ورکړو چې د یهوداه د
شاهی خاندان مکمل کسان دې ووژلے شی. ١١ د اخزیاه
یوه ناسکه خور یهوسبع وه، د هغې وادۀ د یهویدع اِمام سره
شوے وو. هغې په پټه باندې د اخزیاه یو زوئ یوآس بچ کړو،
هغه یې د هغه نورو شهزادګانو نه یوړو کوم چې قتل
کېدونکے وو او هغه او د هغۀ خِدمتګاره یې پټ کړل او د
اودۀ کېدو په یوه کوټه کښې د هغوئ خیال ساتلو. نو داسې
یهوسبع د هغۀ د پټ ساتلو په وجه باندې هغه د عتلیاه د لاسه
د مرګ نه بچ کړو. ١٢ تر شپږو کالو پورې هغه هلته پټ وو
کله چې عتلیاه د مَلِکه په توګه بادشاهی کوله.

## د عتلیاه خِلاف بغاوت

٢٣ ١ د شپږو کالو اِنتظار نه پس یهویدع اِمام یوه
فېصله وکړه. هغۀ د دې پینځو فوجی آفسرانو سره لوظ
وکړو، د یروحام زوئ عزریاه، د یهوحنان زوئ اِسمٰعیل، د
عوبید زوئ عزریاه، د عدایاه زوئ معسیاه او د زِکری زوئ
الیاسفط. ٢ هغوئ د یهوداه ټولو ښارونو ته سفر وکړو او
څان سره یې واپس یروشلم ته لیویان او د ډلو ټول مشران
راوستل. ٣ هغوئ ټول د خُدائ پاک په کور کښې راغونډ
شول او هلته هغوئ د بادشاه د زوئ یوآس سره یو لوظ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو. يهويدع هغوئ ته ووئيل، ”د بادشاه زوئ دا دے. دے
به اوس بادشاه جوړيږى، لکه څنګه چې مالِک خُدائ
فرمائيلى دى چې د داؤد اولاد به بادشاهان وى. ۴ نو مونږ
به هم دغه شان کوُو. کله چې اِمامان او ليويان د سبت په
ورځ د خپل کار دپاره راځى، نو د هغوئ دريمه برخه به د
مالِک خُدائ د کور د دروازو څوکيدارى کوى، ۵ هغه بله
دريمه برخه به د شاهى محل څوکيدارى کوى او باقى پاتې
برخه به د ”بنياد“ په دروازه باندې مقررولے شى. ټول خلق
به د مالِک خُدائ د کور په دربار کښې راغونډ شى. ۶ ياد
ساتئ چې صرف اِمامان او ليويان به د مالِک خُدائ کور ته
ننوځى د چا چې د خِدمت نمبر وى. هغوئ ځکه ننوتلے شى
چې هغوئ پاک کړے شوى دى، خو باقى نور خلق به خامخا
د مالِک خُدائ اصُول منى او بهر دې پاتې شى. ۷ ليويان
به د بادشاه نه ګېرچاپېره د حِفاظت دپاره ولاړ وى، چې
خپلې تُورې يې راويستلې وى او چې بادشاه چرته هم ځى نو
هلته به ورسره ځى. نور هر څوک چې د مالِک خُدائ کور ته
د ننوتلو کوشش وکړى نو هغه دې ووژلے شى.“ ۸ ليويانو
او د يهوداه خلقو د يهويدع په اصُولو باندې عمل وکړو. کوم
څوکيداران چې د سبت په ورځ د کار نه چُهټى کېدل، نو
هغوئ ته دا اجازت نۀ وو چې کور ته لاړ شى نو داسې د هر
فوجى مشر سره خپل څوکيداران موجود وُو يعنې هغه
څوکيداران چې د کار نه يې چهټى کوله او هغه کسان چې
کار له راتلل. ۹ يهويدع آفسرانو له هغه نيزې او ډالونه
ورکړل کوم چې د داؤد بادشاه وُو او چې د مالِک خُدائ په
کور کښې ساتلے شوى وُو. ۱۰ هغۀ د مالِک خُدائ د کور
په مخکښې ګېرچاپېره سړى مقرر کړل چې تُورې يې د دې
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره راويستلې وې چې د بادشاه حِفاظت وکړى. ۱۱ بيا
يهويدع يوآس بهر بوتلو، تاج يې د هغهٔ په سر کېښودو او هغهٔ
له يې د احکامو کِتاب ورکړو. نو هغه بادشاه شو. يهويدع
اِمام او د هغهٔ زامنو د مقرروﻟﻮ د نښې په طور د يوآس سر په
تېلو غوړ کړو او ټولو چغه ووهله، ”بادشاه زندهباد!“ ۱۲
عتلياه د بادشاه دپاره د خوشحالئ چغې واورېدلې، نو هغه د
مالِک خُدائ کور ته تېزه لاړه، چرته چې خلق راغونډ وُو.
۱۳ هغې هلته د مالِک خُدائ د کور د دروازې په خولهٔ کښې
نوے بادشاه وليدو، چې د هغه ستنو سره ولاړ وو چې د
بادشاهانو دپاره مخصوصې وې او ګېرچاپېره ترې نه فوجى
آفسران او د بيګلو غږوونکى تاو وُو. ټولو خلقو د خوشحالئ
نه چغې وهلې او بيګلې يې غږولې، او د مالِک خُدائ د کور
موسيقارانو د موسيقئ د څيزونو سره دا جشن روان کړے
وو. هغې د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او چغه يې ووهله،
”غدار! غدار!“ ۱۴ يهويدع دا نهٔ غوښتل چې عتلياه دې د
مالِک خُدائ په کور کښې ووژلے شى، نو هغهٔ خپل فوجى
آفسران راوغوښتل او ورته يې ووئيل، ”هغه د څوکيدارانو د
قطارونو په مينځ کښې وباسئ او هر څوک چې د هغې د بچ
کولو کوشش کوى نو هغه ووژنئ.“ ۱۵ هغوئ هغه ونيوله،
محل ته يې بوتله او هلته يې د آسونو د دروازې سره ووژله.

## يهويدع د خلقو اصلاح کوى

۱۶ يهويدع اِمام يوآس بادشاه او خلق د ځان سره کړل چې
د هغهٔ سره يو لوظ وکړى چې هغوئ به د مالِک خُدائ وفادار
اوسى. ۱۷ بيا هغوئ ټول د بعل عبادتخانې ته لاړل او هغه يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوغورزوله. هغوئ هلته قربانګاه او بُتان ټوټې کړل او متان
د بعل اِمام يې د قربانګاه په مخکښې ووژلو. ۱۸ يهويدع
اِمامان او ليويان د مالِک خُدائ د کور د کار مشران مقرر
کړل. د هغوئ کار هغه ذمه وارئ سر ته رسَول وُو چې کومې
ورته داؤد بادشاه حواله کړې وې او چې د موسیٰ د قانون په
مطابق هغه نذرانې وسوزوی چې کومې مالِک خُدائ ته د
موسيقئ او خوشحالئ سره پېش کيږی. ۱۹ يهويدع د مالِک
خُدائ د کور په دروازو باندې د دې دپاره هم څوکيداران
مقرر کړل چې څوک ناپاک وی نو هغه بهر ايسار کړے شی.
۲۰ فوجی آفسران، مشران خلق، آفسران او نور پاتې ټول
خلق د يهويدع سره په هغه عمل کښې ملګری وُو چې کله
بادشاه د مالِک خُدائ کور نه محل ته راوستلے شو. هغوئ
په پاسنئ دروازه راننوتل او بادشاه په خپل تخت کښېناستو.
۲۱ ټول خلق خوشحاله وُو او اوس د عتلياه د وژلو په وجه
په ښار کښې خاموشی وه.

## د يهوداه بادشاه يوآس

۲۴ ۱ يوآس د اوو کالو په عُمر کښې د يهوداه بادشاه
شو او څلويښت کاله يې په يروشلم باندې بادشاهی وکړه. د
هغهٔ مور د بيرسبع د ښار ضِبياه وه. ۲ ترڅو پورې چې
يهويدع اِمام ژوندے وو نو يوآس هم هغه کار کولو چې مالِک
خُدائ ورباندې خوشحاليدو. ۳ يهويدع د يوآس بادشاه
دپاره دوه ښځې خوښې کړې او د هغهٔ زامن او لوڼه پيدا
شول. ۴ کله چې يوآس بادشاه وو نو هغهٔ دا فيصله وکړه
چې د مالِک خُدائ د کور مرمت دې وشی. ۵ هغهٔ اِمامانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ليويانو له حُکم وکړو چې د يهوداه ښارونو ته لاړ شی او
د ټولو خلقو نه دومره پيسې راغونډې کړی چې د مالِک
خُدائ په کور کښې کلنۍ مرمت ورباندې وکړی. هغۀ ورته
ووئيل چې دا کار سمدستی وکړئ، خو ليويانو دا کار
سمدستی ونۀ کړو، ۶ نو هغۀ د هغوئ مشر يهويدع
راوغوښتلو او تپوس يې ترې نه وکړو، "تاسو دې ته پام ولې
نۀ کولو چې ليويانو د يهوداه او يروشلم نه هغه محصُول
راغونډولو کوم چې د مالِک خُدائ خِدمت کوونکی موسیٰ د
خلقو نه دا غوښتل چې دا محصُول د مالِک خُدائ د حضور
د خېمې دپاره ورکړی؟" ۷ د عتلياه يعنې د هغه بدکارې
ښځې منونکو د مالِک خُدائ د کور نه د هر وخت نه غلا
کوله او ټول مقدس څيزونه يې هم د بعل په عبادت کښې
استعمالول. ۸ بادشاه ليويانو له حُکم وکړو چې د چندې
دپاره يو صندوق جوړ کړی او د مالِک خُدائ د کور په
دروازه کښې يې کېږدی. ۹ هغۀ په ټول يروشلم او يهوداه
کښې هر يو کس له دا خبر ورولېږلو چې مالِک خُدائ له هغه
محصُول راوړی کوم چې په وړومبی ځل د خُدائ پاک
خِدمت کوونکی موسیٰ په صحرا کښې راغونډ کړے وو. ۱۰
په دې باندې خلق او د هغوئ مشران خوشحاله شول او
خپلې د محصُول پيسې يې راوړې او صندوق يې ډک کړو.
۱۱ ليويانو به هره ورځ هغه صندوق شاهی آفسر له وړلو
کوم آفسر چې د دې ذمه وار وو. کله به هم چې دا ډک وو،
نو شاهی منشی او د مشر اِمام کس به پيسې راويستلې او
صندوق به يې واپس خپل ځائ ته وړلو. نو داسې هغوئ
ډېرې پيسې راغونډې کړې. ۱۲ بادشاه او يهويدع به پيسې
هغه چا له ورکولې کوم چې د مالِک خُدائ د کور د مرمت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولو مشران ؤو او هغوئ د کاڼو ګِلکاران، ترکاڼان او
لوهاران د مرمت دپاره په مزدورئ ونيول. ١٣ هغوئ ټولو
سخت محنت کولو او د مالِک خُدائ کور يې خپل اصلی
حالت ته بيا راوستلو، هم هغه شان مضبوط لکه څنګه چې
مخکښې وو. ١٤ کله چې مرمت ختم شو، نو هغه پاتې شوی
سرۀ زر او سپين زر بادشاه او يهويدع له ورکړے شول، چې
هغوئ دا د مالِک خُدائ د کور د جامونو او نور سامان
جوړولو دپاره استعمال کړل.

## د يوآس د مالِک خُدائ نه اوړيدل

چې ترڅو پورې يهويدع ژوندے وو، نو نذرانې به مسلسل د
مالِک خُدائ په کور کښې پيش کيدلې. ١٥ کله چې يهويدع
د يو سل او ديرشو کالو ښۀ پوخ عُمر ته ورسيدو، نو هغه مړ
شو. ١٦ هغه د داؤد په شاهی اديره کښې ښخ شو ځکه چې
هغۀ په اِسرائيل کښې د خُدائ پاک او د هغۀ د کور ډير
خِدمت کړے وو. ١٧ خو چې کله يهويدع مړ شو، نو د
يهوداه مشرانو يوآس بادشاه دې ته جوړ کړو چې هغوئ ته
غوږ ونيسی. ١٨ نو خلقو د مالِک خُدائ په کور کښې د هغۀ
عبادت پريښودو، دا هغه ځائ وو چرته چې د هغوئ پلار
نيکۀ عبادت کولو او د دې په ځائ يې د بُتانو او د اشيرې بُت
د نښو عبادت شروع کړو. د دې ګناهونو د جرم په وجه
هغوئ په يهوداه او يروشلم باندې د مالِک خُدائ غصه
راوسته. ١٩ مالِک خُدائ هغوئ له پيغمبران ورولېږل چې
خلق هغه واپس راوګرځوی، پيغمبرانو به هغوئ له خبردارے
ورکولو خو خلقو ورته غوږ ونۀ نيولو. ٢٠ بيا د خُدائ پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روح د يهويدع اِمام په زوئ زکرياه باندې راغلو. هغه په يو
اوچت ځائ باندې ودرېدو او آواز يې وکړو، ”مالِک خُدائ،
خُدائ پاک دا تپوس کوى چې تاسو د هغهٔ د حُکمونو
نافرمانى ولې کوئ او په خپل ځان باندې تباهى ولې راولئ.
تاسو هغه پرېښودو، نو په دې وجه هغهٔ تاسو هم پرېښودئ.“
۲۱ يوآس بادشاه د زکرياه خِلاف په يو سازش کښې
ملګرتيا وکړه او د بادشاه په حُکم يې د مالِک خُدائ د کور په
دربار کښې زکرياه سنګسار کړو. ۲۲ بادشاه هغه د
وفادارۍ خِدمت هېر کړو چې د زکرياه پلار يهويدع د هغهٔ
دپاره کړے وو او هغهٔ زکرياه ووژلو. کله چې زکرياه مړ
کېدو، نو هغهٔ چغه ووهله، ”مالِک خُدائ دې زما په حال نظر
وکړى او زما بدل دې تا نه واخلى.“

## د يوآس د بادشاهۍ ختمېدل

۲۳ کله چې په هغه کال خزان راغلو، نو د شام لښکر په
يهوداه او يروشلم باندې حمله وکړه او ټول مشران يې ووژل
او ټول مال غنيمت يې د دمشق بادشاه له يوړو. ۲۴ اګر چې
شامى لښکر وړوکے وو، خو مالِک خُدائ د هغوئ مدد
وکړو چې د يهوداه دومره لوئ لښکر له شکست ورکړى ځکه
چې د يهوداه خلقو مالِک خُدائ د هغوئ د پلار نيکهٔ خُدائ
پاک پرېښے وو. نو داسې يوآس بادشاه ته سزا مِلاو شوه.
۲۵ کله چې شامى لښکر واپس لاړو نو يوآس سخت زخمى
پاتې وو، نو وروستو بيا د هغهٔ دوو آفسرانو د هغهٔ خِلاف
منصوبه جوړه کړه او هغه يې په خپل کټ کښې ووژلو د دې
دپاره چې د يهويدع اِمام د زوئ د قتل بدله ترې نه واخلى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د داؤد په ښار کښې ښخ شو، خو په شاهی اديره کښې
ښخ نۀ شو. ٢٦ د هغۀ خِلاف چې چا منصوبه جوړه کړې
وه هغه يو زاباد وو، چې هغه د يوې عمونی ښځې زوئ وو
چې د هغې نوم سماعت وو، او بل يهوزبد وو چې دے د يوې
موآبی ښځې زوئ وو چې د هغې نوم سِمريت وو. ٢٧ د
بادشاهانو د کِتاب په تفسير کښې د يوآس د زامنو قيصې،
هغه پېغامونه چې د هغۀ خِلاف شوی دی، او د مالِک خُدائ د
کور د بيا جوړولو په حقله قيصه شامله ده. د هغۀ زوئ
امصياه د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه امصياه

٢٥ ١ امصياه د پينځويشتو کالو په عُمر کښې بادشاه
شو او يو کم ديرش کاله يې په يروشلم باندې حکومت وکړو.
د هغۀ مور د يروشلم يهوعدان وه. ٢ هغۀ هغه هر کار کولو
چې په څۀ باندې مالِک خُدائ رضا کېدو خو د زړۀ د
اخلاصه يې نۀ کول. ٣ کله چې د هغۀ بادشاهی مضبوطه
شوه، نو هغۀ هغه آفسران ووژل چا چې د هغۀ پلار وژلے وو.
٤ خو هغۀ د هغوئ بچی ونۀ وژل او په هغه څۀ يې عمل
وکړو چې مالِک خُدائ د موسیٰ په شريعت کښې د هغې
حُکم کړے وو، "مور پلار دې د هغه جرمونو په وجه نۀ شی
وژلے کوم چې د هغوئ بچو کړی وی او بچی دې د هغه
جرمونو په وجه نۀ شی وژلے کوم چې د هغوئ مور پلار
کړی وی، يو کس دې صِرف د هغه جرم په وجه وژلے شی
چې هغۀ په خپله کړے وی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ادوم خِلاف جنګ

۵ امصیاه بادشاه د یهوداه او د بنیامین د قبیلو ټول سړی
د خپلو خپلو کورَنو په مطابق په فوجی ډلو کښې رایوځائ
کړل او د زرو کسانو د ډلو او د سلو کسانو د ډلو دپاره يې
فوجی مشران مقرر کړل. په دې کښې هغه ټول سړی شامل
وُو چې عُمر يې شل کاله یا د دې نه زیات وو، چې ټول درې
لاکه وُو. هغوئ خوښ کړے شوی فوجیان وُو، د جنګ دپاره
تیار وُو او د نېزو او ډالونو په استعمالولو کښې تکړه وُو. ۶
د دې نه علاوه، هغهٔ د اِسرائیل نه سل زره فوجیان تقریباً د
درې زره او څلور سوه کلو د سپینو زرو په قیمت باندې په
مزدورئ ونیول. ۷ خو يو پېغمبر بادشاه له ورَغلو او ورته
يې ووئیل، "د اِسرائیل دا فوجیان ځان سره مهٔ بوځه. مالِک
خُدائ د اِفرائیم د قبیلې د دې فوجیانو مل نهٔ دے. ۸
کېدے شی ستا خیال دا وی چې د هغوئ په وجه به تاسو په
جنګ کښې تکړه شئ، خو دا د خُدائ پاک کار دے چې هغه
دا طاقت لری چې چا له فتح یا شکست ورکړی. خُدائ پاک
به ستاسو د دشمنانو په وجه تاسو له شکست درکړی." ۹
امصیاه د پېغمبر نه تپوس وکړو، "خو د هغه ټولو سپینو زرو
به څهٔ کیږی چې ما په مزدورئ کښې ورکړی دی؟" هغه
پېغمبر ورته وفرمائیل، "مالِک خُدائ تا له د هغې نه زیات
درکولے شی." ۱۰ نو امصیاه هغه د مزدورئ فوجیان
واپس ولېږل او ورته يې ووئیل چې کورونو ته لاړ شئ. نو
هغوئ کورونو ته لاړل او د یهوداه خلقو ته سخت غصه وُو.
۱۱ امصیاه خپل ځان بیا تکړه کړو او د مالګې مېدان ته يې
خپل لښکر روان کړو. هغوئ هلته جنګ وکړو او لس زره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ادومی فوجيان يې ووژل ۱۲ او نور لس زره يې ونيول.
هغوئ قيديان د سِلِح په ښار کښې د کمر سر ته وخېژول او
راوې غورزول، نو داسې هغوئ لاندې په ګټو کښې مړهٔ شول.
۱۳ په دې دوران کښې د مزدورۍ کوم فوجيان چې امصياه
کورونو ته لېږلی وُو نو هغوئ د سامريه او بيت‌حورون په
مينځ کښې د يهوداه په يو څو ښارونو حمله وکړه. هغوئ
درې زره کسان ووژل او ډېر مال غنيمت يې يوړو. ۱۴ کله
چې امصياه ادوميانو له د شکست ورکولو نه پس
راوګرځېدو، نو هغهٔ د هغوئ بُتان د ځان سره راوړل، دا يې
ودرول، د هغې عبادت يې وکړو او خوشبويۍ يې ورته
وسوزولې. ۱۵ په دې باندې مالِک خُدائ غصه شو، نو هغهٔ
امصياه له يو پېغمبر ورولېږلو. پېغمبر ورته وفرمائيل، ”تا د
هغه پردو معبودانو عبادت ولې کړے دے چې هغوئ ستا د
لاس نه خپل خلق هم نهٔ شول بچ کولے؟“ ۱۶ نو امصياه
ورته ووئيل، ”د کله نه تهٔ مونږ د بادشاه مشير مقرر کړے
يې؟ خولهٔ دې بنده کړه، ګنې ووبه دې وژنم.“ پېغمبر خبرې
بندې کړې خو دا يې وفرمائيل، ”اوس ما ته پته ولګېده چې
خُدائ پاک ستا د تباه کولو فيصله کړې ده دا ځکه چې تا دا
هر څهٔ وکړل او زما نصيحت ته دې پام نهٔ دے کړے.“

## د اِسرائيل خِلاف جنګ

۱۷ د يهوداه بادشاه امصياه او د هغهٔ مشيرانو د اِسرائيل د
بادشاهۍ خِلاف منصوبه جوړه کړه. بيا هغهٔ د اِسرائيل
بادشاه يهوآس ته يو پېغام ولېږلو، څوک چې د يهوآخز زوئ
او د ياهُو نمسے وو، چې جنګ له راوړاندې شه. ۱۸ يهوآس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

امصياه له دا پيغام ولېږلو، ”يو ځل د لبنان په غرونو کښې د
ازغو بوټى د دِيار ونې له دا پيغام ولېږلو، زما زوئ له ستا لور
راکړه چې وادۀ يې کړى. نو بيا يو ځنګلى ځناور هلته تېرېدو
او د ازغو په بوټى يې پښې کېښودې. ۱۹ نو امصياه،
ادوميانو له دې اوس شکست ورکړے دے او مغروره شوے
يې. خو زۀ تا له مشوره درکوم چې په خپل کور کښې کښېنه.
داسې بلا ولې راپاروې چې هغه ستا او ستا په خلقو باندې
صِرف تباهى راولى؟“ ۲۰ خو امصياه ورته غوږ نۀ نيولو.
خُدائ پاک غوښتل چې امصياه شکست وخورى، ځکه چې
هغۀ د ادومى بُتانو عبادت کړے وو. ۲۱ نو د اِسرائيل
بادشاه يهوآس د يهوداه بادشاه امصياه خِلاف جنګ له لاړو.
هغوئ په يهوداه کښې د بيت‌شمس سره يو بل ته مخامخ
شول، ۲۲ د يهوداه لښکر د اِسرائيل د لښکر نه شکست
وخوړو او ټول فوجيان خپلو کورونو ته وتښتېدل. ۲۳
يهوآس امصياه ونيولو او يروشلم ته يې بوتلو. هلته هغۀ د
اِفرائيم د دروازې نه واخله د ګوټ د دروازې پورې دېوال
راوغورزولو، چې تقريباً دوه سوه او شل ګزه فاصله وه. ۲۴
هغۀ د مالِک خُدائ د کور ټول سرۀ زر او سپين زر د مالِ
غنيمت په توګه سامريه ته يوړل، د مالِک خُدائ د کور هغه
سامان چې د عوبيد ادوم اولاد د هغې حِفاظت کولو او د
محل خزانې يې يوړې. هغۀ د ځان سره قيديان هم بوتلل. ۲۵
د يهوداه بادشاه امصياه د اِسرائيل د بادشاه يهوآس د مرګ
نه پس پينځلس کاله ژوندے وو. ۲۶ امصياه چې نور هر څۀ
هم کړى دى د هغۀ د بادشاهۍ د شروع نه واخله تر آخره
پورې هغه د يهوداه او اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې
ليکلے شوى دى. ۲۷ د هغه وخت نه واخله چې کله هغۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ خِلاف بغاوت وکړو، په يروشلم کښې دشمنانو د
هغهٔ خِلاف يوه منصوبه جوړوله. په آخر کښې هغه د لکيس
ښار ته وتښتېدو، خو د هغهٔ دشمنان په هغهٔ پسې وُو او هلته
يې ووژلو. ۲۸ د هغهٔ لاش په يو آس باندې يروشلم ته
راوړلے شو او هغه د داؤد ښار په شاهی اديره کښې ښخ
کړے شو.

## د يهوداه بادشاه عُزياه

۲۶ ۱ د يهوداه ټولو خلقو د امصياه شپاړس کلن زوئ
عُزياه خوښ کړو چې د خپل پلار نه پس بادشاه جوړ شی.
۲ دا د امصياه د مرګ نه پس وُو چې عُزياه ايلات بيا
قبضه کړو او ښار يې دوباره جوړ کړو. ۳ عُزياه د
شپاړسو کالو په عُمر کښې بادشاه شو او هغهٔ په يروشلم
باندې دوه پنځوس کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور د يروشلم
يکولياه وه. ۴ هغه د خپل پلار په نقش قدم باندې روان وو
او هغه کار يې کولو چې مالِک خُدائ ورباندې خوشحالېدو.
۵ چې ترڅو پورې د هغهٔ مذهبی مشير زکرياه ژوندے وو،
نو هغهٔ په وفادارۍ سره د مالِک خُدائ خِدمت کولو او
خُدائ پاک هغهٔ له برکت ورکولو. ۶ عُزياه د فلستيانو
خِلاف جنګ له لاړو. هغهٔ د جات، يبنه او اشدود ښارونو
ديوالونه راوغورزول او د اشدود او باقی ټول فلستيه کښې يې
د پَخو ديوالونو ښارونه جوړ کړل. ۷ خُدائ پاک فلستيانو
له او هغه عربو له چې په جوربعل کښې اوسېدل او معونيانو
له په شکست ورکولو کښې د هغهٔ مل وو. ۸ عمونيانو
عُزياه له محصُول ورکولو او هغه دومره طاقتور شو چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ شُهرت د مِصر پورې خور شو. ۹ عُزیاه د یروشلم د
پَخو دېوالونو مضبوطولو دپاره داسې وکړل چې د ګوټ د
دروازې سره او د وادۍ د دروازې سره او هلته یې برجونه
جوړ کړل چرته چې دېوال تاوېږی. ۱۰ هغهٔ په بیابان کښې
پاخهٔ برجونه جوړ کړل او د اوبو ډېرې ډیګۍ یې وکنستلې،
ځکه چې هغهٔ د نمرېرېواتهٔ طرف ته د غرهٔ په لمنو کښې او
بیابان کښې د څاروو ډېرې رَمې لرلې. ځکه چې هغهٔ د
زمیدارۍ سره مینه لرله، هغهٔ خلقو ته وفرمائیل چې د غرونو
په مُلک کښې د انګورو باغونه وکَری او په آباده زمکه کښې
پټی وکَری. ۱۱ د عُزیاه لویٔ لښکر د جنګ دپاره تیار وو. د
دې حِساب کِتاب د حننیاه د ذمه وارۍ لاندې د هغهٔ منشیانو
یعی‌ایل او معسیاه ساتلو. حننیاه د بادشاه د نوکرانو نه یو
کس وو. ۱۲ د لښکر مشرۍ شپږویشت سوو آفسرانو کوله.
۱۳ د هغوئ لاندې درې لاکه اووهٔ زره او پینځهٔ سوه داسې
تکړه فوجیان وُو چې هغوئ په ښهٔ شان د دشمنانو نه د
بادشاه حِفاظت کولے شو. ۱۴ عُزیاه د لښکر دپاره د
ډالونو، نېزو، د کلکو ټوپو، زغرو، لیندو، غشو او د لیندو
دپاره د کاڼو بندوبست وکړو. ۱۵ په یروشلم کښې ماهرو
کاریګرانو د غشو د ویشتلو دپاره او د برجونو او د ښار د
دېوال د ګوټونو نه د لویو کاڼو غورزولو دپاره څیزونه ایجاد
کړل. د هغهٔ شُهرت په هر ځائ کښې خور شو او چې د
خُدائ پاک نه هغهٔ ته کوم مدد مِلاو شوے وو د هغې په وجه
هغه ډېر طاقتور شو.

## د خپل غرور په وجه عُزیاه ته سزا مِلاوېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ خو کله چې عُزیاه بادشاه تکړه شو، نو هغه مغروره شو
او په دې وجه هغه د تباهۍ طرف ته لاړو. هغهٔ د مالِک خُدائ
د خپل خُدائ پاک سره خیانت وکړو ځکه چې هغه په خپله د
مالِک خُدائ کور ته لاړو او د خوشبویۍ په قربان‌ګاه باندې
یې خوشبوئی وسوزوله. ۱۷ عزریاه اِمام، بادشاه پسې لاړو
چې د عزریاه سره اتیا بهادر اِمامان ملګری ؤو، ۱۸ دا دې
دپاره چې د عُزیاه مخه ونیسی. هغوئ ووئیل، ”عُزیاه، تهٔ دا
حق نهٔ لرې چې مالِک خُدائ ته خوشبوئی وسوزوې. صِرف
د هارون د اولاد اِمامان د دې کار دپاره مخصوص دی. د
دې مقدس ځائ نه ووځه ځکه چې تا ګناه کړې ده او مالِک
خُدائ به نور ستا عزت نهٔ کوی.“ ۱۹ عُزیاه هلته د مالِک
خُدائ په کور کښې د خوشبویۍ د قربان‌ګاه سره ولاړ وو او
د خوشبویۍ د سوزولو مجمر یې نیولے وو. هغه اِمامانو ته
غصه شو او سمدستی د جذام مرض د هغهٔ په تندی باندې
راغلو. ۲۰ عزریاه او نورو اِمامانو د یرې سره د بادشاه
تندی ته کتل او بیا یې هغه دې ته مجبور کړو چې د مالِک
خُدائ د کور نه لاړ شی. هغه زر زر د هغه ځائ نه لاړو، ځکه
چې مالِک خُدائ هغهٔ له سزا ورکړې وه. ۲۱ عُزیاه باقی
ټول عُمر د خپل مرض په وجه ناپاک وو. بیا د دې قابل نهٔ
شو چې د مالِک خُدائ کور ته ورننوتے وو او هغه په یو
ځان له کور کښې اوسیدو، خپل ټول کارونه یې پریښودل. په
دې دوران کښې د هغهٔ زوئ یوتام په مُلک حکومت کولو.
۲۲ د آموص زوئ یشعیاه پیغمبر هغه نور ټول څیزونه لیکلی
دی چې عُزیاه بادشاه د خپلې بادشاهۍ په دوران کښې کړی
دی. ۲۳ عُزیاه مړ شو او د ښخیدو په شاهی زمکه کښې ښخ
شو، خو د جذام د مرض په وجه هغه په شاهی ادیره کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخ نهٔ شو. د هغهٔ زوئ یوتام د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه یوتام

۲۷ ۱ یوتام د پينځویشتو کالو په عُمر کښې بادشاه شو
او هغهٔ شپاړس کاله په یروشلم بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور
یروسا د صدوق لور وه. ۲ هغهٔ د خپل پلار عُزیاه په شان
هم هغه کار کولو چې په کوم باندې مالِک خُدائ
خوشحالېدو، خو د خپل پلار په شان هغهٔ داسې ګناه ونهٔ کړه
لکه چې د هغهٔ پلار د مالِک خُدائ کور ته ننوتلے وو. خو
خلقو ګناه بیا بیا کوله. ۳ هغه یوتام وو چې هغهٔ د مالِک
خُدائ د کور پاسنۍ دروازه جوړه کړه او د یروشلم په هغه
علاقه کښې یې د ښار د دېوال ډېر مرمت هم وکړو چې د هغه
علاقې نوم عوفل وو. ۴ د یهوداه په غرونو کښې هغهٔ
ښارونه جوړ کړل او په ځنګلو کښې یې قلعې او برجونه جوړ
کړل. ۵ هغهٔ د عمون بادشاه او د هغهٔ د لښکر خِلاف جنګ
وکړو او هغوئ له یې شکست ورکړو. بیا هغهٔ عمونیان دې ته
مجبور کړل چې درې کاله به هر کال دا محصُول ورکوی،
درې زره او څلور سوه کلو سپین زر، یو زر ټنه غنم او یو زر
ټنه اوربشې. ۶ د یوتام بادشاهی مضبوطېدله ځکه چې هغهٔ
په وفادارۍ سره د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک
فرمانبرداری کوله. ۷ د یوتام د بادشاهۍ نورې واقعې، د
هغهٔ جنګونه او د هغهٔ نور کارونه، دا هر څهٔ د اِسرائیل او د
یهوداه په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۸ یوتام د
پينځویشتو کالو وو چې هغه بادشاه شو او هغهٔ په یروشلم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې شپاړس کاله بادشاهی وکړه. ۹ يوتام مړ شو او د
داؤد په ښار کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ احاز د هغهٔ نه پس
بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه احاز

۲۸ ۱ احاز د شلو کالو په عُمر کښې بادشاه شو او هغهٔ
په يروشلم باندې شپاړس کاله بادشاهی وکړه. هغه د خپل
پلار نيکهٔ داؤد په شان نهٔ وو، او په ځائ د هغې يې هغه کار
کولو چې په څهٔ مالِک خُدائ ناراضه کيدو. ۲ او د
اِسرائيل د بادشاهانو په نقش قدم باندې روان وو. هغهٔ د بعل
د اوسپنې بُتان جوړ کړی وُو، ۳ د هنوم په وادۍ کښې يې
خوشبويۍ سوزولې او تر دې پورې چې خپل زامن يې هم
بُتانو ته د سوزيدونکې نذرانو په توګه قربانی کړل. د هغه
خلقو د حرامو رِواجونو نقل يې کولو چې کله بنی اِسرائيليان
مخ په وړاندې تلل نو مالِک خُدائ هغه د غيرو قومونو خلق د
هغه مُلک نه شړلی وُو. ۴ په علاقائی عبادتخانو کښې، په
غرونو، او د سوری د هرې ونې لاندې به احاز قربانۍ پيش
کولې او خوشبويۍ يې سوزولې.

## شام او اِسرائيل يهوداه له شکست ورکول

۵-۶ احاز بادشاه ګناه کړې وه، نو په دې وجه مالِک
خُدائ د هغهٔ خُدائ پاک د شام بادشاه په ذريعه هغهٔ له
شکست ورکړو او هغهٔ په لوئ شمير کښې د يهوداه قيديان
هم دمشق ته بوتلل. مالِک خُدائ د رملياه د زوئ د اِسرائيل د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه فقح په ذريعه هم احاز له شکست ورکړو او په يوه
ورځ يې يو سل او شل زره د يهوداه تکړه فوجيان ووژل.
مالِک خُدائ د هغوئ پلار نيکهٔ خُدائ پاک د دې کېدو
اجازت ځکه ورکړو چې د يهوداه خلقو هغه پرېښے وو. ٧
يو اِسرائيلی فوجی چې نوم يې زِکری وو هغهٔ د احاز بادشاه
زوئ معسياه، د محل مشر عزريقام او القنه ووژل. القنه په
بادشاه پسې دويم سړے وو. ٨ اګر چې د يهوداه خلق د
هغوئ خپل رشته‌دار هم وُو، خو د اِسرائيل لښکر دوه لاکه
ښځې او ماشومان قېديان کړل او د ډېر زيات مالِ غنيمت
سره يې سامريه ته بوتلل.

## عوبيد پيغمبر

٩ د مالِک خُدائ يو پيغمبر چې نوم يې عوبېد وو، هغه د
سامريه په ښار کښې اوسېدو. کله چې د اِسرائيل لښکر د
يهوداه د قېديانو سره واپس راروان وو نو چې هغوئ ښار ته
په ننوتلو وُو نو عوبيد هغوئ له د مِلاوېدو دپاره ور ووتلو او
عوبيد ورته ووئيل، "مالِک خُدائ ستاسو د پلار نيکهٔ خُدائ
پاک د يهوداه خلقو ته غصه وو او ستاسو په ذريعه يې هغوئ
له شکست ورکړو، خو چې تاسو هغوئ څومره په بې‌رحمۍ
سره حلال کړی دی نو خُدائ پاک د هغې نه خبر شوے
دے. ١٠ او اوس ستاسو اراده دا ده چې د يروشلم او
يهوداه سړی او ښځې خپل غلامان او وينځې جوړې کړئ.
ولې تاسو ته پته نشته څهٔ چې تاسو د مالِک خُدائ د خپل
خُدائ پاک خِلاف ګناهونه هم کړې دی؟ ١١ زما دا خبره
واورئ. دا قېديان ستاسو وروڼه او خويندې دی. هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږدئ چې لاړ شی، ګنې مالِک خُدائ به په غصه کښې
تاسو له سزا درکړی.“ ۱۲ د اِفرائيم د قبيلې څلورو مشرانو
سرو، د يهوحنان زوئ عزرياه، د مسلموت زوئ برکياه، د
سلوم زوئ يحزقياه او د خدلی زوئ عماسا هم د فوجی
کاروائۍ مخالفت وکړو. ۱۳ هغوئ ووئيل، ”دا قېديان دلته
مۀ راولئ. مونږ د مالِک خُدائ خِلاف لويه ګناه کړې ده او
هغه مو دومره غصه کړے دے چې مونږ له به سزا راکړی.
اوس تۀ داسې نور هم څۀ کول غواړې چې په هغې باندې
زمونږ جرم زيات شی.“ ۱۴ نو بيا فوجيانو قېديان او مالِ
غنيمت هغه خلقو او د هغوئ مشرانو ته حواله کړو، ۱۵ او
هغه څلور سړی د دې دپاره مقرر کړے شول چې قېديانو له
د هغه نيولے شوی مالِ غنيمت نه جامې ورکړی. هغوئ ورله
د اغوستلو دپاره څپلۍ او جامې ورکړې، د خوراک څښاک
ښۀ ډېر څيزونه يې ورکړل او د هغوئ په زخمونو يې د زيتُونو
تيل واچول. هغه کسان چې کوم ډېر کمزوری وُو او تلے نۀ
شو نو هغوئ يې په خرونو کښېنول او ټول قېديان په يريحو
کښې د يهوداه علاقې ته بوتلے شول، کوم چې د کجورو د
ونو ښار دے. بيا د اِسرائيل خلق خپل کور سامريه ته
راواپس شول.

## د احاز د اسوريانو نه مدد غوښتل

۱۶-۱۷ ادوميانو په يهوداه باندې بيا حملې شروع کړې او
ډېر قېديان يې ونيول، نو په دې وجه احاز بادشاه د اسور
بادشاه تغلت فلاسر نه مدد وغوښتو. ۱۸ په هغه وخت کښې
فلستيانو د نمرپرېواتۀ په طرف د غرونو په لمن کښې او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنوبی یهوداه کښې په ښارونو باندې حملې کولې. هغوئ د
بيت‌شمس، ايالون، جديروت، شوکو، تمنت او جِمسو
ښارونه او ورسره خواوشا علاقو کښې کلی هم قبضه کړل او
هلته پاخهٔ ديره شول. ۱۹ احاز بادشاه خپل خلق د بدعملئ
په لار روان کړی وُو او د مالِک خُدائ نافرمانی يې کړې وه
نو په دې وجه مالِک خُدائ په يهوداه باندې افتونه راوستل.
۲۰ د اسور بادشاه د احاز د مدد په ځائ د هغهٔ مخالفت
وکړو او هغه يې د تکليف سره مخ کړو. ۲۱ نو احاز د مالِک
خُدائ د کور، محل او د خلقو د مشرانو د کورونو نه يې سرهٔ
زر واخستل او د اسور بادشاه له يې ورکړل، خو په دې هم
کار ونهٔ شو.

## د احاز ګناهونه

۲۲ کله چې مصيبتونه ډېر سخت وُو، نو هغه سړی يعنې
احاز د مالِک خُدائ خِلاف د مخکښې نه زياته ګناه وکړه.
۲۳ هغهٔ د دمشق معبودانو ته قربانئ پېش کړې، چا چې هغهٔ
له شکست ورکړے وو. هغهٔ ووئيل، "د شام معبودانو د خپلو
بادشاهانو مدد وکړو، نو که زهٔ هغوئ ته قربانئ پېش کړم، نو
کېدے شی چې زما هم مدد وکړی." نو په دې وجه په هغهٔ او
د هغهٔ په قوم باندې تباهی راغله. ۲۴ د دې نه علاوه، هغهٔ د
خُدائ پاک د کور ټول سامان هم واخستلو او ټوټې ټوټې يې
کړو. هغهٔ د مالِک خُدائ د کور دروازې بندې کړې او د
يروشلم په هر ځائ کښې يې قربانګاه جوړې کړې. ۲۵ هغهٔ
د يهوداه په هر يو ښار کښې علاقائی عبادتخانې جوړې کړې،
چرته چې به پردو خُدايانو ته خوشبويئ سوزولے شوې. نو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې وجه هغهٔ مالِک خُدائ د خپل پلار نيکهٔ خُدائ پاک په قهر
کړو. ۲۶ د شروع نه واخله تر آخره پورې د هغهٔ د بادشاهۍ
ټولې واقعې د يهوداه او د اِسرائيل په تاريخ کښې ليکلے شوى
دى. ۲۷ احاز بادشاه مړ شو او په يروشلم کښې ښخ شو،
خو په شاهى اديره کښې ښخ نهٔ شو. د هغهٔ زوئ حزقياه د
هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه حزقياه

۲۹ ۱ حزقياه د پينځويشتو کالو په عُمر کښې د يهوداه
بادشاه شو او يو کم ديرش کاله يې په يروشلم باندې بادشاهى
وکړه. د هغهٔ مور ابياه د زکرياه لور وه. ۲ هغهٔ د خپل پلار
نيکهٔ داؤد په نقشِ قدم باندې روان وو او هغه کار يې کولو
چې مالِک خُدائ ورباندې رضا کېدو.

## د مالِک خُدائ د کور پاکول

۳ د حزقياه د بادشاهۍ د اول کال په وړومبۍ مياشت، هغهٔ
د مالِک خُدائ د کور دروازې کولاو کړې او مرمت يې کړې.
۴ هغهٔ د مالِک خُدائ د کور نمرخاتهٔ طرف ته دربار کښې
اِمامان او ليويانو راغونډ کړل ۵ او هلته يې ورته خبرې
وکړې. هغهٔ وفرمائيل، ”ليويانو تاسو به خپل ځانونه وقف
کړئ او د مالِک خُدائ کور به پاک کړئ کوم چې ستاسو د
پلار نيکهٔ خُدائ پاک دے. د مقدس ځائ نه ټول ناپاکه
څيزونه لرې کړئ. ۶ زمونږ پلار نيکهٔ د مالِک خُدائ زمونږ
د خُدائ پاک نافرمانه ؤو او هغه کار يې کولو چې په څهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې هغه ناراضه کېدو. هغوئ مالِک خُدائ او د هغهٔ کور
پرېښودو او هغهٔ ته يې شا وګرځوله. ۷ هغوئ د ننوتو د
کوټې دروازې بندې کړې، ډيوې يې پرېښودې چې مړې شی
او خوشبوئی يې نهٔ سوزوله او نهٔ يې د بنی اِسرائيلو د خُدائ
پاک په مقدس ځائ کښې سوزېدونکې نذرانې پېش کړې. ۸
نو په دې وجه مالِک خُدائ يهوداه او يروشلم ته غصه دے او
چې هغهٔ څهٔ کړی دی په هغې باندې هر يو کس حېران دے او
يرېدلے دے او سپک يې ګڼی. او تاسو ته د دې ډېره ښهٔ پته
ده. ۹ زمونږ پلار نيکهٔ په جنګ کښې وژلے شوی وُو او
زمونږ ښځې او بچی قېديان بوتلے شوی دی. ۱۰ اوس ما دا
فېصله کړې ده چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ
پاک سره يو لوظ وکړم، نو هغه به نور مونږ ته غصه نهٔ وی.
۱۱ زما زامنو وخت مهٔ ضائع کوئ. تاسو هغه څوک يئ
چې مالِک خُدائ د دې دپاره خوښ کړی يئ چې هغهٔ ته
خوشبوئی وسوزوئ او د هغهٔ په عبادت کښې د خلقو مشری
وکړئ.“ ۱۲-۱۴ دا ليويان هلته موجود وُو: د قُهات د قبيلې،
د عماسی زوئ محت او د عزرياه زوئ يوايل، د مراری د
قبيلې، د عبدی زوئ قيس او د يهللايل زوئ عزرياه، د
جيرسون د قبيلې، د زِمه زوئ يوآخ او د يوآخ زوئ عدن، د
اليصفن د قبيلې، سِمری او يعی‌ايل، د آسف د قبيلې، زکرياه
او متنياه، د هيمان د قبيلې، يحی‌ايل او سِمعی، د يدوتون د
قبيلې، سمعياه او عُزی‌ايل. ۱۵ دې سړو خپل ليويان راغونډ
کړل او هغوئ ټولو خپل ځانونه پاک کړل. بيا هغوئ د مالِک
خُدائ د کور پاکول شروع کړل، هم هغه شان چې څنګه
بادشاه حُکم کړے وو. هغوئ په خپل کار کښې د مالِک
خُدائ د اصُولو منلو خيال ساتلو. ۱۶ د مالِک خُدائ د کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدس کولو دپاره اِمامان دننه لاړل او هغوئ د مالِک خُدائ
د کور دربار ته هغه هر څۀ راوویستل کوم چې ناپاک وُو.
لیویانو هغه هر څۀ د ښار نه بهر د قِدرون وادئ ته یوړل. ۱۷
نو هغوئ د اولې میاشتې په وړومبۍ ورځ مقدس کول شروع
کړل، نو هم د دې میاشتې په اتمه ورځ هغوئ د مالِک خُدائ
د کور د ننوتلو دروازې پورې ورسېدل. بیا هغوئ په اتۀ نورو
ورځو کښې د مالِک خُدائ کور پاک کړو او د وړومبۍ
میاشتې په شپاړسمه ورځ یې ټول کار ختم کړو.

## د مالِک خُدائ د کور بیا وقف کېدل

۱۸ لیویان لاړل او حزقیاه بادشاه ته یې دا خبرې وکړې،
"مونږ د مالِک خُدائ د کور د پاکوالی ټول رسم پوره کړے
دے، چې په هغې کښې د سوزېدونکې نذرانو قربانګاه، د
مقدسې روټئ مېز او د هغې ټول سامان هم شامل دے. ۱۹
مونږ هغه ټول سامان هم واپس راوړے دے چې کوم احاز
بادشاه د خپلې بادشاهۍ په وخت کښې اوړے وو چې کله
هغه د خُدائ پاک نافرمانه وو او مونږ دا بیا وقف کړے دے.
دا هر څۀ د مالِک خُدائ د قربانګاه په مخکښې دی." ۲۰
نو حزقیاه سحر وختی د ښار مشران سرې راغونډ کړل او
هغوئ په یو ځائ د مالِک خُدائ کور ته لاړل. ۲۱ د شاهی
خاندان او د یهوداه د خلقو د ګناه د کفارې دپاره او د مالِک
خُدائ د کور د پاکولو دپاره، هغوئ اووۀ غوَیی، اووۀ ګډان،
اووۀ ګډُوری او اووۀ چېلی د یوې نذرانې په توګه بوتلل.
بادشاه د هارون د اولاد اِمامانو ته ووئیل چې هغه ځناور په
قربانګاه باندې قربانی کړئ. ۲۲ اِمامانو اول غوَیان حلال

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل، بیا یې ګډان او بیا یې ګډُوری حلال کړل او د هرې
قربانۍ وینه یې په قربان‌ګاه باندې وشیندله. ۲۳ په آخر کښې
هغوئ بادشاه او نورو عبادت کوونکو له چېلی راوستل، چې
هغوئ خپل لاسونه په دې چېلو باندې کېښودل. ۲۴ اِمامانو
بیا چېلی حلال کړل او د دې وینه یې په قربان‌ګاه توئ کړه
چې دا د ټولو خلقو د ګناه د کفارې نذرانه شی، ځکه چې
بادشاه حُکم کړے وو چې د ټول اِسرائیل دپاره سوزېدونکې
نذرانې او د ګناه نذرانې پېش شی. ۲۵ بادشاه په هغه اصُولو
باندې عمل وکړو چې کوم مالِک خُدائ د بادشاه پېغمبر جاد
او د ناتن پېغمبر په ذریعه داؤد بادشاه ته ښودلی وُو، هغهٔ د
مالِک خُدائ په کور کښې د ربابونو او چمټو سره لیویان
مقرر کړل، ۲۶ دا د موسیقۍ هم هغه شان شیزونه وُو چې
څنګه داؤد بادشاه استعمال کړی وُو. هلته اِمامان هم د بیګلو
سره ولاړ وُو. ۲۷ حزقیاه حُکم وکړو چې سوزېدونکې نذرانه
دې پېش کړے شی، او چې څنګه د نذرانې پېش کېدل شروع
شول، نو خلقو د مالِک خُدائ ثناء صِفت وئیل شروع کړل او
موسیقارانو د بیګلو او نورو شیزونو غږول شروع کړل. ۲۸
هلته چې هر څوک هم وو نو هغوئ په عبادت کښې شریک
شُو او ثناء صِفت وکړو او نوره موسیقی تر هغه وخت پورې
جاری وه چې ټولې نذرانې وسوزولے شوې. ۲۹ بیا حزقیاه
بادشاه او ټول خلق ټیټ شول او د خُدائ پاک عبادت یې
وکړو. ۳۰ بادشاه د قوم مشرانو لیویانو ته وفرمائیل چې د
مالِک خُدائ د ثناء صِفت هغه سندرې ووایئ کومې چې د
داؤد او د آسف پېغمبر په ذریعه لیکلے شوې وې. نو هر یو د
لوئې خوشحالۍ سره او سندرې ووئیلې هغوئ د خُدائ پاک
په وړاندې په زنګنونو او ټیټ شول او د هغهٔ عبادت یې وکړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ حزقیاه خلقو ته وفرمائیل، ”اوس چې تاسو پاک شوئ،
نو د مالِک خُدائ کور ته قربانۍ او د شکرانې نذرانې راوړئ.“
نو خلقو خپلې قربانۍ او د شکرانې نذرانې راوړې او چا چې
غوښتل نو هغوئ سوزېدونکې نذرانې هم راوړې. ۳۲ هغوئ
مالِک خُدائ ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه اویا غوَیی، سل
ګډان او دوه سوه ګډُوری راوستل، ۳۳ هغوئ شپږ سوه
غوَیی او درې زره ګډان هم راوستل چې د خلقو د خوړلو
دپاره قربانی شی. ۳۴ خو اِمامان دومره لږ وُو چې دا ټول
ځناور يې نۀ شول حلالولے، نو ليويانو د کار د ختمېدو
پورې د هغوئ مدد کولو تر هغه وخته پورې چې نورو اِمامانو
ځانونه پاک کړل. ليويانو د ځان په پاک ساتلو کښې د
اِمامانو نه زيات خيال ساتلو. ۳۵ د پوره سوزېدونکو نذرانو
د پېش کېدو نه علاوه، اِمامان د هغه وازګې د سوزولو هم
ذمه وار وُو کومه چې د هغه نذرانو نه پېش کړے شوې وه
چې خلقو خوړلې وه او هغوئ د هغه ميو د تويولو هم ذمه
وار وُو چې د سوزېدونکې نذرانو سره پېش کړے شوی وُو.
نو داسې د مالِک خُدائ په کور کښې عبادت بيا شروع شو.
۳۶ حزقیاه بادشاه او خلق خوشحاله وُو، ځکه چې خُدائ
پاک د هغوئ مدد کړے وو چې هر څۀ زر زر وشی.

## د فسحې د اختر تيارے

۱-۳ نو خلقو په صحيح وخت يعنې په وړومبۍ مياشت
کښې د فسحې اختر ونۀ کړو، ځکه چې ټولو اِمامانو ځانونه
نۀ وُو پاک کړی او ټول خلق په يروشلم کښې نۀ وُو راغونډ
شوی. نو بادشاه، د هغۀ آفسران او د يروشلم خلق دې ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راضى شول چې اختر په دويمه مياشت کښې وکړى او
بادشاه د يهوداه او اِسرائيل ټول خلق راوغوښتل. هغۀ د
اِفرائيم او منسى قبيلو ته خاص اهميت ورکړو او هغوئ ته
يې د دې دعوت خطونه ولېږل چې په يروشلم کښې د مالِک
خُدائ کور ته راشئ چې د بنى اِسرائيلو د مالِک خُدائ د
درناوى دپاره د فسحې اختر وکړُو. ۴ نو دا خبره بادشاه
او نورو خلقو ته ښۀ ښکاره شوه، ۵ نو هغوئ په شمال
کښې د دان نه واخله په جنوب کښې د بيرسبع پورې ټول
اِسرائيل له دعوت ورکړو، چې په يروشلم کښې په دومره لوئ
شمېر کښې راغونډ شى چې مخکښې نۀ وى راغونډ شوى او
د قانون په مطابق د فسحې اختر وکړى. ۶ نو پېغام
وړُونکى د بادشاه او د هغۀ د آفسرانو په حُکم د دې دعوت
سره ټول يهوداه او اِسرائيل ته لاړل، ”اے بنى اِسرائيلو، تاسو
د اسور بادشاهانو نه بچ شوى يئ چې کله هغوئ مُلک قبضه
کړے وو. نو اوس مالِک خُدائ ته راوګرځئ، کوم چې د
اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب خُدائ پاک دے او هغه به تاسو ته
راوګرځى. ۷ د خپل پلار نيکۀ او د خپلوانو په شان مۀ
جوړېږئ ځوک چې د مالِک خُدائ د هغوئ د خُدائ پاک
وفادار نۀ وُو. لکه څنګه چې تاسو ته پته ده چې هغوئ له يې
سخته سزا ورکړه. ۸ د هغوئ په شان ضدى مۀ جوړېږئ،
خو د مالِک خُدائ تابعدارى کوئ. په يروشلم کښې د مالِک
خُدائ کور ته راځئ، کوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک د همېشه دپاره مقدس کړے دے او د هغۀ عبادت کوئ
نو داسې به د هغۀ د سخت قهر نه خلاص شئ. ۹ کۀ تاسو
مالِک خُدائ ته راوګرځئ، نو چا چې ستاسو خپلوان اغوا
کړى دى نو هغوئ به ستاسو په خپلوانو باندې رحم وکړى او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ به خپلو کورونو ته بيا راولی. مالِک خُدائ، خُدائ پاک
رحمان او رحيم دے او کۀ تاسو هغۀ ته راوګرځئ، نو هغه به
تاسو قبول کړی.“ ۱۰ پيغام‌وړونکی په شمال کښې د زبولون
قبيلې پورې د اِفرائيم او منسی قبيلو په علاقې کښې هر يو
ښار ته لاړل، خو خلقو په هغوئ پورې خندل او ټوقې يې
ورپورې کولې. ۱۱ خو بيا هم د آشر، منسی او د زبولون
قبيلو څۀ خلقو عاجزی ښکاره کړه او يروشلم ته لاړل. ۱۲
خُدائ پاک د يهوداه خلق هم د دې دپاره متحد کړل چې د
هغۀ په مرضۍ باندې روان شی او د بادشاه او د هغۀ د
آفسرانو حُکمونه ومنی.

## د فسحې اختر کېدل

۱۳ په دويمه مياشت کښې د خلقو يو لوئ شمېر په يروشلم
کښې راغونډ شو چې د پتيرې روټۍ اختر وکړی. ۱۴ هغوئ
هغه ټولې قربانګاه واخستلې کومې چې په يروشلم کښې د
نذرانو د پېش کولو او د خوشبويۍ د سوزولو دپاره
استعمالېدلې او د قِدرون په وادۍ کښې يې وغورزولې. ۱۵
او د هغه مياشتې په څوارلسمه ورځ هغوئ د فسحې اختر د
قربانۍ دپاره ګډُوری حلال کړل. کوم اِمامان او ليويان چې
پاک نۀ وُو نو هغوئ دومره وشرمېدل چې خپل ځانونه يې
مالِک خُدائ ته وقف کړل، نو داسې هغوئ د مالِک خُدائ په
کور کښې سوزېدونکې نذرانې پېش کولے شوې. ۱۶ هغوئ
د خُدائ پاک د خِدمتګار موسیٰ د شريعت په مطابق د مالِک
خُدائ په کور کښې په خپلو ځايونو باندې ودرېدل. ليويانو د
قربانۍ وينه اِمامانو له ورکړه، چې هغوئ دا په قربانګاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې وشيندله. ۱۷ په دغه مجمه کښې ډېر خلق په اودس
کښې نۀ وُو، نو په دې وجه هغوئ د فسحې اختر ګډُوری نۀ
شُو حلالولے، نو ليويانو د هغوئ دپاره حلال کړل او هغه
ګډُوری يې مالِک خُدائ ته وقف کړل. ۱۸ د دې نه علاوه،
هغه ډېر کسان کوم چې د اِفرائيم، منسى، يساکار او زبولون
د قبيلو نه راغلى وُو نو هغوئ د پاکوالى رسم نۀ وو ادا کړے،
نو هغوئ په غلطه طريقه باندې د فسحې اختر کولو. حزقياه
بادشاه د هغوئ دپاره دا دُعا وکړه، ۱۹ ”اے مالِکه خُدايه،
زمونږ د پلار نيکۀ خُدايه پاکه. د خپل رحم په وجه هغه کسان
معاف کړه چې هغوئ د زړۀ د اخلاصه ستا عبادت کوى،
اګر چې هغوئ پاک هم نۀ دى.“ ۲۰ مالِک خُدائ د حزقياه
دُعا واورېدله، هغۀ هغه خلق معاف کړل او هغوئ ته يې څۀ
نقصان ونۀ رسولو. ۲۱ کوم خلق چې په يروشلم کښې
راغونډ شوى وُو نو هغوئ د لوئې خوشحالۍ سره اووۀ ورځې
د پتيرې روټۍ اختر کولو او ليويانو او اِمامانو هره ورځ د
جذبې سره د مالِک خُدائ ثناء صِفت کولو. ۲۲ حزقياه د
ليويانو دا صِفت وکړو ځکه چې هغوئ د مالِک خُدائ په
عبادت کښې تکړه وُو.

## دويم ځل خوشحالى کول

د هغه اوو ورځو نه پس په کومو کښې چې هغوئ د مالِک
خُدائ په ثناء صِفت کښې قربانۍ پېش کړې وې، چې کوم د
هغوئ د پلار نيکۀ خُدائ پاک دے، ۲۳ هغوئ ټولو دا فيصله
وکړه چې اووۀ ورځې به نور اختر کوى. نو هغوئ د
خوشحالۍ سره اختر وکړو. ۲۴ حزقياه بادشاه يو زر غوَيى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اووهٔ زره ګډان خلقو له ورکړل چې حلال یې کړی او وې
خوری او آفسرانو هغوئ له یو زر نور غوَیی او لس زره ګډان
ورکړل. نو داسې د ډېرو اِمامانو د پاکوالی رسم ادا شو. ۲۵
نو دا ټول خوشحاله وُو، د یهوداه خلق، اِمامان، لیویان، هغه
خلق چې کومِ د شمالی طرف نه راغلی وُو او هغه مسافر
کوم چې په اِسرائیل او یهوداه کښې پاخهٔ دېره شوی وُو. ۲۶
د یروشلم ښار د خوشحالئ نه ډک وو، ځکه چې د داؤد زوئ
سلیمان د وخت نه پس هیڅکله هم داسې نهٔ وُو شوی. ۲۷
اِمامانو او لیویانو د خلقو دپاره د مالِک خُدائ برکت
وغوښتلو. خُدائ پاک په آسمان کښې په خپل کور کښې د
هغوئ دُعاګانې واورېدلې او قبولې یې کړې.

## د حزقیاه د مذهبی ژوند اصلاح کول

۳۱ ۱ د اختر د ختمېدو نه پس، ټول اِسرائیلیان د یهوداه
هر یو ښار ته لاړل، او د کاڼو ستنې یې ماتې کړې، د اشیرې
بُت نښې یې راوغورزولې او قربانګاه او علاقائی عبادتخانې
یې تباه کړې. هغوئ په باقی ټوله یهوداه کښې، د بنیامین،
اِفرائیم او منسی په علاقو کښې هم دغه شان وکړل، بیا هغوئ
ټول کورونو ته راواپس شول. ۲ حزقیاه بادشاه د اِمامانو
او لیویانو تنظیم هم بیا جوړ کړو، چې د هغې لاندې هر یو
خپلې خاص ذمه وارئ لرلې. په دې کښې د سوزېدونکو
نذرانو او د سلامتئ د نذرانو پېش کول، او د مالِک خُدائ د
کور په دروازو کښې ثناء صِفت کول او شُکر ادا کول هم
شامل وُو. ۳ هر سحر او هر ماښام به هغهٔ د خپلو رَمو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څاروو نه د سوزېدونکې نذرانو دپاره څناور ورکول او دا
څناور به د سبت په ورځ، د نوې میاشتې په اختر کښې او
چې په نورو اخترونو کښې پېش کېدل، کوم چې د مالِک
خُدائ په قانون کښې لیکلے شوی وُو. ۴ د دې نه علاوه،
بادشاه د یروشلم خلقو ته وفرمائیل چې هغه نذرانې راوړی
چې دا اِمامانو او لیویانو حق جوړېدو، نو چې داسې هغوئ
هر وخت د مالِک خُدائ قانون ته وقف وی. ۵ چې
اِسرائیلیانو څنګه دا حُکم واورېدو نو هغوئ د خپلو وړومبو
غلو، میو، د زیتُونو تېلو، شاتو او د نور پېداوار تُحفې راوړې
او چې هغوئ څۀ هم لرل د هغې لسمه برخه یې هم راوړه. ۶
کوم خلق چې د یهوداه په ښارونو کښې اوسېدل نو هغوئ
ټولو د خپلو څاروو او ګډو، لسمه حِصه راوړه او هغوئ
ډېرې زیاتې تُحفې هم راوړې، چې هغه یې مالِک خُدائ خپل
خُدائ پاک ته وقف کړې. ۷ په درېمه میاشت کښې د
تُحفو راټلل شروع شول او تر ورپسې څلورو میاشتو پورې د
دې نه ډېری جوړېدل شروع وُو. ۸ کله چې حزقیاه بادشاه
او د هغۀ آفسران راغلل او دا لوئ ډېری یې ولیدل، نو هغوئ
د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړو او د خپلو اِسرائیلیانو صِفت
یې هم وکړو. ۹ بادشاه د اِمامانو او لیویانو سره د دې
تُحفو په حقله خبره وکړه، ۱۰ او د صدوق د اولاد یو کس،
مشر اِمام عزریاه هغۀ ته ووئیل، "خلقو خپلې تُحفې د مالِک
خُدائ کور ته راوړل شروع کړې دی، نو په دې وجه دا د
خوراک دپاره کافی دی او د دې نه علاوه دا ډېر زیات هم
دی. دا هر څۀ مونږ سره ځکه زیات پاتې شوی دی چې
مالِک خُدائ خپلو خلقو له برکت ورکړے دے." ۱۱ د
بادشاه په حُکم هغوئ د مالِک خُدائ په کور کښې ګودامونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ کړل ۱۲ او ټولې تُحفې او لسمې حِصې يې د امانت په
توګه کېښودې. هغوئ يو ليوى مشر مقرر کړو چې نوم يې
کنعنياه وو او د هغهٔ ورور سِمعى يې د هغهٔ مددګار جوړ
کړو. ۱۳ دې لسو ليويانو ته د هغوئ د اختيار لاندې کار
کول حواله شوے وو: يحیايل، عززياه، نحت، عساهيل،
يريموت، يوزبد، اِلىايل، اِسماکياه، محت، او بناياه. دا هر
څهٔ د حزقياه بادشاه او د مشر اِمام عزرياه د اختيار لاندې
شوى وُو. ۱۴ يو ليوى، د يمنه زوئ قورې څوک چې د
مالِک خُدائ د کور د نمرختاهٔ طرف ته دروازې مشر
څوکيدار وو، هغه د هغه تُحفو د وصولولو او د تقسيمولو
مشر وو چې کومې مالِک خُدائ ته پېش کېدلې. ۱۵ په هغه
نورو ښارونو کښې چې چرته اِمامان اوسېدل، په دې کار
کښې په وفادارۍ سره دې ليويانو د هغهٔ مدد کولو: عدن،
مينامين، يشوَع، سمعياه، امرياه او سکانياه. هغوئ په خپلو
ليويانو باندې خوراک په وړو او غټو يو شان تقسيمولو هم
هغه شان چې څنګه د هغوئ ذمه وارى وه، ۱۶ خو دا تقسيم
د ډلو په مطابق نهٔ وو. هغوئ هغه ټولو سړو له يوه برخه
ورکوله چې د هغوئ عُمر درې کاله يا د دې نه زيات وو د
کومو چې د خپلو عُهدو په مطابق د مالِک خُدائ په کور
کښې د هرې ورځې ذمه وارۍ لرلې. ۱۷ اِمامانو ته د ډلو په
مطابق ذمه وارۍ حواله شوې وې او هغه ليويانو ته د کار د
ډلو په مطابق ذمه وارۍ حواله شوې وې چې د هغوئ عُمر
شل کاله يا د دې نه زيات وو. ۱۸ د خپلو ښځو، بچو او
خپلو نورو کشرانو سره د هغوئ ټولو نومونه ليکلے شوى
وُو، ځکه چې هغوئ ته وئيلى شوى وُو چې هغوئ دې د خپلو
مقدسو ذمه وارو ادا کولو دپاره هر وخت تيار اوسيږى. ۱۹

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم اِمامان چې په هغه ښارونو کښې اوسېدل چې د هارون
اولاد ته حواله شوی وُو، یا چې د ځرن په هغه زمکو کښې
اوسېدل چې د دې ښارونو وې، نو هلته یو څو ذمه وار سړی
داسې وُو چې هغوئ به د اِمامانو په کورَنو کښې په ټولو
ناریناؤ باندې خوراک تقسیمولو او په هغه هر چا باندې یې
هم خوراک تقسیمولو چې د چا نومونه د لیویانو په ډلو کښې
لیکلے شوی وُو. ۲۰ په ټوله یهوداه کښې، حزقیاه بادشاه
هغه څۀ کول چې څۀ صحیح وُو او چې په څۀ باندې مالِک
خُدائ د هغۀ خُدائ پاک رضا کېدو. ۲۱ هغۀ د مالِک خُدائ
د کور دپاره او د شریعت منلو دپاره چې هر څۀ هم کړی وُو،
دا یې د زړۀ د اخلاصه کړی وُو او د خُدائ پاک طلبګار وو
نو په دې وجه هغه کامیاب وو.

## د اسوریانو یروشلم له دهمکی ورکول

۳۲ ۱ د دې واقعو نه پس، چې په کومو کښې حزقیاه
بادشاه په وفادارئ سره د مالِک خُدائ خِدمت کړے وو، د
اسور بادشاه سینحرب په یهوداه حمله وکړه. هغۀ د پَخو
دېوالونو ښارونه محاصره کړل او خپل لښکر له یې حُکم
ورکړو چې دېوالونه راوغورزوی. ۲ کله چې حزقیاه ته پته
ولګېده چې سینحرب په یروشلم د حملې کولو اراده لری،
۳-۴ نو هغۀ او د هغۀ آفسرانو دا فیصله وکړه چې د ښار
نه بهر د اوبو لاره بنده کړی دا د دې دپاره چې کله اسوریان
یروشلم ته نزدې شی نو هغوئ ته به اوبۀ نۀ ملاوېږی. آفسرانو
ډېر خلق روان کړل او ټولې چینې یې بندې کړې، نو داسې د
چینو نه نورې اوبۀ نۀ بهېدلې. ۵ بادشاه د ښار دِفاع داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مضبوطه کړه چې د دې دېوال يې مرمت کړل، په دې باندې
يې برجونه جوړ کړل او بهرنی دېوال يې ورله جوړ کړو. د دې
نه علاوه، هغهٔ د دِفاع هغه ځايونه هم مرمت کړل چې په هغه
زمکه باندې جوړ وُو چې د يروشلم د زړې برخې نمرخاتهٔ
طرف ته ډک کړے شوی وُو. هغهٔ ډېره زياته وسله او ډالونه
جوړ کړل. ۶ هغهٔ په خلقو باندې فوجی آفسران مقرر کړل
او هغوئ له يې حُکم ورکړو چې د ښار د دروازې سره په
کولاو ځائ کښې راغونډ شئ. هغهٔ ورته ووئيل، ۷ "تکړه
شئ او حوصله مضبوطه کړئ او د اسور بادشاه نه او د هغه
لښکر نه مهٔ يرېږئ چې هغهٔ راروان کړے دے. کوم ذات چې
زمونږ مل دے نو هغه د هغهٔ نه زيات طاقتور دے. ۸ د
هغهٔ سره انسانی طاقت دے، خو مونږ سره د مالِک خُدائ
زمونږ خُدائ پاک شته چې زمونږ مدد وکړی او زمونږ
جنګونه وکړی." د خلقو د خپل بادشاه په دې خبره باندې
حوصله مضبوطه شوه. ۹ څهٔ موده وروستو، کله چې
سينحرب او د هغهٔ لښکر تر اوسه پورې په لکيس کښې وو،
نو هغهٔ حزقياه او د يهوداه هغه خلقو ته چې د هغهٔ سره په
يروشلم کښې وُو دا پېغام ورولېږلو، ۱۰ "زهٔ د اسور بادشاه
سينحرب دا وايم چې ستاسو په زړهٔ کښې څهٔ دی چې تاسو
به د يروشلم محاصرې ته ټينګ شئ؟ ۱۱ حزقياه تاسو ته
وائی چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو زمونږ د
طاقت نه بچ کړی، خو حزقياه تاسو دوکه کوی او دې ته به
مو جوړوی چې د لوږې او تندې نه مړهٔ شئ. ۱۲ دا هغه
کس دے چا چې د مالِک خُدائ علاقائی عبادتخانې او
قربان‌ګاه تباه کړی دی او بيا يې د يهوداه او يروشلم خلقو ته
ووئيل چې صِرف په يوه قربان‌ګاه باندې عبادت وکړئ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشبويۍ سوزوئ. ١٣ تاسو ته پته نشته څۀ چې ما او زما
پلار نيکۀ د نورو قومونو په خلقو باندې څۀ کړې دي؟ د بل يو
قوم معبودانو خپل خلق د اسور بادشاه نه بچ کړې دي څۀ؟
١٤ د هغه ټولو مُلکونو يو خُدائ کله هم خپل مُلک زمونږ نه
بچ کړے دے څۀ؟ نو بيا تاسو ولې وايئ چې ستاسو خُدائ
تاسو بچ کولے شى؟ ١٥ نو حزقياه دې ته مۀ پرېږدئ چې
دوکه مو کړى يا چې په داسې غلطه لار مو بوځى. په هغۀ
باندې اعتبار مۀ کوئ. د يو قوم خُدائ هم خپل خلق د اسور
د يو بادشاه نه نۀ دى بچ کړى. نو بېشکه ستاسو دا خُدائ هم
تاسو نۀ شى بچ کولے.“ ١٦ د اسور آفسرانو د مالِک
خُدائ، خُدائ پاک او د مالِک خُدائ خِدمت کوونکى حزقياه
په حقله د دې نه هم زيات بدرد ووئيل. ١٧ بادشاه چې کوم
خط ليکلے وو دې خط په مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو په
خُدائ پاک پورې ټوقې وکړې. په دې کښې ليکلى وُو، ”د
قومونو خُدايانو خپل خلق زما د طاقت نه نۀ دى بچ کړى او
نۀ به د حزقياه خُدائ خپل خلق زما نه بچ کړى.“ ١٨
آفسرانو په عبرانۍ کښې د دې دپاره چغې ووهلې چې د
يروشلم هغه خلق ويروى او بېحوصلې يې کړى کوم چې د
ښار په ديوال باندې وُو، نو داسې د ښار قبضه کول به آسان
شى. ١٩ هغوئ د يروشلم د خُدائ پاک په حقله هم هغه
شان خبرې وکړې چې د نورو خلقو د خُدايانو په حقله يې
کولې، د هغه بُتانو چې د انسان لاسونو جوړ کړى وُو. ٢٠
حزقياه بادشاه او د آموص زوئ يشعياه پېغمبر خُدائ پاک
ته سوال وکړو او هغۀ ته يې د مدد دپاره فرياد وکړو. ٢١
مالِک خُدائ يوه فرښته راولېږله چې هغې د اسور د لښکر
فوجيان او آفسران ووژل. نو داسې بادشاه اسور ته واپس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شرمېدلے لاړو. يوه ورځ چې کله هغه د خپل خُدائ پاک په
عبادتخانه کښې وو، نو د هغهٔ يو څو زامنو هغه په تُورو باندې
ووهلو او مړ يې کړو. ۲۲ نو داسې مالِک خُدائ حزقياه
بادشاه او د يروشلم خلق د اسور بادشاه سينحرب د زور نه
او د هغوئ د نورو دشمنانو نه بچ کړل. او هغوئ د هر يو قوم
سره په امن کښې ژوند تېرولو. ۲۳ ډېر خلق يروشلم ته
راتلل، چې مالِک خُدائ له يې نذرانې او حزقياه له يې تُحفې
راوړې، نو د هغه وخت نه حزقياه د ټولو قومونو په نظر کښې
عزتمند وو.

## د حزقياه بيمارى او غرور

۲۴ تقريباً هم هغه وخت حزقياه بادشاه بيمار شو او مرګ
ته نزدې وو. هغهٔ دُعا وکړه او مالِک خُدائ ورته يوه نښه
وښودله چې هغه به روغ شى. ۲۵ خو حزقياه ډېر زيات
مغروره وو او د هغه څهٔ شکريه يې ادا نهٔ کړه چې مالِک
خُدائ د هغهٔ دپاره کړى وُو، نو په دې وجه د مالِک خُدائ
غصه په هغهٔ، په يهوداه او يروشلم نازله شوه. ۲۶ خو په
آخر کښې حزقياه او د يروشلم خلقو خپل ځانونه عاجز کړل،
نو ځکه مالِک خُدائ د حزقياه په ژوند کښې خلقو له سزا
ورنهٔ کړه.

## د حزقياه مال دولت او شان و شوکت

۲۷ حزقياه بادشاه ډېر مالداره شو او هر چا به د هغهٔ عزت
کولو. هغهٔ د خپلو سرو زرو، سپينو زرو، قيمتى کاڼو،
مصالحو، ډالونو او د نورو قيمتى څيزونو دپاره ګودامونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ کړی وُو. ۲۸ د دې نه علاوه، هغهٔ د خپلې غلې، مېو،
زیتُونو تېلو دپاره گوداموُنه، د څاروو دپاره دېرې او د گډو
دپاره شپولونه جوړ کړی وُو. ۲۹ د دې هر څهٔ نه علاوه،
خُدائ پاک هغهٔ له گډې او څاروی ورکړی وُو او نور دولت
يې دومره ډېر ورکړے وو چې هغهٔ ډېر ښارونه جوړ کړل.
۳۰ دا حزقیاه بادشاه وو چې هغهٔ د جیحون د چینو خولې
بندې کړې او اوبو له يې یوه لار جوړه کړه چې اوبهٔ د یو
سورنگ په ذریعه د یروشلم په دېوالونو کښې دننه یو ځائ ته
بهیږی. حزقیاه چې هر کار کولو نو په هغې کښې کامیابېدو،
۳۱ او چې کله د بابل سفیر د هغه عجیبه واقعې د معلوملو
دپاره راغلو چې کومه په هغه مُلک کښې شوې وه، نو خُدائ
پاک حزقیاه د دې دپاره یواځې پرېښودو چې د هغهٔ نیت
معلوم کړی.

## د حزقیاه د بادشاهۍ ختمېدل

۳۲ حزقیاه بادشاه چې نور هر څهٔ کړی وُو سره د هغهٔ د
نېکو عملونو، دا د آموص زوئ یشعیاه پیغمبر په رویا کښې
لیکلے شوی دی چې هغه د یهوداه او اِسرائیل د بادشاهانو د
تاریخ یوه حِصه ده. ۳۳ نو حزقیاه مړ شو او هغه د شاهی
ادیرې په پاسنۍ حِصه کښې ښخ شو. د هغهٔ په مرگ باندې د
یهوداه او یروشلم ټولو خلقو هغهٔ له یو لوئ عزت ورکړو. د
هغهٔ زوئ منسی د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه منسی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ٣٣

١ منسی دولس کلن وو چې هغه د یهوداه بادشاه
جوړ شو او په یروشلم یې پینځۀ پنځوس کاله بادشاهی وکړه.
٢ منسی د هغه قومونو هغه حرام کارونه کول کوم چې د
مالِک خُدائ په نظر کښې بد وُو. دا هم هغه خلق وُو کوم چې
مالِک خُدائ په هغه وخت کښې د هغه مُلک نه ویستلی وُو
چې کله د هغۀ خلق مخ په وړاندې تلل. ٣ هغۀ علاقائی
عبادتخانې بیا جوړې کړې چې کوم د هغۀ پلار حزقیاه تباه
کړی وُو. هغۀ د بعل د عبادت دپاره قربانګاه جوړې کړې، د
اشیرې بُت نښې یې جوړې کړې او د ستورو عبادت یې
وکړو. ٤ هغۀ د مالِک خُدائ په کور کښې د غېرو قومونو
قربانګاه جوړې کړې، د کوم ځائ په حقله چې مالِک خُدائ
فرمائیلی وُو چې، ”زما نوم به په یروشلم کښې د همېشه دپاره
پاتې شی.“ ٥ د مالِک خُدائ د کور په دوو دربارونو کښې
هغۀ د ستورو د عبادت دپاره قربانګاه جوړې کړې. ٦
هغۀ د هنوم په وادۍ کښې خپل زامن د سوزېدونکې نذرانو په
توګه قربانی کړل. هغۀ د غېبو کارونو او جادو نه کار اخستلو
او قسمت ښودونکو او د فالګرو سره یې مشورې وکړې. هغۀ
د مالِک خُدائ خِلاف لویه ګناه وکړه او د هغۀ غصه یې
راوپاروله. ٧ هغۀ چې کوم بُت جوړ کړے وو هغه یې
واخستلو او د خُدائ پاک په کور کښې یې ودرولو چې د کوم
په حقله خُدائ پاک داؤد او د هغۀ زوئ سلیمان ته فرمائیلی
وُو، ”په دې کور کښې او په یروشلم کښې به زۀ خپل نوم د
همېشه دپاره وساتم کوم ښار چې ما د بنی اِسرائیلو د ټولو
قبیلو نه خوښ کړے دے. ٨ کۀ بنی اِسرائیلیان زما ټول
حُکمونه منی او هغه ټول قانون پوره کوی چې زما خِدمت
کوونکی موسیٰ هغوئ له ورکړے دے، نو زۀ به هغوئ نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږدم چې د هغه مُلک نه وويستلے شي چې کوم ما د
هغوئ پلار نيکۀ له ورکړے دے.“ ٩ خو منسى د يهوداه او
يروشلم خلق بې‌لارې کړل او هغوئ د هغه قومونو نه هم لوئې
ګناهونه وکړل کوم چې مالِک خُدائ تباه کړى وُو کله چې
بنى اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل.

## د منسى پښېمانه کېدل

١٠ اګر چې مالِک خُدائ منسى او د هغۀ خلقو له خبردارے
ورکړو، خو هغوئ به ورته غوږ نۀ نيولو. ١١ نو مالِک خُدائ
د اسور فوجى مشران ولېږل چې په يهوداه باندې حمله
وکړى. او هغوئ منسى ونيولو، کُنډې يې ورته واچولې او په
زنځيرونو باندې يې وتړلو او بابل ته يې بوتلو. ١٢ هغه د
خپلو مصيبتونو په وجه عاجز شو او مالِک خُدائ، خُدائ
پاک ته راوګرځېدو او هغۀ ته يې د مدد دپاره سوال وکړو.
١٣ خُدائ پاک د منسى سوال واورېدو او قبول يې کړو او
هغه يې ولېږلو چې يروشلم ته واپس لاړ شى او بيا حکومت
وکړى. نو منسى ته پته ولګېده چې مالِک خُدائ په رښتيا
خُدائ پاک دے. ١٤ د دې نه پس، منسى د داؤد ښار د
بهرنى دېوال اوچتوالے زيات کړو، د نمرپرېواتۀ په طرف په
وادئ کښې د جيحون د چشمې نه د کبانو دروازې پورې او
هم دغه دېوال د عوفل د غر نه هم راتاو وو. هغۀ د يهوداه د
پَخو دېوالونو په هر يو ښار کښې يو يو فوجى آفسر مقرر
کړو. ١٥ هغۀ د مالِک خُدائ د کور نه هغه پردى بُتان او
نښې لرې کړې کومې چې هغۀ هلته ايښې وې او هغۀ د غېرو
قومونو هغه قربان‌ګاه لرې کړې کومې چې د مالِک خُدائ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور په غرۀ او په یروشلم کښې په نورو ځایونو کښې وې،
هغۀ دا ټول ځیزونه د ښار نه بهر یوړل او وې غورزول. ۱۶
هغۀ هغه قربانګاه هم مرمت کړه چرته چې د مالِک خُدائ
عبادت کېدو او چې هغۀ وربانديې د سلامتۍ نذرانې او د
شکرانې نذرانې پېش کولې. هغۀ د یهوداه ټولو خلقو له حُکم
ورکړو چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک
عبادت وکړی. ۱۷ اګر چې خلقو په علاقائی عبادتخانو کښې
هم قربانۍ پېش کولې، خو هغوئ دا صِرف مالِک خُدائ ته
پېش کولې.

## د منسی د بادشاهۍ ختمېدل

۱۸ نور هر څۀ چې منسی کړی وُو، هغۀ چې خُدائ پاک ته
کوم سوال کړے وو او د پېغمبرانو هغه پېغامونه چې هغوئ د
مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک په نوم د هغۀ سره
خبرې وکړې، دا هر څۀ د اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې
لیکلے شوی دی. ۱۹ د بادشاه دُعا او د خُدائ پاک د دُعا
قبلول او د هغۀ د توبې نه مخکښې د هغه ګناهونو حِساب
کِتاب چې هغۀ کړی وُو، هغه بد عملونه چې هغۀ کړی وُو،
علاقائی عبادتخانې او د اشیرې بُت کومې نښې چې هغۀ
جوړې کړې وې او هغه بُتان چې هغۀ یې عبادت کولو، دا هر
څۀ د پېغمبرانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۲۰ منسی
مړ شو او په محل کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ امون د هغۀ
نه پس بادشاه جوړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهوداه بادشاه امون

٢١ امون دوویشت کلن وو چې هغه د یهوداه بادشاه جوړ
شو او هغهٔ په یروشلم باندې دوه کاله حکومت وکړو. ٢٢ د
خپل پلار منسی په شان هغهٔ هم د مالِک خُدائ خِلاف ګناه
وکړه او چې د هغهٔ پلار د کومو بُتانو عبادت کړے وو نو هغهٔ
یې هم عبادت وکړو. ٢٣ خو هغه د خپل پلار په شان عاجز
نهٔ شو او نهٔ مالِک خُدائ ته راوګرځېدو، هغه د خپل پلار نه
هم زیات ګناهګار شو. ٢٤ د امون آفسرانو د هغهٔ خِلاف
منصوبه جوړه کړه او په محل کښې یې ووژلو. ٢٥ د یهوداه
خلقو د امون قاتِلان ووژل او د هغهٔ زوئ یوسیاه یې بادشاه
جوړ کړو.

## د یهوداه بادشاه یوسیاه

٣٤ ١ یوسیاه اتهٔ کلن وو چې هغه بادشاه جوړ شو او
یو دېرش کاله یې په یروشلم بادشاهی وکړه. ٢ هغهٔ هم هغه
کار کولو چې په څهٔ باندې مالِک خُدائ خوشحالېدو، هغه د
خپل پلار نیکهٔ داؤد په نقش قدم باندې روان وو او هغه د
خُدائ پاک د قانون نه اخوا دېخوا نهٔ اوړېدو.

## د یوسیاه د غېرو قومونو د عبادت ځایونه ورانول

٣ د یوسیاه د بادشاهۍ په اتم کال، چې په کوم وخت کښې
هغه لا وړوکے وو، نو هغهٔ د خپل پلار نیکهٔ داؤد خُدائ پاک
عبادت شروع کړو. ځلور کاله وروستو هغهٔ علاقائی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادتخانې، د اشيرې بُت نښې او د نورو ټولو بُتانو تباه کول
شروع کړل. ۴ د هغهٔ د ښودنې لاندې هغه قربان‌ګاه ټوټې
ټوټې کړے شوه چرته چې د بعل عبادت کېدو او د دې سره
نزدې د خوشبويۍ قربان‌ګاه راوغورزولے شوې. هغوئ د
اشيرې بُتانو او د نورو ټولو بُتانو نه خاورې جوړې کړې او
هغه خاورې يې د هغه خلقو په قبرونو باندې وشيندلې چا چې
دې ته قربانۍ پېش کړې وې. ۵ هغهٔ د بُت پرستو اِمامانو
هډُوکی په هغه قربان‌ګاه باندې وسوزول چرته چې هغوئ
عبادت کړے وو. د دې هر څهٔ کولو په وجه هغهٔ يهوداه او
يروشلم بيا پاک کړل. ۶ هغهٔ په ښارونو کښې او د منسى،
اِفرائيم او شمعون او په شمال کښې د نفتالى پورې هم دغه
شان کار وکړو. ۷ د شمالى بادشاهۍ په ټوله علاقه کښې
هغهٔ قربان‌ګاه او د اشيرې بُت نښې ټوټې ټوټې کړې او بُتان
يې خاورې کړل او د خوشبويۍ ټولې قربان‌ګاه يې ټوټې ټوټې
کړې. بيا هغه يروشلم ته راواپس شو.

## د شريعت د کِتاب موندلے کېدل

۸ د هغهٔ د بادشاهۍ په اتلسم کال، د هغې نه پس چې کله
هغهٔ د غېرو قومونو د عبادت نه مالِک خُدائ کور او هغه
مُلک پاک کړے وو، نو يوسياه بادشاه دا درې سړی ولېږل
چې د مالِک خُدائ، خُدائ پاک کور مرمت کړی، د اصلياه
زوئ سافن، معسياه، چې د يروشلم حکمران وو او د يهوآخز
زوئ يوآخ چې مشر آفسر وو. ۹ کومې پېسې چې ليوی
خادمانو د مالِک خُدائ کور کښې راغونډې کړې وې هغه يې
مشر اِمام خِلقياه له ورکړې. دا د اِفرائيم او منسى او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمالي ټولې بادشاهۍ نه او د يهوداه، بنيامين او د يروشلم د
خلقو نه راغونډې شوې وې. ۱۰ بيا دا پيسې هغه درېو سړو
ته حواله شوې چې د مالِک خُدائ د کور د مرمت مشران وُو
او هغوئ دا پيسې دې مزدورانو له ورکړې ۱۱ يعنې ترکاڼانو
او ګِلکارانو له چې جوړ شوی کاڼی او لرګی واخلی او د هغه
عمارت په مرمت کښې استعمال شی چې د يهوداه بادشاهانو
پرېښے وو چې خراب شی. ۱۲ کومو خلقو چې دا کار
کولو هغه ټول محنتی وُو. د هغوئ مشری دې څلورو ليويانو
کوله، د مراری د قبيلې يحت او عبدياه او د قُهات د قبيلې
زکرياه او مسلام. ليويان تکړه موسيقاران وُو. ۱۳ نور
ليويان د سامان د وړلو راوړلو او د مختلفو کارونو د
کاريګرو مشران وُو او نورو به حِساب کِتاب ساتلو او
څوکيداری به يې کوله. ۱۴ کله چې د ګودام نه پيسې
ويستلے شوې نو په دې دوران کښې خِلقياه د مالِک خُدائ د
شريعت کِتاب وموندلو، هغه شريعت چې خُدائ پاک موسىٰ
له ورکړے وو. ۱۵ هغهٔ سافن منشی ته وفرمائيل، ”ما دلته د
مالِک خُدائ په کور کښې د شريعت کِتاب موندلے دے.“
هغهٔ سافن له کِتاب ورکړو، ۱۶ او سافن هغه کِتاب بادشاه
له يوړو. سافن ورته ووئيل، ”تا چې د څهٔ حُکم کړے وو نو
مونږ هغه هر څهٔ کړی دی. ۱۷ کومې پيسې چې د مالِک
خُدائ په کور کښې اېښودے شوې وې مونږ هغه کاريګرانو
او د هغوئ مشرانو ته حواله کړې دی.“ ۱۸ بيا هغهٔ ووئيل،
”هغه کِتاب دلته ما سره دے چې خِلقياه ما له راکړے دے.“
او هغهٔ بادشاه ته د دې تلاوت وکړو. ۱۹ کله چې بادشاه
هغه کِتاب واورېدو، نو هغهٔ د خفګان نه خپلې جامې
وشلولې. ۲۰ او هغهٔ خِلقياه، د سافن زوئ اخيقام، د ميکاياه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوئ عبدون، د دربار منشي سافن او د بادشاه مدد کوونکی
عسایاه له دا حُکم ورکړو، ٢١ "لاړ شئ او د مالِک خُدائ
سره زما او د هغه خلقو دپاره مشوره وکړئ چې هغوئ بیا
هم په اِسرائیل او یهوداه کښې پاتې کیږی. د دې کِتاب
تعلیمات معلوم کړئ. مالِک خُدائ مونږ ته غصه دے ځکه
چې زمونږ پلار نیکهٔ د مالِک خُدائ کلام نهٔ دے منلے او هغه
کار یې نهٔ دے کړے چې د کوم په حقله دا کِتاب فرمائی چې
خامخا دې وکړے شی." ٢٢ د بادشاه په حُکم، خِلقیاه او
نور لاړل چې د یوې ښځې سره مشوره وکړی چې نوم یې
خُلده وو، دا پېغمبره د یروشلم په نوې حِصه کښې اوسېده. د
هغې خاوند سلوم، د توقهت زوئ او د خسره نمسے وو،
سلوم د مالِک خُدائ د کور د جُوغو مشر وو. چې څهٔ شوی
وُو نو هغوئ ورته هغه بیان وکړو، ٢٣ او هغې ورته ووئیل
چې واپس بادشاه له لاړ شئ او ورته ووایئ ٢٤ چې د مالِک
خُدائ نه دا پېغام راغلے دے، "زهٔ به په یروشلم او د دې په
ټولو خلقو افت راولم چې په کښې به هغه ټول لعنتونه وی چې
په هغه کِتاب کښې لیکلے شوی دی کوم چې بادشاه ته بیان
شو. ٢٥ هغوئ زهٔ رد کړے یم او نورو معبودانو ته یې
نذرانې پېش کړې دی او دوئ چې دا هر څهٔ کړی دی د هغې
په وجه یې زما غصه راپارولې ده. زما غصه د یروشلم خِلاف
راوچته شوې ده او دا به کمه نهٔ شی." ٢٦ خو د یهوداه هغه
بادشاه له واپس ورشه چا چې د مالِک خُدائ سره د مشورې
دپاره رالیږلے یې او هغهٔ ته ووایه چې، "مالِک خُدائ د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک د هغه پېغام په حقله داسې فرمائی چې تا
اوس اوس واورېدو، ٢٧ نو تهٔ پښېمانه شوې او د خُدائ
پاک په حضور کښې دې خپل ځان عاجز کړو، کله چې تا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واورېدل چې هغهٔ د دې ځائ او خلقو خلاف خبرې وکړې.
کله چې تا خپل ځان زما د وړاندې عاجز کړو او خپلې جامې
دې وشلولې او زما په حضور کښې وژړل، نو ما ستا دعا
واورېدله، مالِک خُدائ فرمائی، ۲۸ او زهٔ چې يروشلم له
کومه سزا ورکوم هغه به تر هغه وخت پورې نهٔ راځی چې
ترڅو تهٔ مړ شوے نهٔ يې. او زهٔ به تا پرېږدم چې په سلامتئ
سره مړ شې.“ نو هغه سړی د دې پېغام سره يوسياه بادشاه
ته راواپس شول.

## د يوسياه د مالِک خُدائ سره د لوظ نوی کول

۲۹ يوسياه بادشاه د يهوداه او يروشلم ټول مشران راغونډ
کړل، ۳۰ او هغوئ په يو ځائ د مالِک خُدائ کور ته لاړل،
چې اِمامان او ليويان او ټول خلق، مالداره او غريبانان په
کښې شامل وُو. بادشاه د هغوئ ټولو په مخکښې د لوظ د
هغه کِتاب تلاوت وکړو، کوم چې د مالِک خُدائ په کور
کښې موندلے شوے وو. ۳۱ هغه د شاهی ستنې سره ولاړ
وو او د مالِک خُدائ سره يې يو لوظ وکړو چې د هغهٔ
تابعداری به کوی او د زړهٔ د اخلاصه د هغهٔ قانون او
حُکمونه به منی او هغه مطالبې به پوره کوی کومې چې د دې
لوظ سره تړلې دی، هم هغه شان چې څنګه په هغه کِتاب
کښې ليکلے شوی دی. ۳۲ هغهٔ د بنيامين خلق او د يروشلم
خلق هم هغه لوظ ته مجبور کړل. نو د يروشلم خلقو د لوظ
هغه مطالبې ومنلې کوم لوظ چې هغوئ د خپل پلار نيکهٔ
خُدائ پاک سره کړے وو. ۳۳ نو يوسياه بادشاه هغه ټول
حرام کاره بُتان تباه کړل کوم چې د اِسرائيل په علاقه کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤو او چې ترخو پورې هغه ژوندے وو، نو هغوئ د مالِک
خُدائ د هغوئ د پلار نيکۀ خُدائ پاک نه نۀ اوړېدل.

## د يوسياه د فسحې اختر کول

**۳۵** ١ يوسياه بادشاه په يروشلم کښې د مالِک خُدائ د
درناوی دپاره د فسحې اختر وکړو، د وړومبی مياشتې په
څوارلسمه ورځ هغوئ د اختر دپاره ګډُوری حلال کړل. ٢
هغۀ اِمامانو ته هغه ذمه واری حواله کړې کومې چې هغوئ د
مالِک خُدائ په کور کښې کولې او د هغوئ حوصله افزائی
يې وکړه چې دا په ښۀ طريقه کوی. ٣ هغۀ د بنی اِسرائيلو
اُستاذانو يعنې هغه ليويانو ته هم دا اصُول وښودل، چې هغوئ
مالِک خُدائ ته وقف شوی ؤو، "د لوظ صندوق د مالِک
خُدائ په هغه کور کښې کېږدئ کوم چې د داؤد زوئ سليمان
بادشاه جوړ کړے دے. تاسو به نور دا يو ځائ نه بل ځائ ته
نۀ وړی، خو تاسو به د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک او د
هغۀ د خلقو بنی اِسرائيلو خِدمت کوئ. ۴ د ډلو په مطابق
او د هغه ذمه وارو په مطابق په خپلو ځايونو باندې تيار
ودرېږئ، کومې چې درته داؤد بادشاه او د هغۀ زوئ سليمان
بادشاه حواله کړی دی، ۵ او خپلو ځانونو له داسې ترتيب
ورکړئ چې تاسو موجود يئ نو چې د بنی اِسرائيلو د هر
خاندان مدد وکړئ. ۶ تاسو به د فسحې د اختر ګډُوری او
چېلی حلال کړئ. اوس خپل ځانونه پاک کړئ او د دې دپاره
قربانئ تيارې کړئ چې ستاسو بنی اِسرائيليان هغه اصُول
ومنی کوم چې مالِک خُدائ د موسیٰ په ذريعه ښودلی دی."
٧ د فسحې د اختر دپاره يوسياه بادشاه خلقو له د خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځاروو او رَمو نه دېرش زره ګډان، ګډُورى او د چېلو بچى او
درې زره غوَيى ورکړل. ۸ د هغهٔ آفسرانو په خپله خوښه
خلقو، اِمامانو او د ليويانو د استعمال دپاره هم ځناور
ورکړل. او د مالِک خُدائ د کور مشرانو آفسرانو، مشر اِمام
خِلقياه، زکرياه او يحىايل اِمامانو له دوه زره او شپږ سوه
ګډُورى او د چېلو بچى او درې سوه غوَيى ورکړل چې په
اختر کښې قربانى شى. ۹ د ليويانو مشرانو، کنعنياه، او د
هغهٔ ورونړه سمعياه او نتنىايل، او ورسره حسبياه، يعىايل او
يوزبد پينځهٔ زره ګډُورى او د چېلو بچى او پينځهٔ سوه غوَيى
ليويانو له ورکړل چې د فسحې په اختر کښې يې قربانى کړى.
۱۰ کله چې د فسحې اختر دپاره هر څهٔ تيار شول، نو
اِمامان او ليويان د بادشاه د حُکم په مطابق په خپلو ځايونو
ودرېدل. ۱۱ کله چې ګډُورى او چېلى حلال کړے شول، نو
اِمامانو په قربانګاه باندې وينه وشيندله او ليويانو د هغې نه
څرمنې وويستلې. ۱۲ بيا هغوئ ځاروى د سوزېدونکې
نذرانې دپاره د کورَنو د ډلو په مطابق په خلقو باندې تقسيم
کړل، نو هغوئ دا د موسىٰ د شريعت د اصُولو په مطابق
پېش کړل. ۱۳ ليويانو د اصُولو په مطابق د فسحې اختر
قربانى په اور وريتې کړې او مقدسې نذرانې يې په لوښو
کښې، ديګونو او پَتيلو کښې ويشولې او غوښه يې زر زر په
خلقو باندې تقسيم کړه. ۱۴ د دې کېدو نه پس، ليويانو د
خپل ځان دپاره او د هارون د اولاد اِمامانو دپاره د غوښې
بندوبست وکړو، ځکه چې اِمامان د سحر نه واخله تر ماښام
پورې مصروف وُو او د قربانو وازګه او هغه ځاروى يې
سوزول چې په پوره توګه سوزولے شول. ۱۵ د ليوى قبيلې
د آسف د قبيلې دا موسيقاران په هغه ځايونو کښې وُو کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغوئ ته د داؤد د اصُولو په مطابق حواله شوی وُو،
آسف، هيمان او د بادشاه پيغمبر يدوتون. د مالِک خُدائ د
کور د دروازو څوکيدارانو ته د خپلو ځايونو نه د تلو
ضرورت نۀ وو، ځکه چې نورو ليويانو د هغوئ دپاره د
فسحې اختر تيار کړے وو. ۱۶ څنګه چې يوسياه بادشاه
حُکم کړے وو نو په هغه ورځ د مالِک خُدائ د عبادت دپاره
او د فسحې اختر کولو دپاره او په قربانګاه باندې د
سوزيدونکې نذرانې سوزولو دپاره هر څۀ شوی وُو. ۱۷ کوم
بنی اِسرائيليان چې موجود وُو نو هغه ټولو اووۀ ورځې د
فسحې اختر او د پتيرې روټۍ اختر وکړو. ۱۸ د سموئيل
پېغمبر د وخت نه د فسحې اختر دغه شان نۀ وو شوے. په
پخوانو بادشاهانو کښې يو کس کله هم د فسحې داسې اختر
نۀ وو کړے، چې کوم يوسياه بادشاه، اِمامانو، ليويانو او د
يهوداه، اِسرائيل او د يروشلم خلقو وکړو. ۱۹ د يوسياه د
بادشاهۍ په اتلسم کال داسې وشول.

## د يوسياه د بادشاهۍ ختمېدل

۲۰ کله چې يوسياه بادشاه د مالِک خُدائ کور دپاره دا هر
څۀ وکړل، نو د مِصر بادشاه نِکوه يو لښکر روان کړو چې د
فرات په سيند په کرکميس کښې جنګ وکړی. او يوسياه د
هغۀ خِلاف د جنګ کولو دپاره راووتلو، ۲۱ خو نِکوه يوسياه
له دا پيغام ولېږلو، ”د يهوداه بادشاه دا جنګ چې زۀ کوم د
دې تعلق تا سره نشته. زۀ تا سره جنګ کولو دپاره نۀ يم
راغلے، زۀ د خپلو دشمنانو سره د جنګ کولو دپاره راغلے
يم او خُدائ پاک راته فرمائيلی دی چې تيز لاړ شه. خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک زما مل دے، نو زما مخالفت مۀ کوه، ګني هغه به تا تباه
کړی.“ ۲۲ خو خُدائ پاک چې د نِکوه فِرعون په ذريعه څۀ
وفرمائيل نو يوسياه هغې ته غوږ نۀ کېښودو، نو هغۀ خپل
شکل بدل کړو او د مِجدو په مېدان کښې د جنګ دپاره لاړو.
۲۳ د جنګ په دوران کښې يوسياه بادشاه د مِصريانو په
غشو باندې ولګېدو. هغۀ خپلو نوکرانو له حُکم ورکړو، ”ما د
دې ځائ نه بوځئ، زۀ سخت زخمی شوے يم.“ ۲۴ هغوئ
هغه د خپل جنګی ګاډی نه اوچت کړو او چې هلته د هغۀ
کومه دوېمه جنګی ګاډۍ وه په هغې کښې يې واچولو او
يروشلم ته يې يوړو. هلته هغه مړ شو او په شاهی اديره کښې
ښخ کړے شو. د يهوداه او يروشلم ټولو خلقو د هغۀ په مرګ
باندې د غم ژړا وکړه. ۲۵ يرمياه پېغمبر د يوسياه بادشاه
دپاره يوه د غم سندره جوړه کړه. نو د اِسرائيل په مُلک کښې
د سندرغاړو، نارينۀ او زنانۀ دواړو دا يو رِواج جوړ شو،
چې کله به هغوئ د هغۀ دپاره د غم ژړا کوله نو دا سندره به
يې وئيله. دا سندره د مرثيو په کِتاب کښې ليکلے شوې ده.
۲۶ يوسياه چې نور هر څۀ هم کړی وُو، مالِک خُدائ ته د
هغۀ وقف کېدل، د هغۀ د شريعت تابعداری، ۲۷ او د اول نه
واخله تر آخره پورې د هغۀ تاريخ دا هر څۀ د اِسرائيل او
يهوداه په تاريخ کښې ليکلے شوی دی.

## د يهوداه بادشاه يهوآخز

# ۳۶

۱ د يهوداه خلقو د يوسياه زوئ يهوآخز خوښ کړو
او په يروشلم کښې يې بادشاه جوړ کړو. ۲ يهوآخز د
درويشتو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه شو او درې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میاشتې یې په یروشلم بادشاهی وکړه. ٣ د مِصر بادشاه
نِکوه هغه قېدی کړو او د یهوداه خلق یې دې ته مجبور کړل
چې درې زره او څلور سوه کلو سپین زر او څلور دېرش کلو
سرهٔ زر محصُول ورکوی. ٤ نِکوه اِلیاقیم د یهوداه بادشاه
جوړ کړو چې هغه د یهوآخز ورور وو او د هغهٔ نوم یې
یهویقیم ته بدل کړو. نِکوه یهوآخز مِصر ته بوتلے وو.

## د یهوداه بادشاه یهویقیم

٥ یهویقیم د پینځویشتو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه
شو او هغهٔ په یروشلم باندې یوولس کاله بادشاهی وکړه. هغهٔ
د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک خِلاف ګناه وکړه. ٦ د
بابل بادشاه نبوکدنضر په یهوداه حمله وکړه، یهویقیم یې
ونیولو او بابل ته یې په زنځیرونو کښې بوتلو. ٧ نبوکدنضر
د مالِک خُدائ د کور څهٔ خزانې یوړې او په بابل کښې یې په
خپل محل کښې کېښودې. ٨ یهویقیم چې هر څهٔ هم کړی
وُو، سره د هغهٔ د خرابو رسمونو او چې هغهٔ کوم حرام
کارونه کړی وُو، هغه د اِسرائیل او د یهوداه د بادشاهانو په
تاریخ کښې لیکلے شوی دی. نو د هغهٔ زوئ یهویاکین د هغهٔ
نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه یهویاکین

٩ یهویاکین د اتلسو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه شو
او هغهٔ په یروشلم درې میاشتې او لس ورځې بادشاهی وکړه.
هغهٔ هم د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه. ١٠ کله چې
سپرلے شو، نو نبوکدنضر بادشاه یهویاکین بابل ته قېدی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بوتلو او د مالِک خُدائ د کور خزانې یې یوړې. بیا نبوکدنضر
د یهویاکین ترۀ صدقیاه د یهوداه او یروشلم بادشاه جوړ
کړو.

## د یهوداه بادشاه صدقیاه

١١ صدقیاه د یوویشتو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه
شو او په یروشلم یې یوولس کاله بادشاهی وکړه. ١٢ هغۀ د
مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه او د یرمیاه پېغمبر خبرې یې
په عاجزۍ سره وانۀورېدلې، چا چې د مالِک خُدائ خبرې
کولې.

## د یروشلم تباهی

١٣ صدقیاه د نبوکدنضر بادشاه خِلاف بغاوت وکړو، اګر
چې هغۀ د خُدائ پاک په وړاندې دا لوظ کړے وو چې د
نبوکدنضر وفادار به وی. هغه د خپل ضد په وجه نۀ توبه ګار
کېدو او مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک یې څۀ
پرواه نۀ ساتله. ١۴ د دې نه علاوه، د یهوداه لار ښوونکی
اِمامان او خلق د بُتانو په عبادت کښې د هغوئ نه ګېرچاپېره
ګناهګارو قومونو په نقش قدم باندې روان ؤُو او د هغوئ په
شان حرام کارونه یې وکړل، هغوئ د مالِک خُدائ هغه کور
ناپاک کړو کوم چې مالِک خُدائ په خپله مقدس کړے وو.
١۵ مالِک خُدائ د هغوئ د پلار نیکۀ خُدائ پاک د خپلو
خلقو د خبردارۍ دپاره پېغمبران رالېږل، ځکه چې خُدائ
پاک غوښتل چې هغوئ او خپل کور بچ کړی. ١۶ خو
هغوئ د خُدائ پاک په پېغام وړونکو پورې ټوقې وکړې، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ خبرو ته يې توجو ورنۀ کړه او د هغۀ په پېغمبرانو پورې
يې خندا وکړه، تر دې پورې چې د مالِک خُدائ غصه د هغۀ
د خلقو خِلاف دومره زياته شوه چې د هغې نه د خلاصون لار
نۀ وه. ١٧ نو مالِک خُدائ د بابل بادشاه راوستو چې په
هغوئ حمله وکړی، تر دې چې د مالِک خُدائ په کور کښې
هم هغۀ د يهوداه زلمی ووژل. هغۀ په ځوان يا بوډا، په نر يا
ښځه، بيمار يا روغ په هيچا هم رحم نۀ کولو. خُدائ پاک
هغوئ ټول ورته حواله کړل. ١٨ د بابل بادشاه د مالِک
خُدائ کور، د دې خزانې او د بادشاه او د هغۀ د آفسرانو
دولت لوټ کړو او هر څۀ يې بابل ته يوړل. ١٩ هغۀ د مالِک
خُدائ کور او ښار، سره د دې ټولو محلونو او دولت
وسوزولو او د ښار دېوال يې راوغورزولو. ٢٠ هغۀ ټول
ژوندی پاتې کسان بابل ته بوتلل، چرته چې هغوئ او د هغوئ
اولاد تر هغې پورې د نوکرانو په توګه د هغۀ خِدمت کولو چې
د فارس حکومت را اوچت شوے نۀ وو. ٢١ د يرمياه
پېغمبر په ذريعه چې د مالِک خُدائ کوم پېغام اورولے
شوے وو نو هغه پوره شو چې، "اويا کاله به هغه زمکه شاړه
پرته وی، ځکه چې هغې د سبت آرام نۀ وو کړے."

## د خورس بنی اِسرائيلو له د واپس کېدو حُکم ورکول

٢٢ د فارس د خورس بادشاه د بادشاهۍ په وړومبی کال
مالِک خُدائ هغه څۀ رښتيا کړل چې څۀ يې د يرمياه پېغمبر
په ذريعه فرمائيلی ؤو. هغۀ د خورس حوصله افزائی وکړه
چې دا حُکم جاری کړی او د خط په شکل کښې د هغۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهۍ هر ځائ ته ولېږلے شی او بیان شی: ۲۳ ”دا د
فارس د خورس بادشاه حُکم دے. مالِک خُدائ، د آسمان
خُدائ پاک زهٔ په ټوله دُنیا باندې حکمران جوړ کړے یم او
ما له یې دا ذمه واری راکړې ده چې د هغهٔ دپاره د یروشلم په
یهوداه کښې یو کور جوړ کړم، نو تاسو ټول څوک چې د
خُدائ پاک خلق یئ، هلته ځئ او مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک دې ستاسو مل شی.“